کالګنه

مورچل

د دویمې پیړۍ په دریم کال کې!!

مورچل

دیارلسم کال، پرلپسې ۱۳۶مه کګنه،
ربیع الثاني ۱۴۴۱هـ ق، دسمبر ۲۰۱۹م

امارت اسلامی

نظام اسلامی راحاکم ساخت

په مذاکراتي بهیر کې

کابل رژیم ته ولې اعتناء نه کیږي؟!

جان بس ته مډال:

مړ څټ او بوڅې شوندې

د سیمې پر امنیتي وضعیت

د قاسم سلیماني د وژنې اغیز

مورچل

علمي، سیاسي
او جهادي میاشتنۍ خپرونه

دیارلسم کال دولسمه، پرلپسې ۱۳۶مه ګڼه،
ربیع الثاني ۱۴۴۱هق دسمبر ۲۰۱۹م

لړلیک

ګڼه	مطلب	مخ
۱	سرمقاله	۱
۲	د سیمې پر امنیتي وضعیت د سلیماني دوژنې اغېز	۲
۳	جان بس ته مډال: مړ څټ او بوځې شونډې	۳
۴	په مذکراتي بهیر کې کابل رژیم ته ولې اعتنا نه کوي	۶
۵	اوربند وي او کنه، له افغانستانه وتل پکار دي؟	۸
۶	دامریکا اوسني جنګي جنون اوبدعزائم به نړۍ ولړزوي	۱۰
۷	سرنوشت تاریک مسلمانان هند	۱۲
۸	پرخپله بلواکۍ د کابل اداري دمشرانو اعترافات	۱۶
۹	په ښاري سیمو کې دجهادي بریدونو مشروط کموالی	۱۷
۱۰	امارت اسلامی نظام اسلامي را حاکم ساخت	۱۹
۱۱	که امریکا له مذاکراتو وتښتي پایله به څه وي؟	۲۳
۱۲	د امریکایي ولس نظر او د حکومت جارحانه تګلاره	۲۷
۱۳	نړیوال دې خپل خیر نور دافغانانو په خیر کې ولټوي	۳۱
۱۴	په ۲۰۱۹ کال کې د ملکي تلفاتو او زیانونو څو بېلګې	۳۴
۱۵	طالبان ولې له امریکایانو سره خبرو ته لومړیتوب ورکوي	۴۱
۱۶	د اسلام غزوات او سرایا	۴۴
۱۷	جهاد که جګړه؟ توپیر، مفاهیم، ډولونه او اسباب	۴۹
۱۹	کولالمپور کانفرانس ، هیلې او اندېښنې	۵۲
۲۰	د دوو ژورنالستانو لنډه پېژندنه او پرتله	۵۶
۲۱	ډورن ویشتلی شیخ الحدیث مولوي عبدالباقي رحمه الله	۶۰
۲۲	د شهید مولوي محمدالله فاروقي ژوند ته کتنه	۶۳
۲۳	جنګي جنایتونه (دسمبر)	۶۷
۲۴	د مورچل وړمې	۷۰
۲۵	د۲۰۱۹م کال د دسمبر میاشتې جهادي خبرونه	۷۲

د امتیاز خاوند

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر

صلاح الدین "صارم"

کتنپلاوی

ایوب صافی | حکمت
معین احمد | حافظ سعید
حسن زوی | موسی فرهاد

تخنیکي چارې

دفرهنګي کمیسیون تخنیکي څانګه

مکاتباتي ادرس

پته: کابل ښار، پنځمه حوزه، دمجلې دفتر
E-mail: morchalmorchal@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحيم

مورچل

د دويمې پېړۍ په دريم کال کې!!

هو! د دويمې پېړۍ دريم کال! څکه په مطبوعاتي ډګرکې د يوې مياشتنۍ مجلې سل ګڼې پوره کېدل يوه بشپړه مطبوعاتي پېړۍ ده، دلته چې په چاپي رسنيوکې د دوولسمې ګڼې له چاپ سره دکالګڼې تجليل او لمانځنه دود ده،نو ښکاره ده چې يوې رسنۍ ته له سلمې ګڼې تېرېدل او ۱۳٦ مې ګڼې ته رسېدل ورته امتياز دی .

د۲۰۱٦م کال د دسمبر په مياشت کې دمورچل اداري سلمه ګڼه دغه پراو ته په رسېدو په ښه شان ولمانځله او په همدې نسبت ورته خورا اختصاصي ليکنې شوې وې، له دغې سلمې ګڼې راوروسته يې (د دويمې مطبوعاتي پېړۍ) کالګڼې له سره پيل کړې، په دې معنې چې د (۱۰٦) مې په ځای يې (۱۱۲) ګڼه کالګڼه شوه، په لاس کې ګڼه مو د دويمې مطبوعاتي پېړۍ دريمه کالګڼه ده .

دمورچل دمحتوا اعظمي برخه جهادي رزمي خبرونه تشکيلوي، چې دهيواد دهيڅ کونج او سيمې خبر ترې نه پاتې کيږي او په پوره امانت يې ساتي، په همدې نسبت مورچل زمونږ راتلونکي نسل ته د رازونو خزانه او د جهادي موادو معتمد ارشيف دی. دافغانستان اسلامي امارت دفرهنګي چاروکميسيون ځانګړې پاملرنه او دمورچل د دايمي همکارانو هڅې دي چې مورچل پرې تازه دی او دحق په دفاع کې ترې دحق نعرې پورته کيږي . مورچل به په هيواد کې داسلامي نظامی تر حاکميته له خپلې داعيې دفاع کوي اوپه دې لار کې به زماني واټن ورته وروستی حد نه وي . ان شاءالله

د سيمې پر امنيتي وضعيت

د قاسم سليماني د وژنې اغېز

احمد مختار

د روان هجري شمسي کال د جدي د مياشتې په (۱۳) مه نېټه د ايران د انقلاب ساتونکو د قدس ځانګړي ځواک مشر جنرال قاسم سليماني په بغداد کې د امريکايي ډرون الوتکې په برید کې ووژل شو.

د امريکا د کانګريس له موافقې پرته د امريکايي ولس مشر ټرمپ په امر جنرال قاسم سليماني په داسې حال کې وژل کيږي چې تر بل هروخت د امريکا اوايران ترمنځ په سيمه کې امنيتي وضعيت بحراني دی.

سره له دې چې ولسمشر ټرمپ د بيا ځلی ولسمشر کېدو لپاره په خپلو تبليغاتي څرګندونو کې ويلي چې دی کوښښ کوي نور په سيمه کې د امريکايي موجوديت په اړه حساسيتونه کم او له بهر څخه ډير امريکايي سرتيري خپل هيواد ته راستون کړي خو په داسې لا ابالي ډول د هغه لخوا د سليماني وژنه دا څرګندوي چې ټرمپ نورهم د سيمې د مزيد بې ثباتۍ کولو په لټه کې دی.

د عراق په خاوره کې د سليماني د وژنې په لومړني غبرګون کې د عراق پارلمان په خپلې وروستۍ غونډې کې له خپل هيواد څخه د امريکايي ځواکونو په ايستلو رايه ورکړه.

د دې ترڅنګ د لبنان د حزب الله ډلې مشر حسن نصر الله هم د سليماني د وژنې په انتقام کې له ټول منځنۍ ختيځ څخه د امريکايي سرتيرو د ايستلو ګواښ کړی ، او په خبره يې که هغوی په خپله خوښه ونه وزي نو دوی به يې په زور وباسي.

په منځنۍ ختيځ کې د ځلورو مهمو هيوادونو عراق، سوريې ، لبنان او يمن پوځي او استخباراتي ځواک اوس عملا له ايران سره دی او دغه ټول هغه هيوادونه دي چې په سيمه

کې له خلیجي امریکا پلوه هیوادونو سره ګډې پولې لري.

ایران که وغواړي د خپل وژل شوي جنرال قاسم سلیماني غچ له امریکایي سرتیرو څخه واخلي هغه به حتما په همدې سیمه کې اخلي چې خامخا به ورسره د یادو هیوادونو امنیتي حالت نورهم نا امنه کیږي.

په تېر سپتمبر کې چې د سعودي په بقیع سیمه کې د آرامکو نفتي کمپنۍ تأسیسات د یمني حوثیانو لخوا په نښه شول په دې سره په نړیواله کچه د نفتو نرخونه لوړ شول.

هغه مهال امریکایي او سعودي چارواکو تهران پر دې تورن کړ چې دا کار د یمن حوثیانو د ایراني مسؤلینو په دستور تر سره کړی.

اوس چې امریکایانو په یوه داسې پوځي اقدام سره کوم چې د هغه په اړه خپله د دوي د تصمیم نیونې مراجع هم په یوه خوله نه دي د ایران تر تولو مهم پوځي مشر په نښه کړل خامخا به ایران په یمن، عراق او سوریه کې خپل انتقام له میشتو امریکایي ځواکونو څخه اخلي او په دې سره به خامخا پر شته تاوتریخوالي د امریکا او ایران د مواجهې اثرات نورهم ور زیاتیږي او منطقه به ورسره په پوځي، امنیتي او اقتصادي لحاظ لا ورسره بې ثباته کیږي.

په سیمه کې د امریکا او ایران مقابلې ته په کتو سره لیدل کیږي چې تر اوسه د هغوی تول ترکیز د منځنۍ ختیځ پر هیوادونو متمرکز دی، خو که دا مقابله نوره هم غځیږي اوتودیږي اغیزې به یې له منځني ختیځ وتلي هیوادونه هم اغیزمن کوي.

په افغانستان کې امریکایي اشغال لا له وړاندې دیته زمینه مساعده کړې چې دا هیواد د نړیوالو او سیمه ییزو هیوادونو د پوځي او استخباراتي مسابقاتو ډګر اووسي.

اوس که د جنرال قاسم سلیماني د قتل په غبرګون کې په منطقوي سطحه د ایران غبرګون بدول کیږي افغانستان به په هیڅ صورت د هغه له منفي اغیزو څخه خلاص نه وي، ځکه امریکایانو په لوی لاس د کابل د تحت الحمایه رژیم په چوکاټ کې ایران پلوه عناصر داسې پرسولي چې اوس هغوی په بالقوه تهدیدي ګواښ بدل شوي.

داعش چې د سیمې د بې ثباتي لپاره د امرکا یوه تخریبي پروژه وه هم په افغانستان کې یې د امریکایي اشغال تر سیوري لاندې نما وکړه او افغانانو ته یې ستونزې جوړې کړې.

اوس هم هماغه د داعش اجرتي جنګیالي د امریکایانو په دستور د کابل رژیم په دولتي تشکیلاتو کې مدغم شوي.

هغوی د ناروغه معتادینو په څېر اوس فقط د وسائلو په توګه د هرچا لخوا د هر چا په خلاف کاریدلای شي.

چې د امریکا او ایران په روانه لانجه کې یې هم ابزاري رول له پامه نشي غورځیدلای.

جان بس ته مډال:
مړ څټ او بوڅې شونډې

حبیب مجاهد

نن د ۲۰۱۹ م کال د ډسمبر دیرشمه ده، یو بل کال پای ته ورسېد. اراده مې وه د تیر کال پېښو ته د کتنو په لړ کې نن د جنګي جرائمو برخې ته سر ورښکاره کړم. تېر کال له سختو ناخوالو ډک و. کله وویلم داسې شپه به نه وي سهار شوې، چې د بېچاره افغانانو څو کورونو دې نه وي وران شوي، په څو کلیو دې د چاپې محشر نه وي تېر شوی، څو زلمیان دې د چاپه مارو لخوا نه وي وژل شوي او د څو میرمنو زیورات دې نه وي غلا شوي. د دې ټولو پېښو لیکل د یو منظم تحقیقاتي تیم کار دی. البته ما هڅه کوله د خپل توان تر حده له ځینو رسنیز شویو معلوماتو په استفاده یې څو نمونې د تاریخ حافظې ته وسپارم.

زه په تېر کال کې پر افغان اولس د امریکایي جنایاتو په راټولولو سرګردانه وم، چې کړپ شو په انټرنټ کې خبر او انځور مخې ته راغی وایي: اشرف غني د امریکا سفیر جان بس ته د وزیر اکبر خان مډال وروټومبه... خبر راته جالب و او ورسره نشر شوی انځور جالبتر... انځور ته مې دقیق وکتل... اشرف غني ځورند څټ نیولی و، په داسې حال کې امریکایي سفیر ته په مډال ټومبلو بوخت و، په ځیره یې د ذلت او محکومیت علائم څرګند و، بالمقابل د امریکا سفیر جان بس چې نیغ اورمیږ ولاړ و شونډې یې داسې بوڅې کړې وې لکه په کوم (څه) یې چې پوزخند وهلی وي او یا د کوم (څه) په اړه ورغلې خندا یې په تکلف را ایساره کړې وي.

زما په همدې (څه) کې چورت بند شو، د مډال ټومبلو د مجلس انځورونه مې وکتل. ټول په خپلو ځایونو ناست و، اشرف غني ته نږدې د ارګ مقربین، له غربه راغلې سګشویان او تامیان ناست ورپسې ښځې خو د ضیاء الحق امر خیل او اسدالله غضنفر په څیر وطني اردلیان یې تر ښځو آخوا کینولي وو، په یوه انځور کې اسدالله غضنفر ښکاري چې د مډال فرمان لولي. په زړه کې راوګرځیدل، شاید جان بس بخ همدې ته موسیدلی وي. غضنفر ګوره او د درباري فرمانونو دیکلمه؟؟ د مشر پسرلي صاحب چې له کوم څه بد کیدل هغه سیاست او سیاسي درباروونه و، مګر خبر نه و چې تر ټولو خلف زوی به یې د یوه بدنام دربار د فرمانونو دیکلماتور وي. د تاریخ دا نامتصور واقعیت یې له شکه د تحیر وړ دی.

خو د جان بس په بوځو شوندو او معنی داره موسکا کې مې چورت بند و، تر دې چې د تېر کال د وقائعو د پلتنې په لړ کې هغه راپور په مخه راغی چې په دغه کال کې یې د جان بس د پوځیانو (امریکایانو) او د هغوی په میړوي غورځیدونکو (سپیشل فورس، صفر یک، صفر دو او نورو چاپه مارو) د وحشت او ظلم داستان را خلاصه کړی و.

تېر کال واقعا د منظمو مظالمو او عمدي قتل عامونو له درکه استثنایي کال وو. د تېر کال په تورو شپو کې د تورو تروړمیو تر وزر لاندې زمونږ په بیچاره اولس، د ظلم هغه تورې میچنې وچلیدې، چې زمونږ معاصر تاریخ یې بیلګه نلري. د غم او دوک دغه داستان د مظلوم اولس د تورسرو، سپین روبو او ماشومانو په زړونو کې همداسې محصور پاته دی. یوازې الله تعالی په ټول هغه څه خبر دی چې تېر کال په نیمو شپو د دې وطن له بیچاره کلیوالو سره وشول.

په دې راپور کې د تېر کال د چاپه مارو مظالمو ته په مختصر ډول کتنه شوې چې په یوه برخه کې یې راغلې: د دقیقې احصائیې له مخې په تیر کال کې د امریکایانو او ګوډاګیانو لخوا ۸۷۰۷ تنه افغانانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده. چې له دې جملې ۵۴۲۳ تنه ولسي وګړي د دښمن لخوا په قصدي ډول شهیدان شوي او ګڼ نور ټپیان شوي دي.

له بې رحمانه وژنو او قتلونو علاوه په تېر کال کې د چاپه په مهال (۱۰۲) مساجد په بمونو منفجر یا په بمبار کې تخریب شوي او د (۱۴) مساجدو دروازې یې په بمونو الوزول شوي دي. (۱۸) بابه مکاتب، (۲۰) بابه صحي کلینیکونه (۱۶۵۰) د عامو خلکو کورونه او (۱۱) بابه دیني مدارس د عسکرو لخوا په بمونو منفجر او قصدا تخریب شوي دي. دغه راز د (۶۲۷) کورونو او دکانونو دروازې منفجر شوې دي او زیانونه ورته رسیدلي دي، له دې علاوه (۲) هوټلونه، (۲۸۱) واړه او غټ عراده جات، (۱۷۱۹) بابه دکانونه، (۱۱۰۲) عرادې موټرسائیکلان د چاپه وهونکو امریکایانو او ګوډاګیانو لخوا سوځول شوي او سلګونه ځاروي، د (۲۶۰) آبي منابعو لمریزې هندارې اودخلکو له کورونو په ملیونونو نقدې افغانۍ عسکرو لوټ کړي دي، دغه راز د نیویارک او واشنګټن ځوکیدارانو دبې دفاع اوبې وزله هېوادوالو (۴۲) د غنمو او وربشو درمندونه هم قصداً سوځولي دي او...

په راپور کې مې چې د منظم او قصدي وحشت دغه لوړ ارقام او د ملکي تلفاتو لوړ حجم ولید، ایله مې د جان بس په معنی دار پوزخند سر خلاص شو... جان بس چې اشرف غني یې د افغانستان د واکمن په صفت په سینه مډال ټومبي شاید دغه وخت یې د خپلو پوځیانو ظالمانه کردار په ذهن کې تېر شوی وي او اشرف غني ته به یې په زړه کې دا خبره را غونډه شوي وي، چې نفرین ستاسو په وجدان او سرېتوب. موږ مو اولس درست کړ، سلګونه مساجد او مدارس مو در رنګ کړل او د ظلم هر ورځ چې میچنې مو په افغان ولس وچلولې او تاسو لګیا یاست شاباسۍ او مډالونه هم راکوئ.

په مذاکراتي بهیر کې

کابل رژیم ته ولې اعتناء نه کیږي؟!

معین احمد (معین)

د طالبانو او امریکایانو ترمنځ په مذاکراتي بهیر کې د طالبانو ټول ترکیز په دې نقطه باندې دی چې له اشغال سره د تړلیو ټولو مواردو په اړه هرډول توافق باید له امریکایانو سره وشي.

ځکه د افغانستان ځمکنی تمامیت د هغوی له لوري نقض شوی، د اسلامي امارت حاکم نظام د هغوی لخوا رنګ کړل شوی او پر افغان ولس ټول موجود مشکلات او ناورینونه د هغوی لخوا راغلي.

کابل رژیم او د هغه ټول مکونات، په اصطلاح ولسمشر، کابینه، ولسي جرګه او نور ټول دولتي مسؤلین د ابزاري وسائلو په توګه د اشغالګرو امریکایانو لخوا د اسلامي امارت او افغان ولس خلاف کارول کیږي.

یعني د هیواد په روانه لانجه کې د رژیم رول ثانوي او ابزاري دی، نه اولي او محوري هغه.

د رژیم چارواکي چې همدا اوس په کومو دولتي مناصبو نصب کړل شوي په نصبولو کې یې اصلي رول د واشنګټن دی.

همدا راز هغوی چې نن د اسلامي امارت خلاف جنګول کیږي په خپل قناعت او اختیار نه جنګیږي ؛ بلکې د امریکایي مصالحو لپاره د هغوی په مادي اجرت جنګول کیږي.

د بیلګې په توګه حامد کرزی چې د همدې امریکایانو په دستور پر افغانانو تحمیل او پوره څوارلس کاله د کابل تحت الحمایه

رژيم د مشر په توګه د اسلامي امارت په خلاف وکارول شو تر امريکايي اشغال وړاندې داسې يوځوک و چې غوښتل يې د اسلامي امارت په سياسي نماينده ګې کار وکړي.

او هماغه کرزی چې پوره ۱۴ کاله د ده تروا کمنې لاندې د ده د رژيم ټول پوځي او امنيتي تشکيلات د اسلامي امارت خلاف جنګيدل اوس چې د رژيم له رسمي ماموريت څخه ليرې شوی بيرته د اسلامي امارت په پلوی نظر ورکوي او له اشغال څخه د هيواد د ژغورنې په اړه د اسلامي امارت پاليسي تائيدوي.

دا يو حامد کرزی نه دی ؛ بلکې د کابل رژيم ټول مهم چار واکي همدا حيثيت لري چې په نظام کې رول او نظر يې د امريکايي نظر تابع دی ؛ په خپله په مستقلانه ډول هغوی له شخصي مصالحو پرته هيڅ نظري او فکري استقلاليت نه لري.

همدا وجه ده چې اسلامي امارت د هيواد د خپلواکي او له اشغال څخه د آزادي په محوري موضوعاتو کې هغوی ته نه اعتناء کوي او نه اعتناء ورته کول مهم ګڼي.

همدا راز د اسلامي امارت او د کابل رژيم د ځواکونو ترمنځ پوځي مقابله ثانوي حيثيت لري ، ثانوي حيثيت په دې معنی چې که همدا نن امريکايان له اسلامي امارت سره وروستي توافق ته رسيږي او د افغانستان اشغال پايته رسوي ياد ځواکونه له خپله ځانه هيڅ دا وړتيا نه لري چې هغوی د اسلامي امارت په مخالفت کې خپلې مقابلې ته دوام ورکړي.

ځکه د هغوی تمويل او تجهيز ټول د امريکايانو لخوا دی که هغوی له افغانستانه د وتلو پريکړه کوي ، په هغه صورت کې نور د کابل رژيم همدا پوځي تشکيلات چې د ځلور نيم ملياردې ډالرو کلني اجرت (لګښت) په مټ د اسلامي امارت په مقابل کې جنګول کيږي خود بخوده شړيږي او له منځه ځي.

کابل رژيم همدا اوس د ارګ سياسي اقتدار د امريکايانو د شرارت په مټ قبضه کړی، اشرف غني او د هغه مفسد اردليان چې ډيری يې د غربي استخباراتو ايجنټان ، د مافيايي شبکو عناصر او مشهور بالفساد کرکترونه دي د يوه منفور باند په صفت خپل ځان د ولس د قانوني استازيو په توګه پر ولس ځان تحميل کړی دی، حال دا چې د دوی قانوني استازيتوب د دوی د رژيم د اساسي قانون او د دوی د پارلمان او قانوني مراجعو له مخې نه مشروعيت لري نه قانونيت.

کوم مشروعيت چې يې د جان کيري د سياسي موافقې له مخې تر لاسه کړی و هغه هم د پنځه کلنې مودې په پايته رسيدو سره پايته رسيدلی او اوس يې د هيواد د ټولو قانوني او عرفي مقرراتو خلاف د هيواد سياسي زعامت يرغمل کړی دی.



اوربند وي که نه وي،

له افغانستانه راوتل پکار دی...!!

- امریکایی ورځپاڼه (واشنګټن ایکزماینر)
- ژباړه او لنډیز: موسی فرهاد

واشنګټن ایکزماینر ورځپاڼې د روانې جنورۍ میاشتې پر٤ مه نیټه، په یوه مقاله کې له امریکایی چارواکو غوښتې چې د طالبانو له لورې اوربند او یا جګړې کمولو په انتظار کې دي نور په افغانستان کې خپل ځواکونه نه پریږدي، په وینا یې ځومره چې ژر کیدای شي؛ پکار ده چې نور له دغې ناکامې جګړې نه امریکا خپلې پښې سپکې کړي.

د مقالې لیکوال (Natalie Dowzicky) لیکي:

شاوخوا ١٤٬٠٠٠ امریکایی عسکر د روان کال د کرسمس د رخصتۍ پرمهال له خپلو کورنیو سره د ډوډۍ خوړلو پر میزونو حاضر نه وو. په داسې حال کې چې وړاندې دا اټکل زیات شوی و چې ممکن په راتلونکې دسمبر کې دوی له خپلو کورنیو سره بیرته یوځای شي، خو په دې شرط که چیرې زمونږ مشرانو غوښتې وای چې د افغانستان له ناکامې جګړې څخه دوی را وباسي او خپلو کورونو ته یې راستانه کړي.

لیکوال زیاتوي: داسې ښکاري چې روان حالت هیله ښوونکی نه دی، د دې په وینا د تیر دسمبر میاشتې پر ٢٩مه نیټه د طالبانو شورا د مؤقت اوربند په اړه موافقه کړې وه، ترڅو د سولې خبرو ته لاره هواره کړي، مګر د طالبانو

ستر مشر- لا تر دې مهاله موافقه نه ده کړې، داسې بریښي چې نوموړی سولې ته لیوالتیا نلري.

د مقالې په خبره فقط همدا تېر مانښام د افغانستان په شمال کې طالبانو د هغه برید مسئولیت ومانه؛ په کوم کې چې ۱۷ تنه افغان جنګیالي ووژل شول.

د واشنګټن ایکزمایښر لیکواله وایي: له سختدریځو سره مذاکرات کول معمولاً د (صِفر جمع کولو) لوبې ته ورته یو کار دی. چې اصلاً د صفر جمع کول امکان نلري.

په وینا یې، نو ولې باید واشنګټن طالبانو ته انتظار وباسي ترڅو یوې ریښتیني سولې ته ورسره ورسیږي، دا داسې دی لکه څوک چې په وچه دښته کې د باران په تمه تمه وي. له بده مرغه چې دا هغه ستراتیژي ده چې په ځلونو متحده ایالاتو په لاره اچولې او ورکې له پښو غورځیدلې.

مقاله زیاتوي، د افغان سولې سناریو یوځل بیا هغه وخت زور واخیست کله چې ولسمشر- ټرمپ د شکراني د ورځې پرمهال دغه هیواد ته خپل لومړنی سفر وکړ.

تر دې وړاندې د سولې خبرې په سپټمبر کې ودرول شوې، کله چې ټرمپ په کابل کې د یو برید له امله له طالبانو سره د کیمپ ډیویډ د پټ ټرون د لغوه کولو خبر ورکړ.

اوس یوځل بیا د ولسمشر- په ملاتړ او لارښوونه، د افغانستان لپاره د سولې سفیر زلمي خلیلزاد د جګړې د پای ته رسولو لپاره هڅې پیل کړې، خو داسې ښکاري چې پلانونه یې ډېر نرم یخې ته ورته وي.

د مقالې لیکواله په دې نظر ده چې امریکایي سیاستوالو د افغانستان د جګړې د پای ته رسولو په اړه په وار وار ناسمې ژمنې کړې خو پلي کړي یې نه دي.

مخکښې ولسمشر بارک اوباما ژمنه کړې وه چې تر ۲۰۱٤ کال پورې به جګړه پای ته ورسوي خو تر ۲۰۱٦ کال پورې یې د عسکرو شمیر نور هم زیات کړ.

همداراز ولسمشر ټرمپ د ټاکنیز کمپاین پروخت په بیا بیا دا جنګ د سر، مال او وخت ضیاع بلله، همدا تېر کال هم هغه حتی ژمنه وکړه چې تر ۲۰۲۰ کال پورې به ټول سرتیرې هیواد ته را ستانه کړي.

د لیکوالې په خبره، خو پرځای د دې چې دا لوړه ژمنه پوره کړي؛ ټرمپ د ٤،۰۰۰ سرتیرو د راکمولو په فکر پیل وکړ. ولې تر دې دمه یې هغه هم نه دي راستانه کړي.

مقاله وړاندې لیکي: ټرټولو بده لا دا چې د ټرمپ اداره د دموکراتانو سره د مناظرو له کبله د بهرني سیاست لپاره د بحث وخت هم نلري.

د امریکا اوسني جنګي جنون

او بد عزایم به ټوله نړۍ ولړزوي !!

بشیر ارمان

دامریکائي ولسمشر (ډونلډ ټرمپ) په امر دعراق پلازمینې [بغداد] هوائي ډګر ته څیرمه دایران د«القدس» پوځي ډلې مشرجنرال قاسم سلیماني اودهغه سره عراق کې دتهران ملاتړی قومدان «ابومهدي المهندس» په ډرون برید کې ووژل شول.

القدس د ایران هغه پوځي ډلګی بلل کېږي، چې دایران څخه دباندې پر نورو هیوادونو کې پټ پوځي عملیات کوي او هم هلته دایران ملګرو هیوادونو او ډلو ته پوځي کومکونه اومرستې رسوي، دهغو لپاره جنګیالي روزي، قاسم سلیماني دهمدې القدس پوځي ډلې مشرې په غاړه درلوده چې په عراق، سوریه، یمن او لبنان کې یې ایران پلوي ملیشې اوخواکونه تنظیمول اوډیروخت به هم دایران څخه بهرپاته کیده.

بیشکه د امریکا لخوا د ایران دیو لوړ رتبه جنرال [سلیماني] په نښه کول به، نه یواځي دلسیزو راهیسې په جنګونو اونا امنیو کې نښکېل منځنی ختیځ نور هم بې ثباته او نا ارامه کړي بلکې تپ به یې نیږدې ټولې منطقې ته هم ورسي او په سبب به یې د زمکنۍ کرې لویه برخه(ایشیا) دخورا لویو خطرونو اوفسادونو سره مخ شي.

د امریکایانو ددې ګام په غبرګون کې ایراني چارواکو هم دسخت ځواب ورکولوګوانښ اودغج اخیستو اعلان کړی، چې په دې سره شاید دسیمې وضعیت او امنیت ته نورهم کړکیچن اوحساس شي

همدې اندیښنوته په کتودامریکامتحده ایالاتو حکومت هم په عراق کې میشت خپلواتباعو ته امرکړی دی چې هغوی دي په سملاسي توګه عراق پریږدي اوترې ودي وزي

دامریکا ولسمشرټرمپ هم پخپل یوټویټ کې دقاسم سلیماني له وژلوځخه ددفاع ترځنګ دعوه کړیده چې قاسم سلیماني د امریکایانو ژوندته خطرونه پیداکول، او دوی ته دامریکایانو ژوند ژغورل زیات اهمیت لري، نو ځکه یې دهغه دلمنځه وړلو ګام پورته کړ.

دامریکا دننه واکمن ګوند(ریپبلیګن) هم دټرمپ ددې ګام نه ملاتړ کړی دی، اوبرینښي چې دقاسم سلیماني وژل تنها دټرمپ پریکړه نه وه بلکې دهغه ګوند هم د ایران په اړه هغه انګیرنې او دریځ لري کوم چې

ټرمپ وخت په وخت ښکاره کوي. خو بل پلو ته د امریکا دننه هوښیار کتونکي دټرمپ لخوا داګام نامعقول بولي او ورته دیوې ناکامې ستراتیژۍ په نظر ګوري دامریکا دکانګرس مشرې هم دټرمپ لخوا دسلیماني وژلوپه اړه اندیښنه ښودلې په اندیې دا به خطرونه نورهم ډیرکړي اوله املـه بـه یـې دنـړۍ سره دامریکـا شـته مشکلات نورهم پراخ شي .

دامریکایوپخواني مرستیال ولسمشرجو بایډن هم ویلي چې: ولسمشرټرمپ دبـاروتو ډیـري تـه اورلګیت نیولی؛ برتانویان هم نړیوال جنجالونه زیاتول نه غواړي، فرانسې او جرمنې هم دکـوم فریـق ملاتـړ نـدی کـړی بلکې دحالاتو ښه کولو لپاره دټولو خـواوو سره خـبرې کـول ګټـورې بولي،دروسـیې ولسمشر- پـوټین خـبرداری ورکړی دی چې دامریکا د حملې وروسته به دسیمې حالت نور هم خراب شي دچین دبهرینو چارو وزارت هم په نړیوالو مسائلوکې دخواک کارولو غندنه کړې ده،اودواړو لوروته یې دزغم تلقین کړی دی لنډه داچې داسراییل پرته دنړۍ زیاتروهیوادونو دامریکا بریدغندلی دی اوداکاریې په نړۍ اوپه خاصه توګه منطقه کې دنورو نا امنیو اوبې ثباتیو خورولوهڅه بللې، یوازې داسراییل غاصب رژیم دامریکا دبرید نه ملاتړ کـړی دی اودسلیمانی پـه وژنه یـې خوښـې ښکاره کـړې ده اوهـم یـې خپـل پـوځي نقـل وحرکـت ډیـر کـړی دی دسـیمې کارپوهـانو پـه نظردغسې خوخښتونه دګردې منطقې امنیت ګوابنلی شي اوهـم د پخوانیـو مشـکلاتو دزیـاتوالي لامـل کیـدای شي او ممکن داټول په یولوی جنګ منتج شي.

بل پلوته په نړۍ باندې ددې برید منفـي پـایلې سر لـه اوس نـه ښکاره شـوې دي د تیلـو پـه نرخونـوکې داندیښې ترحده زیاتوالی راغلی دی چې له املـه به یې نړیوال اقتصادته درنه صدمه ورسي،کـه پـه خلـیج کـې نوې جګړه پیل شوه،نوبیا خوبه ټوله نړۍ ولړزوي، کتـونکي پـه دې زیـات اندیښـمن دي چـې دمنځنـي ختـیځ دجنګ تپونه به ټولې نړۍ او په خاصه توګه منطقې ته خواره شي، ډیری په دي نظردي چې داجنګ به د دریـم نړیوال جنګ سپرغۍ وشیندي چې له املـه به یې ټول بشریت دوسپنې نینې وچیچي،نودنړۍ خیرپـه دي کـې دی چې ددي جنګ سیرغۍ ونه شیندل شي اودخوریدوځخه وړاندې مړې کړای شي،په دې لړکې ډیرمسؤلیت امریکایانوتـه متوجـه دی چـې هغـوی ددې جګړې دپیلولـو تیروتنـه ونکـړي کنـه بیرتـه دوی تـه بـه بـدعواقب ولري،دټرمپ حکومت باید درک کړي چې امریکـا پـه جنګونـوکې دویـت نـام ځخـه تـر افغانسـتانه دشکسـتونو اورسوایوځخه پرته نورځه ندي ترلاسه کـړي بلکـې ورتـه یـې نـه جبرانیـدونکي زیانونـه رسـولي،که ددي ټولـو وروسته بیا هم امریکا په ایران کې دخپل قسمت ازمایل غواړي اوخامخا دجګړې په لار درومي، بـدون دشـک نه چې دایه دامریکایانو یوه داسې نه ښیونکې اشتباه وي چې شاید دنړۍ په تاریخ کې ساری ونلري اوپه وجه به یې نړۍ دداسې بدوعواقبو په کرداب کیوزي چې دهغه نه بیا راویستل به یې اسان کار نه وي، ښه داده چې امریکایان نه یواځي دایران جګړې دپیلولوځخه اجتناب وکړي بلکې دافغانستان اونورو ازادو هیوادو ځخـه دي هم خپل عسکر وروغواړي زکه په دې کې دامریکا لپاره هم خیردی دایران اونورې نړۍ لپاره هم ....

مسلمانان هند
سرنوشت تاریک

درین اواخر، مسلمانان هند با تحولات گوناگون و مشکلات روز افزون رو برو اند. معضل اخیر جامو و کشمیر که از ۵ ماه به اینسو جریان دارد هنوز پا بر جاست، مسئله شهروندی مسلمانان ایالت آسام حل نشده است و قضیه مسجد بابری نیز بر علیه مسلمان ها فیصله شد. با این همه، دولت هندوگرای هند درین روزها هیاهوی دیگری را به نام اصلاحیه قانون شهروندی ۲۰۱۹ (Citizenship Amendment Act ۲۰۱۹) به راه انداخته، مشکلات مسلمانان هند را افزوده است.

پیش از اینکه به ماجرای اصلاحیه قانون شهروندی (C. A. A) بپردازیم، آنچه باید در مورد معضل جامو و کشمیر مختصرا بدانیم، اینست که؛ دولت نارندرا مودی به تاریخ ۵ اگست سال گذشته، ماده ۳۷۰ قانون اساسی هند را منحل نموده حیثیت امتیازی منطقه جامو و کشمیر را لغو کرد. منطقه جامو و کشمیر صرف نظر از اینکه منطقه متنازع میان کشور هند و پاکستان است، حیثیت منطقه نیمه خودمختار را داشت. اما دولت هند با انحلال ماده ۳۷۰، آن را نه تنها به مثابه سائر ایالات خود قرار داد، بلکه به تاریخ ۳۱ اکتوبر منطقه لداخ را ایالت جداگانه قرار داده، جامو و کشمیر را دو پارچه ساخت. دولت هند با ترس از واکنش تند مردمی از ۱۶۰ روز به اینسو در آن جا وضعیت اضطراری اعلام کرده است. حدود ۹ صد هزار نظامیان هندی در جامو و کشمیر مستقر هستند، بیشتر سیاستمداران و چهره های آزادیخواه کشمیر زندانی شده اند و یا هم در حبس خانگی قرار دارند.

حالا می آییم به اصلاحیه قانون هند، که به تاریخ ۱۱ دسمبر ۲۰۱۹ از پارلمان و سنای آن کشور تصویب شد و ۱۲ دسمبر با امضای رئیس جمهور هند رام نات کووبند جزو قانون کشور هند گردید. این در حقیقت تعدیل در قانون تابعیت هند (مصوب ۱۹۵۵) بود. به تعبیر آسان تر؛ دولت مودی شرایط تابعیت/شهروندی هند را تغییر داد. اکنون پناهنده گان شش اقلیت های مذهبی (هندوها، سیک ها، بودایی ها، جین ها، پارسی ها و مسیحیان) از کشورهای پاکستان، افغانستان و بنگلادیش می توانند بجای ۱۱ سال در ظرف ۵ سال تابعیت هند را به دست بیاورند. دولت هند مصمم است ۳۱۳۱۳ نفری را که پیش از ۳۱ دسمبر ۲۰۱۴ به هند پناهنده شده بودند، حق شهروندی بدهد. این

۳۱۳۱۳ نفر شامل ۲۵۴۴۷ هندو، ۵۸۰۷ سیک، ۵۵ مسیحی، ۲ بودایی و ۲ پارسی هستند.

قانون تابعیت هند در گذشته بدون تفکیک مذهب و منطقه حق تابعیت فراهم می کرد و از همین بود که هند به حیث کشور سیکولار یاد می شد. مهم اینست که دولت نارندرا مودی از یکسو با اجرای برنامه ثبت ملی شهروندان (National Register of Citizens) یا «N. R. C» می خواهد بر تابعیت بیش از دو صد ملیون مسلمانان هند بازنگری کند و یا حق شهروندی شان را سلب کند، اما از سوی دیگر تلاش دارد اقلیت های مذهبی کشورهای اسلامی را به آغوش خود بگیرد و تابعیت بدهد، گویا بجای که به داد اقلیت های کشور خود برسد، اقلیت های خود را پامال نموده، به داد اقلیت های کشورهای همسایه و منطقه می رسد. سوال دیگر اینست که اگر هند واقعا به فکر اقلیت های مذهبی دیگر کشورها است، پس چرا اقلیت های سری لانکا، نیپال و بوتان فراموش شده اند؟ واضح است، در کشورهای که هندوها اقلیت هستند در نظر گرفته شده اند و جایی که مسلمان ها اقلیت هستند، از نظر انداخته شده اند، عجب نظام سیکولاری!

دکتور وید پرتاب ویدک، نویسنده مشهور هندی و از نزدیکان نارندرا مودی با انتقاد بر دولت مودی، می گوید: نمی دانم دولت ما چرا قانون تابعیت را تغییر داد. حزب مودی اگر در اپوزیسیون می بود، شعارهای آن برای جلب هندوها، قابل توجیه بود. اما اکنون که زمام کشور را در دست دارد نیازی به چنین تغییر نبود. می توانست (بدون تغییر در قانون) هر آنکسی را که می خواست تابعیت می داد. چه ضرورت بود که مسلمان ها درین قانون مستثنی شده اند؟

اصلا دولت هند ترس دارد که فیصدی مسلمان ها در جمعیت هند رو به افزایش است و فیصدی هندوها برای اولین بار از ۸۰ در صد پایین آمده است. سیاستمداران و دانشمندان تندرو هندو مردم خود را چنان ذهنیت می دهند گویا با مرور زمان، هندوها به اقلیت و مسلمان ها به اکثریت تبدیل خواهند شد. به گفته آن ها؛ جمعیت مسلمان ها تا سال ۲۰۳۵ به ۹۵۰ ملیون می رسد و جمعیت هندوها از ۹۰۰ ملیون بالا نخواهد رفت. تا سال ۲۰۵۰ نفوس مسلمان ها از ۱۹۰۰ ملیون تجاوز خواهد کرد و هند به کشور اسلامی تبدیل خواهد شد. در حالیکه این تخمین ها کاملا دور از واقعیت است. زیرا در ظرف پنجاه سال - از ۱۹۶۱ تا ۲۰۱۱ - جمعیت مسلمان ها تنها ۳ در صد بالا رفته و جمعیت هندوها ۳ در صد کاهش یافته است. پس چگونه مسلمان ها در پانزده یا بست سال آینده به اکثریت تبدیل می شوند؟

پروسه ثبت ملی شهروندان اصلا از ایالت آسام شروع شد. ایالت آسام در شمال شرقی کشور هند موقعیت دارد و بر علاوه از ایالت های اروناچال پرادش، ناگالند، منی پور، مگالایا، تریپورا، میزورام، در شمال با کشور بوتان و در شرق با کشور بنگلادیش نیز مرز دارد. مؤرخین می نویسند مغول ها نتوانسته بودند این منطقه را تسخیر کنند. آسام پس از تقسیم هند همواره شاهد خشونت های قومی و نژادی بوده است. اگر چه ۱۱۵ اقشار نژادی در آسام زندگی می کنند، اما از نگاه مذهب حدود ۶۲٪ جمعیت آسام را هندوها و ۳۵٪ را مسلمان ها تشکیل می دهند. مردم آسام می گویند که بنگالی ها

در دو قرن گذشته بالخصوص در هنگام جدایی بنگلادیش از پاکستان در سال ۱۹۷۱ به تعداد زیادی به آسام آمدند و به تدریج گراف جمعیت آسام را تغییر دادند. حزب هندوگرای بی جی پی (B. G. P) که اکنون زمام دولت مرکزی هند را در دست دارد همواره پروپاگند داشته است که حدود هشت ملیون بیگانگان (که هدف شان مسلمان ها بود) در آسام جا گرفته اند.

این معضل پس از مراحل و کشمش های زیادی به دادگاه عالی هند رفت. دادگاه عالی کشور دیوان ویژه ای متشکل از دو تن قاضیان را وظیفه سپرد که پروسه ثبت ملی شهروندان (آسام) را بررسی نموده باشندگان آسامی و غیر آسامی را از همدیگر تشخیص دهد. در راپور ابتدایی دیوان ویژه آمده بود که ۴ ملیون خارجی ها در آسام زندگی می کنند، اما فهرست نهایی که به تاریخ ۳۱ اگست ۲۰۱۹ منتشر شد، نشان می دهد که از میان جمعیت ۳۳ ملیونی آسام تنها ۱.۹ ملیون نفر غیر آسامی هستند. از میان ۱.۹ ملیون غیر آسامی ها هم چهار صد هزار نفر کسانی اند که اصلا اسناد خود را پیش نکرده اند و گمان برده می شود که شاید مرده باشند، هفتصد هزار دیگر مسلمان ها و پنجصد هزار هم هندوها هستند. گویا بر خلاف آوازه های هشت ملیونی، تنها هفتصد هزار مسلمان های غیر آسامی در آسام زندگی می کرده اند. این در حقیقت شلاق محکم بر چهره احزاب و سیاستمداران هندوگرا بود. این هم در جای خود تعجب آور و جنجال برانگیز بود که در یکجا اگر نام شوهر در فهرست درج است نام زن نیست، در جایی دیگری اگر نام پدر است نام پسر نیست و در جای دیگری اگر نام یک برادر است نام برادر دیگر نیست، حتی یک افسر ارتش هند به نام ثناء الله که در جنگ کارگل در ۱۹۹۸ بر علیه پاکستان جنگیده بود نیز شامل فهرست نیست. در حالیکه این پروسه در ظرف پنج سال ۱۶۰ ملیارد روپیه هزینه داشته است.

برخورد دوگانه حزب مقتدر هند را ازین قیاس کنید که نخست وزیر ایالت آسام پس از ملاقات با وزیر داخله هند امیت شاه (که در برنامه های هندوگرایی نفر دست راست نارندرا مودی شمرده می شود) گفته است که دولت مرکزی هند افراد خارجی را که به گونه ای در فهرست آسامی ها داخل شده اند از لیست خارج و اتباع واقعی (یعنی هندوهای) را که از لیست بیرون مانده اند، دوباره درج فهرست خواهد کرد. گویا هندوها به هر صورت شهروندان آسامی شمرده می شوند و هرچه صدها هزار مسلمان ها هنوز بی سرنوشت اند. شکی نیست که این برخورد کاملا متفاوت در برابر دو قشر مذهبی در کشوریست که خود را بزرگ ترین جامعه سیکولار جهان می داند.

دولت مرکزی هند پس از تجربه ناکام در ایالت آسام، حالا می خواهد پروسه ثبت ملی شهروندان را به سراسر کشور گسترش دهد. این توطئه بزرگی در برابر مسلمان ها است. زیرا کسانی که از حق شهروندی هند محروم شوند، آن ها به کدام کشور خواهند رفت؟ بنگلادیش گفته است تنها کسانی را که به اسناد و شواهد ثابت شود که بنگلادیشی هستند آماده است به کشور خود برگرداند. هرچه پاکستان هنوز هیچگونه آمادگی نشان نداده است. پس ظاهر است که ملیون ها مسلمان ها، تا اینکه وطن بعدی شان تشخیص شود، برای سال ها در کمپ ها زندگی خواهند کرد.

نه تنها مسلمان ها بلکه هندوهای میانه رو و روشنفکر و دیگر اقلیت های مذهبی نیز در ایالت ها و شهرهای هند در برابر این دو اقدام فاشیستی و نازیسم یعنی «اصلاحیه قانون شهروندی» و پروسه احتمالی «ثبت ملی شهروندان» دست به اعتصاب و اعتراضات گسترده ای زده اند، تظاهرات که از دانشگاه «جامعه ملیه دهلی» آغاز شده بود، به زودی به دانشگاه های زیادی کشور سرایت کرد و استادان و محصلین دست به اعتراضات زده اند. بر علاوه از چندین احزاب منطقوی، حزب کنگره ملی هند که بزرگ ترین حزب اپوزیسیون است نیز مخالفت خود را در برابر اعمال هندوگرایانه دولت مودی اعلام کرده اند. همچنان نخست وزیران چندین ایالت ها اعلان کرده اند که برنامه ثبت ملی شهروندان را در ایالات خود اجرا نخواهند کرد.

اگرچه امریکا، اروپا، سازمان ملل متحد و کشورهای اسلامی تا هنوز چندان صدای مؤثری بلند نکرده اند. اما بازهم حیثیت بین المللی هند متضرر شده است. قرار بود نخست وزیر جاپان شینزو آبه در سفر رسمی خود در وسط ماه دسمبر به هند برود و در شهر گوواتی با مودی ببیند، اما سفر او به سبب تظاهرات مردم هند و کشته شدن چند تن تظاهرات کننده گان در گوواتی لغو شد. همچنان وزیر خارجه و داخله بنگلادیش از سفر به هند خودداری کردند. سازمان همکاری اسلامی اگرچه به صدور بیانیه ای اکتفا کرده است. البته، مطبوعات پاکستان خبر داده است که جلسه وزرای خارجه سازمان همکاری اسلامی پیرامون مشکلات اخیر مسلمانان هند در ماه اپریل در اسلام آباد خواسته می شود.

در بیانیه سازمان همکاری اسلامی آمده است: «این سازمان از نزدیک آخرین تحولات مؤثر بر مسلمانان در هند را دنبال می کند و نگران حقوق شهروندی مسلمانان و مسائل مربوط به مسجد بابری است و همچنین خواستار حفاظت از اقلیت های مسلمان و اماکن مقدس آنها در هند است. هرگونه نقض اصول و تعهدات مربوط به کنوانسیون سازمان ملل در مورد حقوق اقلیت ها، ممکن است تنش در منطقه را افزایش داده و تهدیدی جدی برای صلح و امنیت به شمار رود».

بلی؛ مهاتیر محمد، صدر اعظم کشور مالیزیا ضمن انتقاد صریح از دولت هند، گفته است: تصویب قانون تبعیض مذهبی و بازنگری در تابعیت افراد نقض آشکار حقوق بشر است که به صورت خاص مسلمانان هندی را نشانه گرفته است. او افزود: «هند خود را کشوری می داند که در آن دموکراسی حاکم است و دولت به صورت سکولار اداره می شود، ولی به صورت آشکار فقط مسلمانان را مورد ظلم قرار می دهد. مسلمانان جهان باید فکر کنند که چرا هند دست به تصویب چنین قانونی زده است. تصویب قانون بازنگری درتابعیت آیا جزچند دسته کردن جامعه حاصل دیگری خواهد داشت؟ ».

دولت نارندرا مودی ضمن تغییر در قانون شهروندی هند، در حقیقت افغانستان، پاکستان و بنگلادیش را به شکنجه و تعذیب اقلیت های مذهبی به ویژه هندوها متهم کرده است. پاکستان و بنگلادیش در برابر هند واکنش تندی نشان داده اند، اما اداره چندسره کابل این مسئله را نادیده گرفته است. واقعیت اینست که اشرف غنی و عبدالله اصلا جرات ندارند هند را به نگاه کج ببینند.

پر خپله بلواکی

د کابل اداري د مشرانو اعترافات

خبیر م

د کابل اداري پخواني مشر په خپله یوه وروستۍ مرکه کې اعتراف کړی چې د ټاکنو په نوم ډرامه هیڅکله د افغانانو په لاس کې نه وه بلکې دا د پردیو د معاملې سلسلې وې. نوموړي ویلي، نه په ۲۰۰۹ز کال کې، نه په ۲۰۱۴ز او نه تیرې ټاکنې زمور په لاس کې وې- دا د پردو د معاملې سلسله ده.

د رژیم دې مشر په یوه بله مرکه کې ویلي چې نوموړی د یوې آلې په څېر کارول کېده.

د دې ترخنګ پر هېواد باندې د امریکا د یرغل پر مهال د امریکا د ځمکنیو پوځونو د رول ادا کوونکې ملېشې یوې بلې څېرې هم اعتراف کړی چې دوی د هیڅ واک هم نه لري، بلکې هر څه یې د پردیو لاس کې دي.

اسلامي امارت پر هېواد باندې د امریکا او د هغې د اشربانو د اشغال له پیل راهیسې ویلي چې په کابل کې د حکومت په نوم نصب شوې څېرې نه خپلواکي لري او نه هم د څه اختیار. دا منفور، رټل شوي، جنایتکار او مفسد اشخاص یوازې مهرې دي او یرغلګرو خپلو اهدافو ته د رسېدو لپاره پر دې مظلوم ملت باندې تپلي او د یوې آلې په څېر یې کاروي.

اشغالګرو پر افغان ولس باندې د دې تپل شویو او جنایتکارو څېرو ناروا حاکمیت ته د څه مشروعیت وربخښلو په پار دېرې هلې ځلې وکړې، چې یوه یې هم د ټاکنو په نوم ډرامه وه. اسلامي امارت تل ټینګار کړی چې په دې تش په نامه ټاکنو کې د خلکو رایه هیڅ ارزښت نه لري، بلکې یوازې هغه اشخاص به پر دې ملت مسلط کیږي کوم چې د اشغالګرو ګټو ته ژمن او یا هم د هغوی خوښ وي. د ټاکنو په نوم په ترسره شویو ډرامو کې دا هرڅه په سترګو ولیدل شول.

د کابل اداري د پخواني مشر او نورو چارواکو اوسني اعترافات د اسلامي امارت پر دریځ باندې د تایید مهرونه وهي. دا مسلمه خبره ده چې اشغالګر بادار هیڅکله خپل غلام ته بشپړ واک او اختیار نه دی ورکړی. له همدې امله اسلامي امارت د هېواد د آزادۍ او د اسلامي نظام د نفاذ د علیا اهدافو د تحقق لپاره د پیل کړې مبارزې له پیله ویلي چې له بېواکه او پاشلو جهتونو سره په مذاکراتو کې ښکېلېدل هیڅ ګټه نه لري.

د رژیم د چارواکو اعترافونه باید د هغو خلکو ذهنونه ورخلاص کړي چې د خدای او وطن تر شعار لاندې د اشغالګرو د اهدافو لپاره له خپل ولس سره په جګړه بوخت دي او فکر کوي چې ربښتیا هم د ولس په خدمت او دفاع کې اخته دي. دوی (لکه څنګه چې یې خپل مشران اوس په ډاګه وایي) د پردیو د لاس مهرې او آلې دي، او بس. دوی نه باید نور د خدمت په نوم د غلامۍ طوق په غاړه کې پرېږدي، نه باید پردیو ته اجازه ورکړي چې د یوې آلې په څېر یې د خپل دین، هېواد او ولس پر ضد وکاروي.

په ښاري سیمو کې

د جهادي بریدونو مشروط کموالی

شاهد غزنیوال

د اسلامي امارت او امریکایانو ترمنځ د مذاکراتي بهیر په ترڅ کې د دولسم پړاو خبرو تر پیلیدو وړاندې امریکایي لوری پر دې ټینګار لري چې باید تر خبرو وړاندې اوربند وشي.

خو د امریکایانو د دې غوښتنې په مقابل کې د اسلامي امارت ویاند د خپل رسمي وضاحت لیک په ترڅ کې د اوربند په اړه خپل موقف داسې څرګندوي.

((واقعیت دادی چې اسلامي امارت د اوربند کوم تصمیم نه لري، امریکایانو د جګړې د حجم او د عملیاتو د کمښت غوښتنه کړې، چې د اسلامي امارت په جهت کې په همدې مشخصه مسئله مشورې روانې دي.

د اسلامي امارت د مشرتابه لخوا تر اوسه نهایي پریکړه نه ده شوې او نه هم په دې اړه د اسلامي امارت په صف کې کوم اختلاف موجود دی))

له پورتني وضاحت څخه څرګندیږي چې د اسلامي امارت لخوا امریکایي غوښتنو ته په مجموع کې ځای نشته.

د مذاکراتو لپاره د اوربند شرطول په حقیقت کې د مذاکراتو په پلمه پر اسلامي امارت خپلې غوښتنې منل دی چې اسلامي امارت یې کله هم منلو ته تیار نه دی.

ځکه هغه جهادي عمليات چې د مجاهدينو لخوا پر امريکايانو او د هغوی پر ګوډاګيانو تر سره کيږي ، هغه په حقيقت کې د يرغلګرو امريکايانو او کابل رژيم د وحشيانه بريدونو په غبرګون کې تهاجمي بريدونه دي چې په هره ساحه کې پلان شوي او د فرصت په مهيأ کيدو سره اجراء کيږي.

که امريکايان او د کابل رژيم ريښتيا هم په ښارونو کې د جهادي بريدونو کمښت غواړي نو هغوی دي په کليوالو سيمو کې پر مظلومو ولسي وګړو بمباري او شپني عمليات کم کړي.

دا چې امريکايان له خپل لوري په هر حال کې خپلو هوايي بريدونواو شپنيو عملياتو دوام ورکوي او له مجاهدينو څخه د اوربند او ياهم متقابلو بريدونو د کموالي مطالبه کوي ، دا ډول مطالبه يې هيڅ عرفي او قانوني توجيه نه لري.

البته د مذاکراتي بهير په ترڅ کې که امريکايي لوری په کليوالو ساحو کې چاپې او هوايي بريدونه کم کړی د اسلامي امارت مجاهدين تيار دي چې په ښاري سيمو کې پرجانب مقابل خپل بريدونه کم کړي.

په هيواد کې روانه نا امني او د ولسي وګړو خلاف وحشيانه کړنې ټول پر افغانستان د امريکايي وحشيانه اشغال محصول دي.

مجاهدين چې د اشغالګرو خلاف هر دفاعي اقدام تر سره کوي هغه يو مقدس شرعي امر دی چې په تر سره کولو يې هغوي د الله تعالی له لوري مأجور ګڼل کيږي.

د مجاهدينو متقابل دفاعي عمل ته د ظلم، وحشت او تيري په مقابل کې شرعي جهاد ويل کيږي چې په هيڅ صورت يې د تاوتريخوالي او خشونت په نومونو نومول جائز نه دی.

د اشغال په مقابل کې د جهاد تداوم ترهغو پوري الهي فريضه ده تر څو اشغالګرو اشغال پايته نه وي رسولي.

د اشغال په پايته رسيدو سره هر ډول دفاعي غبرګون په طبيعي ډول کم او د جګړې په ځای سوله تأمنيږي.

امارت اسلامی

مفتی عبدالکریم
ترجمه: ابوزبیر حبیب زاده

نظام اسلامی را حاکم ساخت

ما در دیار هجرت پاکستان بودیم، روزهای خروج شوروی ها از افغانستان پس از شکست شرمناک بود، تازه سال های طفولیت را پشت سر گذاشته و به مرحله شعور رسیده بودم، شوق آگاهی از اخبار و حوادث کشور را داشتم، اما آن زمانی بود که در مدارس دینی فرصت برای داشتن رادیو و شنیدن اخبار میسر نبود. ما هرگاه روز پنجشنبه به خانه می آمدیم، در شب های جمعه و شنبه با کمال شوق و اهتمام به خبرها گوش می دادیم. یکی از شب های جمعه بود و مصاحبه جناب حکمتیار از بی بی سی یا رادیوی صدای امریکا پخش می شد و ما به دقت گوش می گرفتیم.

خبرنگار از حکمتیار پرسید، اگر شما افغانستان را در تصرف خود بیاورید، چگونه نظام را دران جا نافذ می کنید؟

حکمتیار جواب داد: نظام اسلامی.

خبرنگار پرسید: چگونه نظام اسلامی، آیا نمونه آن را در جهان معاصر پیش می توانید؟

حکمتیار گفت: نظام اسلامی ما مثالی خواهد بود.

این سخن حکمتیار بسیار دلاویز بود. مردم غیور افغانستان کشور محبوب خود را ترک کردند، زحمات زیادی را در راستای هجرت و جهاد متقبل شدند و بیش از یک و نیم ملیون شهید دادند، هدف شان آزادی کشور از شوروری های اشغالگر و حاکمیت نظام اسلامی بود.

مردم مسلمان افغانستان آزادی حقیقی و نظام واقعی اسلامی می خواستند، نه آزادی قلابی و نظام نام نهاد اسلامی، وگرنه نه هجرت می کردند و نه هم جهاد. زیرا از کودتای کمونیست

ها تا دوران داکتر نجیب هیچ رژیمی نبود که خود را مزدور می خواند و یا نظام و قانون خود را کفری اعلان کرده باشد.

پس از تهاجم و اشغال شوروی ها نیز، نه بر مسند ریاست جمهوری کدام فرد روسی نشسته بود، نه وزیر دفاع کشور کدام تبعه روسی بود و نه هم وزارت دیگری به کدام نفر روسی داده شده بود.

مختصر اینکه افغان ها آزادی جعلی و نظام نام نهاد اسلامی را قبول نداشتند. این سخن حکمتیار درست بود که ما نظام مثالی اسلامی در افغانستان می خواهیم. زیرا در سراسر جهان هیچ کشوری نبود که نظام واقعی اسلامی دران حاکم می بود. پس هیچ کشوری برای ما الگو شده نمی توانست.

اما متاسفانه، حکمتیار و یا دیگر رهبران جهادی از نظام اسلامی که حرف می زدند، سخنان آن ها به محض شعار تبدیل شد. نظام اسلامی بجای خود باشد، پس از شکست شوروی ها چنان نا امنی، بی نظمی، هرج و مرج، انارشیسم و ملوک الطوائفی به وجود آمد، که در تاریخ جهان کم نظیر بود.

اتحاد شوروی از برکت قربانی های بی شمار افغان ها با شکست تاریخی رو برو شد و از افغانستان فرار کرد. حدود سه سال پس از خروج شوروی ها، آخرین اداره مزدور کمونیستی به رهبری داکتر نجیب نیز از بین رفت و کشور از دست شوروی ها و دست نشاندهان شان آزاد شد، اما جنگ های که میان حکمتیار، احمد شاه مسعود و دیگران برای تصاحب قدرت رخ داد، آرمان های افغان ها را با خاک یکسان ساخت و مردم را با چنان روزگار تلخی دچار نمود که هیچگاه ندیده نبودند. روزگاری که مردم به آرمان دولت نجیب شدند.

در نظام اسلامی، حفاظت جان، مال و آبروی مردم از همه مهم تر می باشد. اما دران نظام نه جان کسی در مصئون بود، نه مال و نه هم آبرو. صدها پاتک ها در شاهراه ها وجود داشت و رهزنانی که بر سر پاتک ها ایستاده می بودند، هر آنچه می خواستند انجام می دادند و کسی نبود که بازپرس کند.

نظام قضا، اردو، پولیس و امور اداری از بین رفته بود. اداره های صحی و تعلیمی ویران، پول افغانی بی ارزش و فقر و گرسنگی مردم به اوج رسیده بود. گراف صادرات و واردات بسیار پایین آمده بود و مشکل به حدی رسیده بود که حوائج بنیادی از جمله آرد وغیره از کشورهای همسایه به شکل قاچاقی آورده می شد. از یکسو اقتصاد مردم با صفر ضرب می خورد و از سوی دیگر نرخ های اجناس به آسمان رسیده بود.

مختصر- اینکه تنها مشکلات، زحمات و سختی ها درین کشور باقی مانده بود و کشور قابل زیست و زندگی نبود. اما کسی نمی دانست که چه بکند و به کجا برود، هیچ امیدی برای تغییر اوضاع برده نمی شد و هر کسی فکر می

کرد که این کشور به ده ها پارچه تبدیل خواهد شد.

در برابر این اوضاع بی حد ناگوار، چند تن طلبای مدارس و مجاهدین با احساس به رهبری ملا محمد عمر مجاهد در یک ساحه محدود قندهار قیام نمودند. خداوند متعال آن ها را بر تفنگسالاران وحشی پیروز ساخت و مردم آن منطقه در امن شدند. همان بود که مردم مناطق نزدیکی نیز ازان ها پشتیبانی کردند و روند استقبال مردم روز بروز گسترده تر شد. نهضت طالبان از منطقه به ولایت و از ولایت به سراسر کشور گسترش یافت. قیامی که در ساحه محدود آغاز شده بود به نهضت منظم تبدیل شد و بالاخره نظام اسلامی به نام امارت اسلامی قائم شد. طالبان با قربانی جان های شیرین شان نه تنها ملت را از بدبختی های یاد شده نجات دادند، بلکه با اقامه نظام اسلامی هدف و آرمان بزرگ جهاد بر ضد شوروی ها را، که قدرت طلبان و عاشقان چوکی بر اثر جنگ ها و اختلافات بین خودی شان زیرپا کرده بودند، متحقق ساختند.

جان، مال و آبروی افغان ها چنان مصئون گردید که حتی مخالفان امارت اسلامی در سراسر جهان نیز بر آن اعتراف داشتند، بلکه بی سابقه می دانستند.

امارت اسلامی به قضا و محاکم حیثیتی داد که در نظام واقعی اسلامی می داشته باشد. در تمام امور موافق با احکام شرعی فیصله می شد.

شوری جایگاه خاصی در نظام اسلامی دارد، اما حق تصمیم گیری طبق رهنمودهای شریعت نزد امیر می باشد. امیرالمؤمنین فیصله می نمود و در تمام کنج و کنار کشور بدون چون و چرا نافذ می گردید.

عزل و نصب وزیران، والیان و دیگر مقامات نیز چنین بود. در تمام دوران حاکمیت امارت واقعه ای رخ نداده است که کدام وزیر یا والی حکم برکناری اش را نپذیرفته باشد. اصلا گمان نمی شد که کسی از فرمان امیرالمؤمنین مخالفت کند و یا آن فرمان نافذ نشود.

امیر مسلمان ها در نظام شرعی غیر مسئول نمی باشد و نه هم سخن او نقش کالحجر می باشد که رجوع ازان ممکن نباشد. ما امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد - رحمه الله - را معصوم نمی دانیم و نه هم مصئون از خطا و اشتباه می دانیم. اما خوبی او این بود که اگر کسی به اشتباهش متوجه ساخته، حرف او را پذیرفته است، و اگر کسی مشوره نیک داده، تصمیم خود را به آن تغییر داده است.

نکته مهم در نظام اسلامی اینست که در مورد بیت المال احتیاط می شود. اما بیت المال کنجوس نمی باشد، بلکه اموال و عوائدی که به بیت المال می آید، در نگهبانی سرحدات دولت اسلامی، آمادگی ها و تجهیزات نظامی، کارهای انکشافی و عام المنفعه و حوائج رعیت، قضاة، والیان، مفتیان، استادان، ائمه و دیگر کارمندان دولتی صرف می شود. ایتام، بیوه زنان، معیوبین

و مـردم بـی بضـاعت کفالـت مـی شـوند و ازدواج ایتام نیز از بیت المال صورت مـی گیـرد. امـارت اسلامی نیز به مصرف بیت المال در امور مذکوره متعهد بود، من نمی گویم که بیت المال در زمـان امارت اسلامی همانند بیت المال در زمان خلفـای راشـدین صـد در صـد بجـا مصـرف شـده اسـت. بزرگان امارت اسلامی شاید دریـن بخـش ضـعفی هم داشتند، امـا واقعیـت اینسـت کـه بیـت المـال امارت اسلامی اصلا آنقدر پول هم نداشت که به تمام حوائج رسیدگی کند.

جهان روابط دیپلماتیک و اقتصادی خـود را با امارت اسلامی قطع کرده بـود، وضـعیت جنگـی بود و راه های عوائد و درآمد بیـت المـال محـدود بود، که چند گمرکات بود و بس.

امارت اسلامی با امکانـات محـدود خـود بـه محافظت مرزها، جنگ در برابر دشـمن و تشـکیل نظـام، اداره و نظـم دولتـی بسـیار متوجـه بـود. ادارات دفاع، قضا، تعلیم و تربیه، تحصیلات عالی و صحت عامه را با مصارف هنگفت فعـال ساخت و برای بالا بـردن معاشـات کارمنـدان ایـن ادارات نیز تلاش نمود. زیرا ملت به خدمات ایـن ادارات بیشتر نیاز داشت.

امـارت اسـلامی بـا اقتصـاد نـاچیز خـود بـه کارهای بازسازی و رفاه عامه نیـز دوام داده بـود. بیشتر سرک های خراب در داخل شهرهای بزرگ را ترمیم نمود و پیش از عقب نشینی، کـار تعمیـر شاهراه جلال آباد - کابل را آغاز کرد. این هـر دو، پروژه های بزرگی بودند.

امارت اسلامی با بودجه اندکی می توانسـت کارهای زیادی را انجام دهد. زیرا با بیت المـال و یا دارایی ملی بسیار محتاطانه روش می کـرد و از تاراج چپاولگران مصئون ساخته بود. به والیـان و وزیـران نیـز همانقـدر پـول داده مـی شـد کـه بـه مشکل بـرای مصـارف ماهانـه شـان کفایـت کنـد، هیچ والی یا وزیـر امـارت اسـلامی را کسـی نشـان داده نمی توانـد کـه در کابـل خانـه گرفتـه باشـد، بلکـه مـن چنـان وزیـران امـارت اسـلامی را مـی شناسم که در روزهای تهاجم اشغالگران در اثنای خـروج از کابـل، از نـانوایی هـا قرضـدار بودنـد، پسـران شـان بعـدا غریـب کـاری نمـوده، قـرض

نانوایی ها را پرداختند. می پذیرم که شاید با بیت المال بی احتیاطی هم شده باشد، اما عموما در مورد بیت المال بسیار احتیاط می شد.

امر بالمعروف و نهی عن المنکر رکن مهم نظام اسلامی است. امارت اسلامی به این وجیبه متعهد بود و برای این کار وزارت مستقلی تشکیل داده بود که در هر ولایت از خود شاخه های فعال داشت.

بلی، ما می پذیریم که اشتباهاتی رخ داده بود، اسالیب دعوت اسلامی به گونه درست رعایت نشده بود، در بعضی جاها با مردم برخورد زشت صورت گرفته بود، بلکه مردم اهانت شده اند و این سبب بدنامی امارت اسلامی هم گردیده بود. اما بزرگان امارت اسلامی به این معضل متوجه شده بودند و روند اصلاحات را آغاز کرده بودند، اما اشغالگران فرصت ندادند و...

در نظام اسلامی، فساد اداری قابل تحمل نیست. همه می پذیرند که تمام دوائر امارت اسلامی از فساد اداری پاک بود.

بلی، در بعضی جاها از قضایان و ولسوالان شکایت می شد که رشوت می گیرند، امارت اسلامی برای حل این مشکل بسیار می کوشید، معاش قاضیان را چند برابر بالا برد، ولسوالان را تبدیل می نمود، و در صورت وجود اسناد مؤثق مجازات و از وظیفه برکنار می نمود.

در مورد این بزرگان امارت اسلامی ما نمی گوییم که با رجال برجسته خیر القرون مساوی بودند، یا نظام شان برابر با نظام خلفای راشدین بود. اما ازین هم باید اغماض نشود که آن ها قربانی های زیادی به هدف قیام نظام شرعی دادند، امارت اسلامی به اعتبار اصول کاملا نظام شرعی بود، که نه تنها در جهان امروزی بلکه اگر به چند قرن پیش هم برگردیم چنان نظامی را پیدا نمی توانیم. بزرگان این نظام به اصول شرعی کاملا متعهد بودند و درین راستا پروای جهان را نداشتند، این دلیل بزرگ اولو العزمی آن ها بود.

خداوند متعال قربانی های آن سالاران و رهروان این کاروان عزیمت را که از جهان چشم بسته اند، قبول نموده عوض های شایان برای شان در جنت الفردوس نصیب بفرماید، و آنانی را که در قید حیات اند حافظ، ناصر و معاون باشد و برای نفاذ نظام خوب تری در آینده توفیق بدهد. آمین یا رب العالمین.

که امریکا له مذاکراتو وتښتي پایله به یې څه وي؟

حسن زوی

دمحترمو لوستوالو په علم کې به وي چې دټرمپ د ټویټ نه پس متوقف شوي مذاکرات امریکا بېرته پیل کړیدي خو امریکایان اوس هغسې گرم ندي لکه چې وړاندې وو ؛داځل پکې هغه گرمجوشي او لېوالتیا نه ښکاري کومه چې پکې وړاندې ښکارېده.

ناکامي داسې بې حده بد شی دی چې هرهېواد ، ملت ، قوم او فرد پرې شرمېږي اوتړې دځان ساتلو هڅه کوي؛ امریکا چې دنړی تر ټولو ستر زبر ځواک دی او د افغانستان جگړه یې دخپل تاریخ تر ټولو اوږده، دځاني تلفاتو اومادي زیان نه ډکه جگړه وگرځېده نو طبعي ده چې امریکابه یې په داسې شان پای ته رسول غواړي چې پکې امریکایان شکست خوړلي او طالبان فاتحین ونه ګڼل شي .

دمذاکراتو دپیل نه وړاندې او دپیل په اولو وختونو کې به شاید امریکا ګومان کاوه چې دمذاکراتو په مېز به په ډېرې اسانی له طالب مرکچیانو نه میدان وګټي اودډېروهغو شیانو منلو ته به یې اړکړي چې یې تړي غواړي خوچې کله خبره دعمل ډګر ته راغله؛ دطالب مشرانو وړتیا یې ولیده اوپدې باوري شول چې طالبان له خپلو اهدافو تېرېدونکي خلک ندي نو پوه شول چې دطالبانوپه اړه یې فکر ناسم و.

امریکا ته داخبره جوته شوه چې دمذاکراتو دا ډګر یې هم دګټې ندی نوځکه یې هغه هیله مندي مخ په کمېدو شوه کومه یې چې پخوا وه .

خـو امریکایـان پـدې هـم پـوهېږي چـې پـدې هېـواد کـې د روان جنـګ ګټل ورته ناشوني دي.

په امریکـا کـې ددې هېواد دفوځ ددفاعي چـارو سلا کـار ډانیـل ډیـویس په خپلوتـــازه څرګنـــدونوکې ویلي دي چې افغان جګړه نه شـو ګټلـی ؛ ددې وخـت رارسېدلی چې دسوله ایـزو لارو نور افغان جګړه پای ته ورسېږي ؛ نوربایـد پدې بې معنی جګړې لـه لګښـتونو ډډه وشي او هلتـه مېشـت سرتېري باید خپلـو کورونـو تـــه ســـتانه کـــړای شي؛ نومورې تمه ښوولې ده چې دطالـــب پـــلاوي سره بـــه دخلیلـــزاد پـــه مشـــري دامریکـایې پـلاوي خـبرې مثبتـــې او بـــرخ لیـــک ټاکونکي پایلې ولري .

ډیـویس زیاتـه کـړی امریکا باید پخوالا داجګړه پـای تـه رسـولی وای خـو اوس هم لا وختي دی چې پدې هېواد کې دامریکـا دتـاریخ تـر ټولـو اوږده جګړه پای ومومي.

ډانیـل ډیـویس چـې څـه ویـلي دي دا هغـه حقیقـت دی چـې دامریکا دولت یا امریکـایې ولـس تـرې انکـار نـه شي کـولای نوځکـه ولـس او دولـت دواړه ددې جنـګ نـه ځـان خلاصـول غـواړي خوپـه داسې شان چې امریکا پکې شکست خوړلې او اسلامي امارت فـاتح ونـه ګڼـل شي ؛ امریکـا دهمـدې هـدف دترلاسـه کولـو لپـاره بېرتـه مذاکراتو ته راستنه شویده.

امریکا ته چې له مذاکراتو پرته بله هیڅ لار نده پاتې شاید لـه مذاکراتو به تېر نه شي خودځینـو شرطونـو پـه وړانـدې کولـو او د یـو شـمېر نـورو پلمـو لـه لارې د مـذاکراتو داوږدولـو او پـدې چـل خپلـو موخـو تـه د رسـېدلو او د خپلـو اهدافونـه د اسـلامي امـارت داړولـو ناکامې هڅې وکړي.

امریکاته خلک په کوم نظر ګوري ، شکسـت خـوړلې یـې ګڼـي اوکه فاتحه یـې بـولي ؟ دا زمـوږ لپـاره اسـاسي خـبره نـده اونـه زمـوږ ددې سره لېوالتیـا شـته چـې ټولـه نړۍ دې زمـوږ دفتحواودامریکـا دشکست سندرې ووایې .

دامریکا وتل ، داشغال پـای تـه رسـېدل اودعـدل او انصـاف نـه ډک د یوسوچه اسلامي نظام نفـاذ زمـوږ اصـل هـدف دی او داهـدف چـې پـه څـومره اسـانه لار ترلاسـه کېـدای شي مـوږ یـې سـخت طرفداراوپـه مقابـل کـې دسـختې لار دانتخـاب خـلاف یـو نوځکـه موجنګ هم روان ساتلی ؛دښمن ته ښه ملاماتونکي ګوزارونـه ورکـوو اوترڅنګ یې په ښه اهتمام ددښمن سره مذاکرات هم کوو.

له دې انکار نه کوو چې ګیني دښـمن بـه مـوږ تـه دامونـه نـه وي ایښي؛ دا دعوی هم نه کوو چې ګیني ددښـمن دټولـو ناکـارو ارادو نـه موږ خبر یواو لا دمخه یې موږ دمخنیوي تدابیر نیولي دي .

مـورِ ايلـه همـدومره وايـو چـې مـورِ اول مسلمانان او بيا افغانان يـو امريکايـان نـه يـو؛ دلتـه اسلامي امارت دی دټرمپ دولـت نـدی؛ مکـاري، منافقـت او وعـده خـلافي مو کلتـور نـدی ؛ وژدان مـو دهغه څه اجازه نـه راکـوي څـه چـې د امريکـا دولـت کوي مـورِ بـه تړپايـه خپلـو وعدو ته ژمن يو ؛ او دخپـل بشرـي تـوان سره سـم بـه ددښمن توطئو ته متـوجې يـو او دمخنيـوي هڅـې بـه يې کوو همدا مـو تـوان دی اوهمـــداسومکلفيت دی؛ نتايج دالله تعـالی پـه لاس کې دي؛ دهغه دکرم نه مـو دا امېـد دی چـې ښـه نتـايج بـه پـرې مرتـب کړي.

نـور هـر دعقـل څښـتن پـدې پـوهېږي چې جنگ دجنـگ ځپلـو ، زورېـدلو ، غريبـو اومظلومـو افغانـانوطبعي شـوق او نفسـاني خـواهش نـدی بلکـې جنـگ دافغانانوکورتـه راوړل شـوی اوپرافغانـانو تحميـل شـويدی؛ د افغانـانو خـاوره قبصـه شـوې او وطـن يـې اشـغال دی ؛ پـه لسـگونوزره افغانـان دقـابض دښـمن اودهغـوئ دنوکرانـو پـه زنـدانونوکې دسـختو کړاوونواواذيتونونه ډکې شپې ورځې تېروي ؛ هـره ورځ يـې پـه کورونـو بمونه غورځېږي اوپه توروشپوکې يـې پـه کورونـو قـابض ځواکونـه او د دوئ لاسپوڅي ورننـوځي؛ ځـوک چـې پکـې وژل غـواړي وژنـي يـې او ځوک چې له ځان سره زندان ته ژوندي بوتلل غواړي بوځي يې.

دافغانستان اسلامي امارت ددې وحشت په مقابل کـې مقـدس جهاد دخپلووينو اوسرونو په سترو قربانيووروان ساتلی دی چـې لـه دې هيڅوک انکار نه شي کولای .

د هېواد او ملت ازادي؛ دخپل دين نه دفـاع ؛ دعـدل او انصـاف په ستنوولاړ داسلامي نظام نفاذ ؛دبهرنی قبضې ختمول زمـورِ لپـاره هغه عالي مقاصد دي چې مورِ ترې هيڅکله تېرېدلی نه شو نوکـه دا اهداف دمذاکراتو لـه لارې ترلاسـه کېدای شي دابـه مولويـه لاسـته راوړنـه وي اوکـه امريکـا لـه مـذاکراتو شـاته کېږي نوپرضـدبه يـې دافغانانومقـدس جهـاد روان وي ځکـه چـې دابـدي غلامـی نـه دخلاصون اونورو عالي اهدافو دحصول بله لار زمـورِ سره نشـته چـې پـدې امريکايـان هـم ښـه پـوهېږي ؛ دا اوس پـه امريکايـانو ده چـې ابرومندانه وتل انتخابوي اوکـه دلازيـاتو مـالي اوځـاني تلفاتونـه پـس دذلت نه ډکه تېښته؟

د امریکایي ولس نظر

او د حکومت جارحانه تګلاره یې...!!

لیکنه: موسی فرهاد

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت دوه تنه لوړپوړو چارواکو د ایراني جنرال قاسم سلیماني د وژلو په اړه په واشنګټن کې خبریالانو ته بریفینګ ورکاوه، چې د خبریالانو له غیرمترقبه جالبو پوښتنو سره مخ شول. هري پوښتنې یې د یوې مناظرې شکل غوره کاوه، له دې نه څرګندیدله چې د خبریالانو پوښتنې تنها ژورنالیستیکي نه، بلکې د یو ژور ولسي اعتراض څرک په کې څرګندیده.

د بیلګې په توګه به یې یوه پوښتنه لږ وروسته راوسپړو، خو ترهغه وړاندې به دې موضوع ته له یوې بلې زاویې هم وګورو.

هغه داسې چې ښایي مورږ او تاسو په دې فکر یو چې د امریکا او ځینو نورو لویدیځوالو حکومتونو استعمارګرانه، تګلاري سره به د هغوی ولسونه هم سل سلنه همغږي وي؛ ځکه چې غربي واکمن همیشه نړۍ ته داسې واه نمود کوي چې ګویا د حکومتونو تولې کړنلارې یې د دیمکراتیکو او بشري نورمونو په اساس د دوی د ولسونو د غوښتنو عکاسي کوي. خو داسې نه ده.

دا سمه ده چې په ځینو وختونو او ځینو حالاتو کې به د هغوی ولسونو د چارواکو د پالیسیو ملاتړ کړی او کوي به یې، خو تل داسې نه وي.

د مثال په توګه، د ۱۱م سپتمبر د پیښې په پلمه پر افغانستان د بریدونو پرمهال امریکایانو ویل چې د خپل ولس

په غوښتنه يې دا جګړه پيل کړې، هغه مهال يې په وار وار پر ميډيا د ټولپوښتنو او سرويګانو پايلې خپريدلې چې ويل يې له ٦٠٪ تر ٧٠ ٪سلنې امريکايان پر افغانستان د برید پلويان دي.

امريکايي چارواکو به ويل چې د همدې ډول ولسي اکثريت د غوښتنو پر بنسټ يې پر افغانستان برید کړی، مګر کله چې په افغانستان کې دوی ورو ورو له ستونزو او بالأخره له شکست سره مخ شول، په وړاندې يې په امريکا کې ولسي- اکثريت د عسکرو د انخلا په پلوي نظر ورکول پيل کړ.

له ۲۰۱۰م کال وروسته هرکال د آزادو سرويګانو په پايله کې د امريکايي چارواکو د جګړه ايزې پاليسۍ خلک مخالف کيدل، حتی چې په ۲۰۱۹م کال کې د (Pew reserche organisation) په نامه اداري په خپل راپور کې وښودله چې ۵۹٪ سلنه امريکايان غواړي چې له افغانستانه بايد امريکايان خپلې پښې سپکې کړي.

دا راز په نورو غربي هيوادونو کې هم دې ته ورته ټولپوښتنې رامنځ ته شوې، خو نه امريکايي او نه د ناټو نورو جنګي چارواکو د يادو سرويګانو پر پايلو غوږ ګرولی، او نه يې دا حس کړې چې د عام ولسي اکثريت د رايې پرآساس خو دوی جګړه پيل کړې وه، نو اوس خو يې بايد چې د همغه ولسي- اکثريت پر بنسټ ختمه هم کړي.

مګر دوی داسې نه کوي، بلکې همغه شان خپل استعماري او د پراختيا غوښتنې جارجانه او ظالمانه سياست ته لا اړم دي، دوام ورکوي.

نو که چيرې په ۲۰۰۱م کې د سرويګانو پايلې قابل احترام وي؛ په ۲۰۱۹م کې بيا ولې د احترام وړ نه دي. نو مالومه شوه چې د غرب خصوصاً د امريکايي استېبليشمينټ له استعمار ګرانه کړنلارو سره که د هغوی د ولس ملاتړ هم وي؛ نو اکثريت نه، بلکې د نيشت برابر اقليت به وي.

د خبريالانو پوښتنې:

لکه مخکې مو چې وويل، د امريکا د بهرنيو چارو وزارت دوو لوړپوړو چارواکو په يو خبرې کنفرانس کې د سليماني د وژنې په اړه توضيحات ورکړل. چې نوموړي پر امريکا د برید پلان درلود ځکه ووژل شو.

خبريال: جناب تاسو وويل، موږ دقيق مالومات درلودل قاسم سليماني پر امريکايانو د برید پلان درلود، آيا لږ نور هم وضاحت راته کولای شئ؟

تاسو ځنګه استخباراتي مالومات درلودل؟

ځنګه برید يې پلان کړی و؟

زه پوهيږم چې تاسو خو داسې مالومات په ۲۰۰۳م کال کې هم درلودل، آيا دا هم هغسې مالومات وو؟

(د خبريال اشاره د عراق برید ته وه، چې امریکا ویلی وو عراق تباه کوونکي وسلې لري او بیا یې ورباندې حمله وکړه)

د خارجه وزارت چارواکی: تاسو کوشش مه کوئ چې دا پیښه د عراق له هغې سره مقایسه کړئ.

خبریال: زه فقط همدا وایم او په همدې ځان پوهول غواړم؟

چارواکی: دا داسې دی، لکه درې کسان. (دچارواکي مطلب دا دی چې یعنی هغه وخت بل حکومت کار کړی و بیا بل حکومت و او اوس بل)

خبریال: همدا امریکا ، او همدا حکومت یې و. (یعنې هغه کار هم د امریکا حکومت وکړ او دا هم د امریکا حکومت)

چارواکی: زه فکر کوم دا یو ناکامه قیاس دی.

خبریال: زه له تا نه د قیاس پوښتنه نه کوم، ته زما د سوال ځواب راکړه.؟

چارواکی: نه، ته فقط قیاس کوي.

خبریال: ښه، خو هغه حکومت په ۲۰۰۳ کې هم ویلی وو، موږ کلک استخباراتي مالومات لرو تاسو پرموږ باور وکړئ،

او اوس تاسو هم وایاست چې پر موږ باور وکړئ، موږ څنګه پرتاسو باور وکړو؟

راته ووایاست څنګه پټ مالومات مو درلودل چې قاسم سلیماني پر امریکا د برید څنګه پلان درلود؟ کولای شی وضاحت ورکړي؟

چارواکی: ته وایي چې هغه حکومت یوه تشه ادعا کړې وه، نو ولې باید موږ اوس د دغه حکومت چې له هغه نه جدا دی؛ پر ادعا باور ولرو؟ دا فقط ... دا خبره هیڅ مانا نلري. دا کاملاً سره جدا دي.

خبریال: راځئ چې خبره تر همدې ځایه پورې را لنډه کړو، زما د سوال په اړه نور خاص څه وضاحت راته کولای شي؟

چارواکی: قاسم سلیماني په سیمه کې ډېر سفرونه کول.

خبریال: ټیک ده، مګر دا سفرونه خو ده هر وخت کول، آیا دا یې د وژني لامل شو.؟

چارواکی: هغه د ملګرو ملتونو په تورلیست کې و، له همدې هم مالومیږي چې هغه یو خطرناک شخص و، کنه ولې د ملګروملتو د امنیت شورا تور لیست ته لویدلی؟

آیا ته پوهیږي، هغه به علناً د امریکا خلاف څه خبري کولې، هغه ولې له یو انجینر سره په موټر کې سپور و څوک چې له ده سره ووژل شو؟ موږ پوهیږو هغه د برید پلانونه درلودل.

هغه په سیمه کې ډېر سفرونه کول، هغه حتی هیڅ رخصتي هم نه کوله، د امریکا خلاف هغه ډېر خطرناک پلانونه په کار اچول.

خبریال: آیا تاسو فکر کوئ چې ایران به د دې برید غچ واخلي،؟ او تاسو به یې په وړاندې څه کوئ؟ چې امریکایی اتباع له داسي انتقامي بریدونو وساتئ؟

چارواکي: موږ خو فعلاً هم د دوی تر حملو لاندې یو. دوی زموږ پر سفارت حمله وکړه.

خبریال: آیا تاسو انتظار کوئ چې ایران به انتقامي برید وکړي؟

چارواکي: دا ویل ګران دی.

خلاصه:

د امریکایی چارواکو دا غونډه که څه هم په ظاهره یو خبري کنفرانس و، خو ډېر اوږد بحث او مکالمه تقریباً ترپایه په همدې بڼې سره دوام پیدا کړ، د هر خبریال پوښتنې داسې وې چې د چارواکو پر بهرنۍ تګلاره یې کلک احتجاج کاوه، او د خپلو چارواکو پر نیت شکمن و، داسې ښکاریدله چې د امریکا بهرنۍ تګلاره د امریکا په ستر زیان ګڼي. او دا ډول استعمار ګرانه پالیسي د امریکایی ولس نه، بلکې د چارواکو شخصي آیډیا بولي.

پای ..!

نور د افغانانو په خیر کې ولټوي

د نړۍ هیوادونه له ډیره وخته لګیا دي خپلو ولسونو ته د خیر او سهولتونو د حاصلولو لپاره هلې ځلې کوي او دا ددوی حق هم ده او باید چې ویې کړي، خو ځینې بدبخته هیوادونه بیا خپل خیر د بل په شر کې لټوي چې اکثرو یې د نورو خلکو هیوادونه د خپل هیواد لپاره رنګ کړي او د خپلو ولسونو د ژوند ژغورولو په نوم یې د نورو هیوادونو لسګونه زره خلک وژلي دي.

افغانستان هم دا څو لسیزې د داسې ظالمانو له لاسه په کندوالې بدل شوی او ځینو نورو یې بیا کندوالي هم ور رنګې کړي دي، زمونږ هیواد او ولسونه د ظالمانو د لاسه په نړۍ کې هیڅ قیمت او پور نلري که هر چا په هر نوم هر څومره وژلي هیڅ صرفه یې نه ده کړې، خو کومه ګټه او هدف یې هم نه ده تر لاسه کړی.

که د نړۍ خونخوارانو افغانان په دې نوم وژلي چې افغانان ختم شي، نو په دې ارمان کې ناکامه شوي دي، او که په دې نوم یې وژلي چې افغانان دې د دوی زور او قوت ته تسلیم شي نو دا ارمان هم تر اوسه د چا نه ده پوره شوی، او که په دې نوم یې وژلي چې خپل کلتور او خپل وضعي او بیکاره قوانین پرې ومنې دا ارمان یې هم نیمګړی پاتې شوی ده

نړۍ په دې اوس پوه شوې ده او باید چې نوره پوی هم شي چې دلته زور، بدماشي، پریمانه مرګونه، وحشي زندانونه او هرقسم تجربې ناکامې شوي دي، نړیوال دې پوه شي چې که زمونږ هیواد د دې لپاره ورانوي چې خپل هیوادونه او ولسونه ارام کړي نو دا سوچ او فکر یې غلط ده، او که په دې نوم مو وژلي چې د دوی ولسونه ونه وژل شي نو دا فکر یې هم دروغ او له مکر او فریب څخه ډک ده او کومه نتیجه به ترلاسه نکړي،

مونږ افغانان یو، زمونږ عادت له نورې نړۍ څخه بیل ده، مونږ چې څومره ووژل شو همدومره مو غوسه او انتقام سخت وي، که کورونه مو وسوزول شي مونږ بې د دیوالونو پخیدو ته خوشحالي کوو او وایو چې که کورونه مو وسوزیدل نو د کورو دیوالونه مو پاخه شول،

هغه د طالب جان مروت شعر زمونږ د زندګي او انتقام اخستلو ښه ترجماني کړې ده چې وایي:

زه د تیلي "ګوګړ" په شان عادت لرمه،
چې لږ مې ومـوږې نو اور واخـلم،
په دغه اور کې اول ځـان سیزمه،
بیا راسره دا ټول جـهان سیـزمه،

نړیوال کـه چیرې ربښتیا د خپلـو هیوادونـو او ولسـونو خیـر او هوسـایي غـواړي نـو خپـل خیـر او هوسایي دې زمونږ په خیر او هوسایي کې ولټوي،

نور دې د ظلم، جبر، وحشـت، غرور او سر زوری ناکامه تجربـې نـه تکـراروي او پـه دې دې سر خـلاص کړي چې تر دې وړاندې افغانان دوی پیژنـدلي نـه وو او د افغـان ولـس پـه پیژندلو کې چا غلط پوی کړي وو،

تر څو چې د نړۍ زورواکان او ظالمان د افغانـانو حقوقو ته درناوی ونلري، د افغانانو خبرو ته غـوږ ونـه نیسي، د افغانـانو سره لـه نرمـي، انسـانیت، اخلاقـو او متقابل احترام څخه کار وانخـلي، نـو هـیڅ کلـه دې دا فکـر نکـوي چـې دوی بـه هـم د ارام او هوسـا ژونـد خښتـان شي.

افغانان عزتمند خلک دی مګـر د بـل لـه عـزت سره همهاله د خپل عـزت هـم غوښـتونکي دي، داسـې هیڅکله کیدی نشي او نه تر اوسه داسې شوي چې چا دې د افغانانو په بې عزتي کې خپل عزت موندلی وي،

افغانان پوهیږي چې له ظـالم، زورور او هرقسـم خپـل سري او زورواکـي سره مقابلـه کـولای شي نـور هیوادونه که له مرګ او یا د وطن لـه بربـادي ویریـږي افغانانو ته همدا دوه شیان ورلـه غـاړې دي، وطـن یـې تیار د ظالمانو دلاسه کنډواله ده، او که ځانونـه څـومره وساتي هم بې رحمه ظالمان بې بیا هم وژني،

نو هغه متل ده، چې لغړ له اوبو ویره نلري، که د نړۍ ظالمان هرڅومره د افغانانو وژلو ته دوام ورکړي، نو

افغانان هم له ځـانونو د بـاروتو واسـکتونه تـاوه وي او لوی لوی موټرونه له باروتو ډکوي او د خپـل ځـان سره لسګونه او سلګونه هغه زورور او بدماشان وژني کومو چې ددوی د وژلو نیت کړی ده،

که نړیوال سرزوري او ظالمان څومره هم خپلو وحشتونو او ظلمونو ته زور ورکوي همدومره به افغانان هم د خپل انتقام لپاره د دغو بدماشانو او بنکروړو سره خپلې سینې او هډوکي جنګوي،

یو ځل بیا هم دا وایم چې افغانان د دار خلک نه دي او نه هغه څوک دي چې چاته خپل انتقام ور پریږدي،

دا منم چې افغانان به غریبان وي کمزوري به وي خو که نړیوال یې هر څومره زغلوي همدومره منډې به ورسره وهي او سترې کیږي به،

که نړیوال زوروا‌کان او بدماشان زیاتې مرګونې وسلې او د بمونو مور، بمونه لري خو هغه د مرحوم امیرالمؤمنین رحمه الله تعالی د کاني کرښه خبره دي هم یاد ساتي او اوس به یې منلې هم وي چې د امریکا د یرغل په ابتداء کې یې ورته ویلي وو چې ستاسو وسلې مرګونه کولی شي خو له مرګ څخه مو نه شي ژغورلی

دا چې اوس نړیوال زوروا‌کان په دې پوهیدلي چې افغانانو سره زور کارول انتن نه ورکوي نو یې د سولې هڅې شروع کړي دي او د هغو کندوالو اوسیدونکو افغانانو سره د مسئلو د سولییز حل په لټه کې دي چې هیواد یې څو لسیزې د زوروا‌کانو او بدماشانو سره په مقابله کې په کندواله بدل شوی ده،

نړیوال زوروا‌کان باید نور له عقل څخه کار واخلي او د خپلو ولسونو او هیوادونو خیر، ګټه او ارامي د افغانانو په په خیر، ګټې او ارامي کې ولټوي،

افغانان د خپل دین، هیواد، استقلال، او کلتور ساتلو او ګټلو لپاره له هرڅه تیر دي، که یو لور ته له دښمن سره په مقابله کې له ځان څخه باروت تاوه وي، بل لور ته خپل کور هم له باروتو او ماینونو ډکوي او د دښمن له رارسیدلو سره خپل کور ته په خپله انفجار ورکوي او د دښمن غوښې او هډونه د خپل کور سره همهاله بادباد کوي.

مطلب افغانان د خپل لور هدف لپاره هره قربانې په ډیر شوق او اخلاص سره کوي

څه موده مخکې رسنیو د ډونالډ ټرمپ له قوله دا خبر نشر کړو چې افغانان جنګ ته داسې د ساعت تیري او سیاحت لپاره ځي لکه مونږ چې د کوم مېچ کتلو لپاره ستوډیوم ته په شوق روان یو

همداسې د امریکا پخوانې ولسمشر- بارک اباما هم د افغانانو دا عادت پیژندلی وو او ویلي یې وو چې افغانان پاخه جنګیالي دي او د تیرو څلویښتو کلونو راهیسې په جګړه بوخت دي او له افغانانو جګړه ګټل مشکل کار ده

دا چې دغو دوو د عصر فرعونیانو د افغان ولس په غیرت او قهرماني اعتراف وکړو نو باید چې نور خپلې ناکامې تجربې دلته وا نه ازمویي او د ځان د خلاصولو مظبوط هوډ وکړي

افغانان د دمکاردښمن په مکر او چل ول باخبره خلک دي ان شاءالله چې لکه څنګه چې په تش لاس په نظامي ډګر کې الله جل جلاله کامیاب کړل په سیاسي ډګر کې به هم همداسې کامیاب وي

ان شاءالله تعالی

په ۲۰۱۹، کال کې

د ملکي تلفاتو او زیانونو څو بېلګې!!

سید سعید

۲۰۱۹ز، کال کې دیرغلګرو او حکومتي ځواکونو په چاپو، بمبارونو، ټغیله وسلو او مخامخ بریدونو کې ګڼ شمېر کورونه، مسجدونه، مدرسې، شوونځي، کلینیکونه، بازارونه او دوکانونه ورانو او زیامن شوي او زرګونه هیوادوال شهیدان، ټپیان او بندیان شوي دي.

په لاندې کرښو کې به دملکي تلفاتو څو هغه ارقام درسره شریک کړو، چې د کره لاسوندونو پر بنسټ چمتو شوي او د پیښو نوعیت، ځای، نیټه، عامل، دشهیدانو او ټپیانو شمېر او.... ورسره لیکل شوي دي.

۲۰۱۹، جنوري

دجنوري په ۳مه دبادغیس ولایت دمرغاب ولسوالۍ د اسحاقزو په سیمه کې دداخلي عسکرو دتوپچي په ډزو کې یوه دارالحفاظ کې پنځه حافظان شهیدان شوي دي.

د جنوري په ۵مه دکندهار ولایت دشاولیکوټ ولسوالۍ دلوړ شاولیکوټ په اډه کې اشغالګرو بمبار کړی، په بمبار کې شپږ تنې میرمنې او اووه کسان نارینه شهیدان او درې تنه ټپیان شوي دي.

د جنوري په ۷مه دهلمند ولایت دګرمسیر ولسوالۍ په سفار سیمه کې یرغلګرو او حکومتي ځواکونو دخلکو پر کورونو چاپه وهلې، ګډو ځواکونو دچاپې په مهال دبازار لسګونه دوکانونه، دبرک دمؤسسې یوکلینک او دملکي خلکو لسګونه نقلیه وسایط ویجاړ کړي او دوه تنه ډاکټران، یوه ښځه او دوه عام وګړي یې شهیدان کړي دي. دغایې خلکو په وینا په دې چاپه او بمبار کې پرځاني زیان سربیره د ۴۰ ملیونه افغانیو معادل تاوان ورته رسیدلی دی.

د جنوري په ۱۲مه د بادغیس ولایت دجوند ولسوالۍ د پنج بز په سیمه کې یرغلګرو او داخلي عسکرو چاپه وهلې، د کورونو دروازې ماتې کړې او لس تنه ملکي هیوادوال یې شهیدان کړي دي.

د جنوري په ۱۵مه د فاریاب ولایت دشیرین تکاب ولسوالۍ د فیض اباد او کوه صیاد په سیموکې د داخلي عسکرو دهاوان په ډزو کې اووه تنه ولسي-وګړي شهیدان او ټپیان شوي دي.

د جنوري په ۱۶مه دکندهار ولایت د میوند ولسوالۍ د سره بغل کانتینر بازار او لوی کاریز سمو کې اشغالګرو او حکومتي قواوو له طالبانو سره ترجګړې وروسته دښځو او کوچنیانو په ګډون شل تنه ملکي هیوادوال شهیدان او څلور تنه ټپیان کړي دي.

د جنوري په ۲۳مه دهلمندولایت دسنګین ولسوالۍ د زاره بازار په سیمه کې یرغلګرو او حکومتي ځواکونو بمبار کړی، په دغه بمبار کې دمیرمنو او کوچنیانو په ګډون اووه لس تنه ملکي وګړي شهیدان او پنځه تنه ټپیان شوي دي.

فبروري

د فبروري په ۸مه شپې مهال دهلمند ولایت د سنګین ولسوالۍ د څاروان قلعه، پوزکي، خانانو اوبارکزي کلیو کې اشغالګرو او حکومتي عسکرو چاپه وهلې او بمبار یې پرې کړی، په دغه بمبار کې

ديوې کورنۍ پنځه تنه نارينه، يوولس تنې ښځې او ماشومان شهيدان شوي او پنځلس تنې ميرمنې او کوچنيان ټپيان شوي دي. همداراز په د پ چاپه کې ګډو ځواکونو يو مسجد، درې کورونه، دوه دوکانونه او اته عرادې موټر سوځولي دي.

د فبروري په ۱۸مه د ننګرهار ولايت دخوګيانو ولسوالۍ په ټينګ ميداکانو سيمه کې يرغلګرو او حکومتي ځواکونو دچاپې په مهال اته تنه ملکي وګړي شهيدان او ټپيان کړي او خلکو ته يې درونده مالي تاوان هم رسولی دی.

د فبروري په ۲۲مه يرغلګرو او حکومتي عسکرو د ميدان وردګ ولايت دجلګې ولسوالۍ په (شرتوغي، چتو، درانيو او بابک) کليو چاپه وهلې او وروسته يې پرسيمه بمبار هم کړی، په بمبارکې د شرتوغي سيمه د جګړن په نام يوه ملکي هيوادوال کور بمبار شوی اودنوموړي په ګډون د کورنۍ نهه تنه غړي يې شهيدان شوي دي. د يادشوي کلي مسجد هم بمبار شوی او پنځه تنه کليوال په کې شهيدان شوي دي. همداراز په چتو کلي کې يې دوه کورونه ويجاړ کړي، درې تنه ملکي وګړي يې شهيدان کړي او ګڼ نور يې ژوبل کړي دي. په درانيو سيمه کې يې هم يو سپين ږيری شهيد کړی، کور يې ورته تخريب کړی دی. د بابک په نوم کلي کې يې يوه ديني مدرسه بمبار او په يو مخيز ډول ويجاړه کړې او دمدرسې سانونکی يې شهيد کړی دی.

د فبروري په ۲۶مه رسنيو خبر ورکړ چې، دسرپل ولايت د سنګچارک ولسوالۍ په مربوطاتوکې دحکومتي ځواکونو په بمبار او توپچي ډزو کې ۳۰ کورونه ويجاړ شوي او ۱۰۰ کورنۍ له سيمې کډوالۍ ته مجبورې شوي دي.

مارچ

د مارچ په ۵مه د لغمان ولايت دپادښې ولسوالۍ په کروچ سيمه کې ديرغلګرو په خو ډرون حملو کې نهه تنه ولسي وګړي شهيدان شوي دي.

د مارچ په ۸مه اشغالګرو او داخلي عسکرو د ننګرهار لايت د حصارک ولسوالۍ په ناصرخيلو سيمه کې د ملکي خلکو په کورونو چاپه وهلې، دکورونو دروازې يې ماتې کړې، قيمتي توکي يې له کورونو وړي او په اخر کې يې پر سيمه بمبار کړی، په دغه بمبار کې د ډاکټر نظرګل په نوم ملکي هيوادوال د کورنۍ ديارلس تنه غړي چې اکثره يې ښځې او ماشومان دي شهيدان شوي او دوه تنه ټپيان دي.

دمارچ په ۹مه د پکتيکا ولايت د برمل ولسوالۍ په رخه سيمه کې ګډو ځواکونو دچاپې په مهال اته تنه ولسي وګړي شهيدان کړي.

دمارچ په ۱۲مه ګډو قواوو د غزني ولايت دشلګر ولسوالۍ په شيرکلا سيمه کې د ملکي خلکو يو پلانکوچ موټر په نښه کړی، اته تنه سپرلۍ پکې شهيدان شوي، ځايې خلک چې د شهيدانو په انتقالولو بوخت شوي الوتکو بيا بمبار پرې کړی چې له امله يې لس تنه نور ملکي هيوادوال شهيدان او ټپيان شوي دي.

د مارچ په ۲۰مه د هلمند ولايت دسنګين ولسوالۍ په شرافت سيمه کې ګډو ځواکونو دطالبانو يو زندان په نښه کړی، په ياد شوي محبس کې حکومتي عسکر او جنايي اسيران بنديان وو، چې د بمبار له امله لسګونه بنديان شهيدان شوي دي.

دمارچ په ۲۲مه د کندز مرکز تيلاوکه سيمه کې ګډو ځواکونو په يوه کورېمبار کړی، چې له امله يې ديارلس تنه د يوه کور غړي شهيدان شوي دي. ددې ولسي وژنې په غبرګون کې خلکو پراخ لاريون وکړ، دشهيدانو جسدونه يې داعتراض په توګه له خان سره ليږدول، مظاهره کونکو وويل چې پر کورونو دې بمبارۍ او چاپې ودول شي، کنه غج به واخلي.

د مارچ په ۲۳مه د غزني ولايت دزنخان ولسوالۍ په کوګيراو فقير کليو باندې يرغلګرو چاپه وهلې، په کوګير کلي يې يوه ديني مدرسه او يو مسجد ويجاړ کړی، شپږ تنه دمدرسې زده کونکي يې

شهیدان او درې تنه ټپیان کړي. په فقیرکلا کې یې هم یو مسجد او کن کورونه په ټوپونو الوزولي دي.

د مارچ په ۲۵مه اشغالګرو او داخلي عسکرو د کابل ولایت د سروبي ولسوالۍ کرګو قلعه کلان کې د ښځو او ماشومانو په ګډون خوارلس تنه ملکي وګړي شهیدان او ټپیان کړي او یو شمېر کورونه یې ویجاړ کړي دي.

اپریل

داپریل دمیاشتې په لومړۍ نیټه دکندهار ولایت د شاولیکوټ ولسوالۍ د سرخ بید په سیمه کې د اشغالګرو په ډرون حمله کې نهه تنه ملکي هیوادوال شهیدان او څلور ټپیان شوي دي.

داپریل په ۲مه د دایکندي او ازرګان ولایت ترمنځ پر لویه لار باندې یرغلګرو د ملکي خلکو د سپرلۍ پرموټر ډرون حمله کړې، چې له امله یې په موټر کې سپاره اته تنه ملکي هیوادوال شهیدان شوي دي.

داپریل په ۳مه یرغلګرو او حکومتي قواوو د پکتیکا ولایت دنکې ولسوالۍ په عاشقي کلي کې چاپه وهلې، دکورونو دروازې یې ماتې کړې، دوولس تنه ملکي هیوادوال یې له خپلو کورونو ایستلي او ټول یې پر سر- سر ویشتلي او شهیدان کړي دي. د شهیدانو نومونه: (د کلي ملاامام مولوي عبدالقیوم، حمدالله، قوي الله، محمد الله، عبدالله، محمدولي، پایکل، ظاهرجان، نسیم، رفیق الله، ذبیح الله او موسی خان)

د اپریل په ۷مه د لوګر ولایت مرکز پل علم په پادخواب شانه سیمه کې اشغالګرو د قومي مشرانو په یوه غونډه ډرون حمله کړې، په دې حمله کې اووه تنه قومي مشران شهیدان او زخمیان شوي دي.

داپریل په ۷مه د خوست ولایت دباک ولسوالۍ سپرکي او شمل خیلو کلیو باندې ګډو ځواکونو چاپې اچولې او د همدې کلیو ۵۰ تنه عام وګړي یې د بندیانو په توګه له ځان سره وړي دي.

داپریل په ۱۸مه د میدان وردګ ولایت د نرخ ولسوالۍ په صد مردي دره کې دګډو ځواکونو په بمبارکې دښځو او ماشومانو په ګډون اته تنه ملکي هیوادوال شهیدان شوي دي.

داپریل په ۲۱مه د پکتیکا ولایت د سروضې ولسوالۍ په مارزکو کلي کې دیرغلګرو او داخلي عسکرو په چاپه کې اووه تنه ملکي هیوادوال شهیدان شوي دي.

داپریل په ۲۶مه د پروان ولایت مرکز ته څېرمه خلازیو سیمه کې یرغلګرو او داخلي عسکرو دچاپې په مهال اووه تنه ملکي هیوادوال شهیدان کړي او خلکو ته یې مالي تاوانونه رسولي دي.

داپریل په ۲۷مه د پکتیکا ولایت دبرمل ولسوالۍ مرکز بازار سره نږدې سیمه کې اشغالګرو او حکومتي ځواکونو دولسي- وګړو پرکورونو چاپې وهلې، د ملکي وګړو اته کورونه یې په ټوپونو الوزولي، لس تنه ملکي هیوادوال یې شهیدان کړي او دوه تنه یې بنیدیان کړي دي. دشهیدانو نومونه: (محسود خان، مولوي شمال، عبدالولی، محمدرسول، نجیب خان، محمد علی، جلندر، شیرباد خان، روزی خان اونور محمد).

داپریل په ۲۸مه اشغالګرو او داخلي عسکرو د لوګر ولایت دمحمدآغې ولسوالۍ په برګ کلي چاپه وهلې، د کورونو دروازې یې په ټوپونو الوزولې، پنځه ماشومان او یوسړی یې په سپیو ډارلې او زخمیان کړي او درې تنه کلیوال یې بندیان کړي دي.

داپریل په ۲۹مه د ننګرهار ولایت دخوګیانو ولسوالۍ په زاوي سیمه کې یرغلګرو او حکومتي عسکرو دچاپې په مهال اووه تنه ملکي وګړي (یارګل، قادر، سیف الله، حنیف الله، صبور، شکور او غفور) شهیدان کړي او دوې میرمنې یې ټپي کړي دي.

مۍ

دمۍ په ۱مه د میدان وردګ ولایت د سیداباد ولسوالۍ باقرخیلو ته نژدې شش کلا کې دحکومتي عسکرو دهاوان په ډزوکې یوه میرمن او دوې نجونې شهیدانې شوې او اووه تنه ماشومان او ښځې ټپیان شوي دي.

دمۍ په ۲مه د غزني ولایت د ده یک ولسوالۍ په نیاز کلا اوسرأنداز کلا باندې یرغلګرو او داخلي عسکرو چاپه وهلې، یوولس تنه ملکي هیوادوال یې شهیدان کړي او دخلکو له کورونو یې قیمتي توکي او پیسې وړي دي.

دمۍ په ۵مه د فراه ولایت دبکوا ولسوالۍ داشکین، پلوشي او سپین کاریز او د نیمروز ولایت ددلارام ولسوالۍ د شاګیو او دوراهي سیمو کې یرغلګرو بمبار کړی، په دغه بمبارکې اتیا (۸۰) تنه ولسي- هیوادوال د ښځو او ماشومانو په شمول شهیدان او ټپیان شوي او خلکو ته خورا ډیر مالي زیانونه رسیدلي دي.

دمۍ په ۱۳مه کډوځواکونو د میدان وردګ ولایت ددایمرداد ولسوالۍ (موکه، کونج، دادوخیل، احمدخیل، سپین دیوال، قولزنکي او کودي) کلیو چاپې وهلې، خلکو ته یې پراخ مالي تاوانونه رسولي او په پای کې یې په سیمه کې د یوې مدرسې اووه تنه حافظان او دوه خادمان شهیدان کړي او یو شمېر کلیوال یې بندیان کړي دي.

د مۍ په ۱۹مه د کندهار ولایت شاولیکوټ ولسوالۍ البک کاریز سیمه کې اشغالګرو او داخلي عسکرو دچاپې په مهال اووه تنه ولسي وګړي شهیدان او دوه کسان ژوبل کړي دي.

دمۍ په ۲۷مه د پکتیکا ولایت دبرمل ولسوالۍ په ماستو سیمه کې پنځه تنه قومي مشران (قومي مشر کلام خان، قومي مشر ماشوم خان، قومي مشر ضمیرخان، قومي مشرشیرګل او قومي مشر ولي خان) چې د زیروک ولسوالۍ ورژانه کلي اوسیدونکي وو دیرغلګرو په هوایي برید کې شهیدان شوي دي.

د مۍ په ۲۷مه د پکتیا ولایت دجانې خیلو ولسوالۍ په ورګوړه کلي باندې یرغلګرو او داخلي عسکرو چاپه وهلې، خلکو ته یې مالي تاوانونه رسولي

جون

د جون په ۱۳مه د فراه ولایت د بالابلوک ولسوالۍ په شیوان سیمه کې یرغلګرو او داخلي عسکرو ۳۰۳د موټریو ه نمایندګي بمبارکړې چې له امله یې اووه تنه مسافرین شهیدان شوي او دوه تنه ټپیان شوي دي.

د جون په ۱۴مه د زابل ولایت دمیزاني ولسوالۍ د پوتي کلي کې یرغلګرو او داخلي عسکرو دچاپې په مهال لس تنه ملکي هیوادوال شهیدان کړي، په شهیدانو کې یو تن دخاک افغان ولسوالۍ او سیدونکی و او نور دهمدې سیمې او سیدونکي وو، چې په خپلو کروندو کې به په کښت مشغول وو.

د جون په ۱۵مخه د غزني ولایت دشلګر ولسوالۍ په ملا ګلان اوجوی دو سیمو کې اشغالګرو په ډرون حمله کې اووه تنه ملکي هیوادوال شهیدان کړي دي.

د جون په ۲۹مه یرغلګرو او داخلي عسکرو د میدان وردګو ولایت دچک ولسوالۍ د نیک پایکول درې په چهلګزیانو کې په یوه دیني مدرسه چاپه وهلې، دمدرسې اووه تنه تنکي زده کونکي یې شهیدان کړي، دمدرسې ودانۍ یې تخریب کړې، او څلور تنه ولسي وګړي یې بندیان کړي دي.

جولای

د جولای په ۸مه یرغلګرو د بغلان ولایت د ډنډ شهاب الدین په کتب خیلو سیمه کې پر یو کور ډرون حمله کړې، په دې برید کې د یوې کورنۍ اووه تنه غړي شهیدان شوي دي. خلکو دشهیدانو جسدونه پلخمري ته راوړي وو او د پلخمري- مزار لار یې داعتراض په توګه د ترافیکو پر مخ ټرلې وه.

د جولای په ۱۳مه کډو خواکونو د میدان وردګو ولایت د جغتو ولسوالۍ په لاغریو، کمال خېلو، چوپان او بلندخېلو کلیو باندې چاپې وهلې، د کورونو دروازې یې په ېمونو الوزولې، خاروي یې ویشتلي او دخلورو ورونو په کډون یې اووه تنه ملکي وګړي شهیدان کړي دي.

د جولای په ۱۴مه کډو خواکونو د دایکندی ولایت د کیزاب ولسوالۍ په خلج سیمه کې دښځو او ماشومانو په کډون ۲۳ تنه ملکي هیوادوال شهیدان کړي دي.

د جولای په ۱۵مه امریکایي الوتکو د لوګر ولایت مرکز اړوند کمالخیلو سیمه کې هغه مسجد ېمبار کړ چې خلک پکې د قرآن کریم تفسیر ته ناست وو، په دغه ېمبار کې د کمال خیلو مسجد په یو مخیزه توګه ویجاړ شوی، خلور ویشت (۲۴) تنه ملکي هیوادوال شهیدان او لس تنه پکې ټپیان شوي دي.

د جولای په ۱۷مه د هلمند ولایت دموسی کلا ولسوالۍ په میان دښت سیمه کې یرغلګرو دملکي خلکو پر یوه ګنه ګونه ډرون برید کړی، چې له املې یې اووه لس تنه هیوادوال چې اکثر یې دهیواد له نورو سیمو دمزدورۍ لپاره سیمې ته راغلي وو، شهیدان شوي دي.

د جولای په ۲۸مه د پروان ولایت د سیاګرد ولسوالۍ په قمچاق او دشتک سیمو کې حکومتي خواکونو د ملکي خلکو په ګنو کورونو، مسجد او مدرسه چاپه وهلې، مدرسه، جومات او ځیني کورونو یې په ېمونو الوزولې، اووه لس تنه ملکي هیوادوال یې شهیدان او یو نامعلوم شمېر یې ټپیان کړي دي، همداراز له سیمې څخه د وتلو په مهال یې دیرش تنه عام کلیوال د بندیانو په توګه له ځان سره ېبولي دي.

اګست

داګست په ۱۱مه د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالۍ په کولالګو سیمه کې یرغلګرو او داخلي عسکرو چاپه وهلې، یوولس تنه ملکي هیوادوال یې چې دلېسې استادان، محصلین او عام وګړي وو، له کورونو رایستلي او بیا یې په مخامخ ډزو کې شهیدان کړي دي، خلکو د لاریون په مهال ددې پېښې غندنه وکړه اودعاملینو دمجازات غوښتنه یې وکړه، خو ولایتي چارواکو یې ځواب نه درلود او ویل یې چې دغه عملیات ددوی له خبرتیا پرته ترسره شوي دي.

داګست په ۱۶مه د غزني ولایت د ګیلان ولسوالۍ په حضرت شاه بازار کې یرغلګرو د ملکي هیوادوالو دسپرلۍ پر موټر ډرون برید کړی، په دغه حمله کې د ښځو او ماشومانو په کډون نهه تنه ملکي وګړي شهیدان شوي دي.

د اګست په ۱۹مه د لوګر ولایت مرکز مربوط دادو خیلو سیمه کې د ملي امنیت ځانګړو ځواکونو دوه تنه ولسي هیوادوال په ماینونو الوزولې، طلوع نیوز په دې اړه یو راپور خپور کړی، په راپور کې دشهیدانو د کورنۍ د غړو له خولې ویل شوي، چې دملي امنیت ځواکونه یې نیمه شپه په کور ورختلي او د کورنۍ دوه غړي (محمد امین چې تازه له سعودي څخه راغلی و او ۱۶ کلن ځوان) یې د کور په انګړ کې په ېمونو کښېنولي او منفجر کړي دي، د محمد امین پلار محمد رحیم طلوع ته ویلي چې زوی او ملسي یې هیڅ ګناه نه وه کړې، خو دامنیت ځواکونو راته ټوک- ټوک کړل. یاده شوې پېښه د لوګر امنیه قوماندان مخلص تائیدوي او په وینا یې د پلټنې لپاره یې یو پلاوی تاکلی اوتر تحقیقاتو وروسته به د پېښې ټول جزئیات له رسنیو سره شریک کړي.

داګست په ۲۰مه د ارزګان ولایت د چهارچینو ولسوالۍ مرکز هوشي سیمه کې د داخلي ځواکونو په ېمبار کې اته تنه ولسي وګړي شهیدان شوي دي.

داګست په ۳۱مه د شپې مهال یرغلګرو او داخلي عسکرو د غزني ولایت د ناوې ولسوالۍ په بازار چاپه وهلې، سل (۱۰۰) دوکانونه، ۲کلینیکونه،

۴هوتلونه، ۳ دتیلو پمپونه او دملکي هیوادوالو کن نقیله وسایط یې سوځولي دي.

سپتمبر

د سپتمبر د میاشتې په لومړۍ نیټه د فاریاب ولایت د ګرزیوان ولسوالۍ مرکز ته څېرمه دحکومتي ځواکونو په ېمبار کې دښځو او ماشومانو په ګډون دوولس تنه ملکي وګړي شهیدان او اته نفره ټپیان شوي دي. د فاریاب د ولایتي شورى غړي صبغت الله سیلاب هم ذکر شوې ولسي مرګ ژوبله تائید کړې ده.

د سپتمبر په ۴مه د ننګرهار ولایت د جلال اباد ښار د درېیمې ناحیې په عربانو کلي کې دصفر ۲ قطعې عسکرو څلور تنه ملکي وګړي: (قاضي قادر، جهانزیب زاخېلوال، صبور زاخېلوال او بهادر زاخېلوال) په خپل کور کې شهیدان کړي دي.

د سپتمبر په ۵مه د ارزګان ولایت دچهارچینو ولسوالۍ په سیګزي او زمبوري سیمو کې د یرغلګرو او داخلي عسکرو په چاپه او ېمبار کې شپږ ویشت تنه ملکي هیوادوال شهیدان شوي او درې کورونه ویجار شوي دي.

د سپتمبر په ۵مه د ارزګان ولایت د خاص ارزګان ولسوالۍ د شیخي، نیکروز، بادینزو او شیخانو په سیمو کې یرغلګرو ېمبار کړي، په دغه ېمبار کې یوولس تنه ولسي وګړي شهیدان شوي دي.

د سپتمبر په ۶مه د بدخشان ولایت د وردج ولسوالۍ په مربوطاتو کې یرغلګرو پر یو کور ېمبار کړی، چې له امله یې د ښځو او ماشومانو په ګډون د یوې کورنۍ شپږ تنه هیوادوال شهیدان شوي دي.

د سپتمبر په ۱۹مه د لوګر ولایت مرکز اروند کمالخیلو سیمه کې یرغلګرو پر یو مسجد ېمبار کړی، کومو خلکو چې تر ېمبار وروسته د شهیدانو د رایستلو هڅه کړې، پر هغوی هم ېمبار شوی، په دواړو حملو کې اووه تنه ولسي وګړي شهیدان شوي دي.

د سپتمبر په ۱۹مه د ننګرهار ولایت د خوګیانو ولسوالۍ د وزیرو د تور اوټ په سیمه کې یرغلګرو او حکومتي عسکرو د چلغوزیو په راتولونکو کاریګرو ېمبار کړی، دننګرهار دولایتي شورى غړي اجمل عمر په وینا په دغه ېمبار کې څلوریښت تنه ملکي هیوادوال شهیدان او دیرش نور ژوبل شوي دي.

د سپتمبر په ۲۲مه ماښام مهال دهلمند ولایت د موسى کلا ولسوالۍ دکونجک او شواروز سیمو کې دیرغلګرو او حکومتي عسکرو په چاپه او ېمبار کې درو نوي (۹۳) تنه ولسي- هیوادوال چې زیاتره یې ښځې او ماشومان دي شهیدان او ټپیان شوي دي، حکومت ویلي چې په دې عملیاتو کې یې طالبانو ته لوی زیان اړولی، خو د ولسي وګړو، قومي مشرانو او دهلمند دولایتي شورى د غړو په وینا برید د وادە په مراسمو شوی چې له امله یې ټول زیان ملکي وګړو ته رسیدلی دی، همداراز په دې عملیاتو کې دواده دمراسمو درې موټر او شپږ کورونه ویجار شوي دي.

اکتوبر

داکتوبر په ۱۳مه د بدخشان ولایت د وردج ولسوالۍ په باشند کلي کې دیرغلګرو او حکومتي ځواکونو په ېمبار کې پنځلس کورونه ویجار او دښځو او ماشومانو په ګډون دیارلس تنه ولسي- وګړي شهیدان او شل تنه ټپیان شوي دي.

د اکتوبر په ۱۵مه د میدان وردګو ولایت د نرخ ولسوالۍ په صدمرده او سنګ کلا سیمو کې اشغالګرو او داخلي عسکرو اووه تنه ملکي وګړي شهیدان کړي، پنځه تنه یې بندیان کړي او لس کورونه یې تخریب کړي دي.

نومبر

د نومبر په ۳مه د پکتیا ولایت په ځاځي اریوب ولسوالۍ کې یرغلګرو غره ته په خاشاکو پسې تللو کلیوالو درون برید کړی، په دغه برید کې شپږ تنه ملکي هیوادوال شهیدان شوي دي.

د نومبر په ۶مه د بادغیس ولایت د آب کمري ولسوالۍ د میدقل په سیمه کې حکومتي ځواکونو پر یو کور بمبار کړی، په بمبار کې دهمدې کور د مشر په شمول نهه تنه ښځې او ماشومان شهیدان شوي دي.

ډسمبر

ډسمبر دمیاشتې په لومړۍ نیټه د خوست ولایت دمرکز او علي شېرو ولسوالۍ ترمنځ په غځېدلې لاره باندې یرغلګرو دملکي وګړو دسپرلۍ پر موټر ډرون حمله کړې، چې له املې یې د یوه کور شپږ تنه غړي شهیدان شوي دي. پیښه داسې مهال رامنځته شوې چې دیادې شوې کورنۍ غړي په ښار کې دماشوم له زیږدلو وروسته دخپل کور پر لور روان وو، د عیني شاهدانو په وینا په دې پیښه کې درې ښځې، دوه سړي او یو نوی زیږدلی ماشوم له منځه تللي دي.

د ډسمبر په ۵مه د ارزګان ولایت دمرکز ترینکوټ د پای ناوې په خنجک سیمه کې یرغلګرو او حکومتي قواوو دملکي خلکو پرکورنو چاپه وهلې، ګڼ شمېر ولسي وګړي یې شکنجه کړي، درې تنه یې بندیان کړي او بیا یې پر سیمه بمبارکړی چې له املې یې دوولس تنه ملکي هیوادوال شهیدان او دوه تنه ټپیان شوي دي.

د ډسمبر په ۱۴مه دغور ولایت د دولتیار ولسوالۍ د اولاد خواجه دسمک په سیمه کې دیرغلګرو او حکومتي ځواکونو په بمبارکې دوه نارینه، یوه میرمن او پنځه تنه ماشومان شهیدان شوي، دوه مسجدونه او پنځه دیرش کورونه زیانمن شوي او پر دې سربیره خلکو ته ډیر مالي تاوان هم رسیدلی دی.

د ډسمبر په ۱۶مه اشغالګرو او داخلي عسکرو دکندهار ولایت دشاولیکوټ ولسوالۍ د چنار د سپین کیچې په سیمه کې دچاپې په مهال اته تنه ولسي وګړي شهیدان کړي او څلور نفره یې بندیان کړي دي.

د ډسمبر په ۱۶مه د غور ولایت د دولتیار ولسوالۍ د سمک په سیمه کې دګډو ځواکونو په بمبارکې څلویښت کورونه ویجاړ او زیانمن شوي او دښځو او ماشومانو په ګډون یو نا معلوم شمېر ولسي وګړي پکې شهیدان او زخمیان شوي دي.

د ډسمبر په ۱۹مه د ننګرهار ولایت د خوږیانو ولسوالۍ دتور غر په بېتنیو کلي کې ګډو ځواکونو دچاپې په مهال اووه تنه ملکي وګړي شهیدان کړي او دماشومانو په ګډون یې څو تنه ژوبل کړي دي، بریدداسې مهال شوی چې په نښه شوي خلک په خپل پتي کې په کار بوخت وو.

د ډسمبر په ۲۳مه یرغلګرو او داخلي عسکرو دارزګان ولایت دمرکز ترینکوټ مربوط شاه منصور سیمه کې دولسي وګړو پر کورونو بمبار کړی، چې له املې یې یو شمېر کورونه وران شوي او د څلورو کوچنیانو په ګډون لس تنه ملکي هیوادوال شهیدان شوي دي.

د ډسمبر په ۲۴مه ګډو ځواکونو د کاپیسا ولایت د نجراب ولسوالۍ په غ، پچه خان او افغانیه دره کې دچاپې په مهال ۸ تنه ملکي وګړي چې میرمنې او کوچنیان هم پکې دي شهیدان کړي او ۴تنه یې زخمیان کړي دي.

دډسمبر په ۲۹مه د کندوز ولایت مرکز د بزکندهاري په تپه علي سیمه کې دیرغلګرو په بمبار کې ځوارلس تنه ولسي هیوادوال شهیدان شوي او یو نامعلوم شمېر نور ټپیان شوي دي.

مأخذونه: [بي بي سي راډیو، ازادي =، افغان اسلامي اژانس، پژواک =، خپریال ویبپانه، لراوبر=، نن ټکی اسیا=اوبینوا=]

طالبان ولې له امریکانو سره خبرو ته لومړیتوب ورکوي ؟

لیکوال : مصلح افغان

له هغه وخت څخه چې طالبانو له امریکایي جهت سره مذاکرات پیل کړي په سوشل میډیا، او نور چاپي رسنیو او خپرونو کې د هغو اشخاصو او کړیو له لوري چې غواړي طالبان ملت ته د افغانانو د دښمنانو په نوم وروپېژني دغه سوال زیات مطرح کېږي.

که څه هم دې سوال ته د اسلامي امارت د ویاندویانو او د سیاسي دفتر له لوري په خپل وخت ځواب ویل شوی خو بیا هم د طالب د ښمنان د دې سوال د بیا بیا تکرارولو په هڅه کې دي. تر څو د نظامي بریا ترڅنګ د سیاست په میدان کې د طالبانو د غه ستره بریا تر سوال لاندې راولي.

زما په فکر اوس هغه وخت تېر شوی چې دښمنانو به د طالب د بدنامولو خوبونه لېدل. نن مونږ ګورو چې د امریکا په شمول تقریبا ټوله نړۍ طالبان د خپل هېواد د آزادۍ د سپېڅلو او خپلواکو مبارزینو په نوم پېژني، د نړۍ او سیمې په کچه ستر هېوادونه طالبانو ته د ورتلو او ملاقات بلنې ورکوي او هغوي هم له یادو هېوادونو سره په مستقل ډول ملاقاتونه کوي او د خپل هېواد او هېوادوالو ستونزې ورسره شریکوي.

که یو څوک د عقل له نعمت څخه برخمن وي او د افغانستان په تیرو سیاسي جریاناتو یو لنډ نظر وکړي هېڅکله به دغه سوال ورسره پیدا نه شي. او نه به د کابل موجوده اداري ته د یو منتخب او خپلواک نظام او حکومت په نظر وګوري.

د امریکا او ناټو له لوري په هېواد له وحشیانه یرغل مخکې طالبان د افغانستان په پنځه نوي سلنه خاوره حاکم وه هغه وخت افغانانو د ډمکراسۍ ، ټاکنو، پارلمان ، ملي اردو ، اربکیانو او جاسوسانو په نوم هېڅ نه پېژندل او نه یې هم وجود درلوده.

یواځې د هېواد په ځینو شمالي ولایاتو کې له کلیو او ښارونو شړل شوې د شراو فساد ملیشې د ځینو ګاونډیو هېوادونو په کومک او همکارۍ د هېواد د تجزیې او خپلو شخصي او تنظیمي موخو ته د رسېدلو په هیله په جګړه بوخت وه.

په همدغه حالت کې امریکا او ناټو د اسلامي نظام د له منځه وړلو لپاره د مختلفو بهانو په لټولو سره زمونږ په هېواد وحشیانه یرغل وکړ . چې اسلامي امارت هم د اسلامي ارشاداتو په رڼا کې د ښکیلاکګرو په وړاندې د جهاد اعلان وکړ.

هغوی د دې له لپاره چې افغانستان کې خپل د اسلام ضد پلانونه عملي کړي او د اسلامي نظام په ځای په افغانانو د ډمکراسۍ په نامه پلیت نظام مسلط کړي او د خپلو عسکرو د مرګ ژوبلې کچه راټیټه کړي د افغانانو له بې وزلۍ او فقر څخه په استفاده یې د ملي اردو پولیسو او داسې نورو ادارو په جوړولو پیل وکړ.

کرزی یې د رئیس جمهور او څه نور په غرب کې روزل شوي او پخواني ټوپکسالاران یې د وزیرانو او حکومتي مشرانو په توګه په ملت حاکم کړل. امریکانو له یادو افغانانو څخه د یوځو ډالرو په مقابل کې د افغانانو په ضد د اوزارو په توګه کار واخیست.

چې په زرګونه افغانان یې د هېواد د ساتنې په نوم داجیري اردو او پولیسو لیکو ته جلب کړل او طالب سره یې د خپلې ناولي جګړې لمړۍ کرښې ته واستول چې په زرګونو یې په دې صلیبي جګړه یې ووژل شول او له دې نه په څو چنده زیات شمېر کې یې ټپیان او معیوب شول او دا لړۍ لاهم روانه ده.

دا چې طالبانو د اشغالګرو په وړاندې مقدس جهاد او خپل هېواد د آزادۍ سپېڅلې مبارزه پیل کړې او لاهم ادامه لري نو سوال نه پېدا کېږي. چې طالبان دې له داسې یوې اداري سره خبرې وکړي کومه چې د اشغالګرو له لوری د هغوی د اهدافو د پرمخ بیولو لپاره جوړه شوې. او له عسکرو څخه یې اشغالګرو د خپلو ځانونو لپاره یو سپر په توګه کاراخیستی.

کله چې د الله تعالی په نصرت او د افغانانو د بې کچې قربانۍ او فداکارۍ په نتیجه کې خارجي اشغالګر له هېواده ګډه بارکړي افغانان په خپل منځ کې راټول شي او سپېڅلې په دین او وطن مین خلک به د برخلیک جوړلو لپاره انتخاب کړي، ځکه دا یوه شرعي فقهي مسئله ده چې کله په کوهي کې یو مردار حیوان ولوېږي نو کوهۍ یواځې د دې مردار حیوان په راوېستلو نه پاکېږي بلکې له کوهي څخ باید ټولې پلیټې اوبه هم وویستل شي.

افغانان یواځې له همدې خلکو څخه عبارت نه دي کوم چې په موجوده اداره کې کار کوي بلکې په افغانانو کې الحمد لله داسې سپېڅلې په دین او وطن مین کدرونه شته چې په خپل علم، کمال او هېوادنۍ مینه به ان شاء الله خپل هېواد په خپلو متو سمسور او له سیالانو سره سیال کړي

چې په حقیقت کې دا د موکراتانو لپاره هم ناوړه ده، باید داسې نه وي.

تېر کال په افغانستان کې ۲۰امریکایان ووژل شول. ممکن دا خلکو ته ټیټه شمیره ښکاري، خو هلته زموږ د عسکرو ټولیز شمیر ته په کتو، دا خورا غټ تلفات دي. (ځکه د پخوا په پرتله اوس د امریکایی ځواکونو شمېر ډېر کم دی، نو باید تلفات یې هم کم وای، خو که مقایسه یې وشي؛ نو دا غټ تعداد دی).

مقاله زیاتوي: د واشنګټن پوسټ د اسنادو له مخې، له ۲۰۰۱ راهیسې تراوسه، له ۷،۷۵،۰۰۰ ډېر امریکایی سرتیري افغانستان ته استول شوي چې ۲،۳۰۰ یې په جګړو کې وژل شوي او ۲۰،۵۸۹ نور یې ټپیان شوي دي.

راځئ چې دا هم هیره نکړو چې په دې جنګ کې افغانان هم وژل شوي.

د واشنګټن پوسټ د افغانستان د اسنادو له مخې داسې اټکل کیږي چې ٦١،١٢٤ افغان امنیتي ځواکونه، ٤٣،٠٧٤ ملکي وګړي او ٤٢،١٠٠ تنه طالبان وژل شوي دي.

د مقالې لیکوالې وړاندې لیکي: افغانان د خپل جګړه ځپلي هیواد د بیارغونې لپاره وخت ته اړتیا لري، مګر د دوی ډیری یې حتی داسې وخت په یاد نه لري چې کله دې دوی د خپل منځي او یا بهرني ځواک سره په جګړه کې نه وي.

افغانستان یو داسې هیواد دی چې له لسیزو راهیسې په جګړو کې ښکیل دی، ځکه خو هلته د ډېرو هڅو سربیره هم د آبادۍ کارونه نشي کیدلای.

مقاله وایي: متحده ایالات اوس یوازې دې ته اړتیا لري چې جګړې ته د پای ټکی کیږدي او د یوې ورځې لپاره هم باید زموږ سرتیري او مالي سرچینې ضایع نشي.

موږ باید حتما له افغانستان څخه د وتلو لپاره د طالبانو یا بل کوم چا تصویب ته اړتیا ونلرو، د سولې لپاره د یو آیډیال ټرون لپاره انتظار کول، په جګړه کې د پاتې کیدلو په مانا دی.

ښایی زموږ د امریکایی ولس د نوي کال وړاندیز دا وي چې زموږ پوځي ځواکونه دې نور په نړۍ کې د هرې ستونزې حل کولو ته اوږه نه ورکوي، او نه یې دا دنده ده.

زموږ باید تمرکز پر دي شي چې خپل وخت او خپلې سرچینې د متحده ایالاتو په ګټه وکاروو. او دا کار باید موږ کلونه وړاندې لا کړی وای.

لیکواله د خپلې مقالې په پای کې لیکي، موږ نه یوازې دا چې افغانستان سمولای نشو، بلکې زموږ په شتون سره هلته وضعیت او کارونه نور هم بدتر کیږي.

همدا وخت دی چې باید ځان را ټول او له افغانستانه را ووځو.

پای .....!!

دا اسلام غزوات او سرلیا

بني تميم ته دعيينة بن حصن فرازي سريه



په تبر پسې
ابوظهير

دمکې مکرمې دعظيم الشان فتح ،ورپسې دحنين په لويه معرکه کې دبري ترلاسه کولو وروسته چې کله رسول الله صلی الله علیه وسلم دحنين غنايمو له ويشلونه وزګارشو، دځينو مفتوحه سيمو لپاره يې واليان اوعمالان تعين کړل،دذی قعدة الحرام په ۱۸مه، په شپه کې د«جعرانه» نه مکې ته دعمرې کولو لپاره مکې تهراغی، «عتباب بن اسيد» يې دمکې لپاره د والي په حيث مقرر کړ اومعاذبن جبل رضی الله تعالی عنه يې ددينې معلم او استادپه توګه بيرته په مکه مکرمه کې پريښود اوخپله د دوه مياشتو اوشپاړس ورځو سفروروسته دذی قعدة الحرام په ۲۷مه صحابه وو سره يوځای مدينې منورې ته ستون شو.

دهجرت په ۹ کال، په محرم الحرام مياشت کې يې« بشربن سفيان عدوی» دصدقاتو ټولولولپاره واستاوه،نورقبايل او قومونه دزکات ورکولو لپاره تيارشول خو بني تميم مزاحمت وکړ،هغوی ويل چې:په خدای سوګندله دې ځای نه به يو اوښ هم څوک بو نه ځي!

هغوی خپلې تورې تيرې کړې او دجنګ لپاره تيارشول،بشر يې په ليدو بيرته ستون شو،رسول الله صلی الله علیه وسلم «عيينة بن حصن فرازي» پنځوسو مجاهدينوته مشر- مقررکړاو د«سقيا» په نوم سيمې ته يې واستاوه،چيرته چې بني تميم ميشت وو،داسيمه د« جحفا» نه داوولس ميله په مسافت لرې پرته وه،صحابه هلته دشپې ورسيدل په بني تميم يې حمله وکړه، دهغوی نه يې يوولس نارينه،۲۱ ميرمنې او۳۰ماشومان ځانوسره مدينې ته بوتلل، ددې وروسته بنو تميم مجبورشول او خپل يوولس کسيز وفديې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ولیږه،په کوم کې چې په نورو سربيره عطاردبن حاجب،زبرقان،قيس بن

عاصم او اقرع بن حابس هم وو،کله چې هغوی مدینې منورې ته ورسیدل،نودرسول الله صلی الله د« مبارکې حجرې » شاته ودریدل او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یې داسې غږو کړ:

محمده! بیرون راووزه، موږدرسره په مفاخره اوشاعري کې مقابله کوو، زموږ مدح،زینت ده،اوزموږمذمت، عیب دی

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته په ځواب کې وفرمایل: داخو دالله تعالی شان دی باقي زه نه شاعریم او نه ماته دفخرکولو حکم شوی دی،په دې سره دا ایت نازل شو:

إِنَّ الَّذِينَ يُنَادُونَكَ مِن وَرَاءِ الْحُجُرَاتِ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ (۴)وَلَوْ أَنَّهُمْ صَبَرُوا حَتَّىٰ تَخْرُجَ إِلَيْهِمْ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ ۚ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ (۵)

ژ: په تحقیق سره کوم خلک چې تاته دحجرې له شاوازونه کوي زیاتره بیعقل دي،که هغوی دومره صبرکولی چې ته ورته راوتی وي نو دا به د دوی لپاره غوره وه او الله ښونکی ومهربان دی

ځیرنه:دیته په کتو عبد الله بن عباس رضی الله تعالی عنهما به چې کله قرآني علومو حاصلولولپاره سید القراء ابی ابن کعب رضی الله تعالی عنه کورته، ورته؛نو دادب په وجه یې دروازه نه ور ټکوله ،او دراوتوپه انتظار به ناست و،څو هغه پخپله راووزي،یوځل ابی بن کعب رضی الله تعالی عنه ورته وویل: دروازه به دي ټکولې وه! عبد الله بن عباس رضی الله عنه وویل:اَلعَالِمُ فِی قَومِهِ کَالنَّبِی فِی اُمَّةٍ وقدل قال الله تعالی فی حق نبیه علیهِ الصلوات والسلام و لَوْ أَنَّهُمْ صَبَرُوا حَتَّىٰ تَخْرُجَ إِلَيْهِمْ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ ۚ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ (۵)

ژ: عالم پخپل قوم کې په منزله دپیغمبروي او الله تعالی دخپل پیغمبرصلی الله علیه وسلم په حق کې فرمایلي: ولوأنهم صبروا الخ

دیته په پام سره زیاترو علماوو،محدثینو اوفقهاوو دخپلو استادانوکورونوته داستفادي په موخه ورتلو په مهال یې هغوی ته دروازې نه ورټکولې او ترهغو به یې انتظارکاوه چې استادان به پخپله ورته راووتل...

دبني تمیم وفدته رسول الله صلی الله علیه وسلم راووت،دماسپښین دلمانځ وخت و،لمونځ یې وکړ،دلمانځه وروسته دمسجدپه میدان کې کیناستل وفد ویل:موږ دمفاخرې لپاره راغلي یو،زموږ شاعراوخطیب ته دځه ویلو اجازت ورکړئ ،رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:اجازت دی

بنو تمیم خطیب عطاردبن حاجب پورته شو او خطبه یې وویله:

اَلحمدُ الله الّذِی لَهُ عَلَینَا الفَضلَ وَهُو الذِی جَعَلنامُلُوکا وَ وهبَ لَنا اموالا عِظَاما نفعَلُ فِیهَا المعروف وجعلناأعزّاَهلِ المشرق وَاَکثرَعدداوَعِدةً فَمَن مِثلِنافِی الناس، لَسَنابِ رؤسِ النّاس واَفضلهم فَمن فَاخرنا

فَلیَعدُدمِثلَ مَاعَددنا وانّالَوشِئنا لاَ کثرنا الکلام ولکنّانَستَحی مِن الاِکثاروانّانَعرف بِذالک اقُولواهذا لاَن تأتوبمِثلِ قولنا وامرٍاَفضل من امرِنا

ژ:حمد دی هغه پاک ذات لره، کوم چې موږ ته فضیلت راکړی دی اوپاچایان یې ګرځولي یو،مال و دولت یې راکړی دی کوم چې موږ په ښوکارونو مصرفوو،اوموږ ته یې په ټول «اهلِ مشرق» فضیلت راکړی دی،اوزیات اولادونه،قوت اوشوکت یې راکړی دی، نوپه خلکوکې زموږپشان څوک دي،ایا موږ دخلکوسرداران او دهغوی نه غوره نه یو، هغه څوک دي چې غواړي موږ سره په ویاړونو کې مقابله وکړي هغوی ته پکاردي چې زموږ پشان مفاخراومناقب وشماري،څنګه چې موږ خپل مفاخربیان کړل، اوکه موږ وغواړو نو دخپلو مفاخرو اومناقبو په بیانولوکې اوږده اوږده تقریرونه کولی شو،خو موږته دخپلو مفاخروپه بیانولوشرم راځي،ما زکه داوویل که څوک ددي مثل اویا ددي نه غوره راوړی راشي نو رادي وړي!

عطارد چې له وینا فارغ شو کیناستو رسول الله صلی الله علیه وسلم ثابت بن قیس بن شماس انصاري ته دجواب ورکولو حکم وکړثابت بن قیس ته سملاسي پورته شو او دا لاندې ویناپې وکړه:

الحمد الله الذی السمواتُ والارض خَلقُه قضی فِیهن امرَه، ووسِع کرسیّهُ عِلمُهِ ولم یکن شیئ قط اِلّامن فضله ثم کان من قدرته اَن جَعَلَنامُلوکا واصطفی خَیرَخَلقِه رَسولا اَکرَمهُ نَسَبًا وَاَصدَقهُ حدیثا وَاَفضَلُه حَسباً وانزل علیه کتابا وائتَمَنهُ عَلی خلقِه فَکَانَ خیره الله فِی العَالمِین ثم دعا الناس اِلی الاِیمان به فآمن برسولِ الله صلی الله علیه وسلم المهاجرون من قومه وذوی رحِمهِ اَکرمُ الناسِ اَحسَاباً واَحسَنِ الناسِ وجوهاًوخیرُالناسِ فعالاثم کُنّا اَوّلَ الخلقِ اِجَابَة واستِجابةً لله حِین دعارسول الله فَمن آمن بِالله ورسولِه مَنعَ مالَهُ و دَمَهُ من کَفَرجَاهدناهُ فِی الله ابداً وکانَ قتلهُ عَلینا یسیراأقولُ قَولِی هذا استغفِرالله لِی ولِلمُؤمنین والمؤمنات والسلام علیک

ژ:هغه پاک ذات چې اسمانونه او زمکې یې پیدا کړي دي،اوپه هغوکې یې خپل حکم جاري کړی دی،دهغه علم په ټولو کائناتو محیط دی، هرڅه چې دي ټول دهغه له فضل دي، بیا هغه پخپل قدرت سره موږ پاچایان ګرځولي یو، او دمخلوقاتوبهتر انسان یې دخپل استازي په توګه رالیږلی دی، کوم چې په حسب ونسب کې له ټولو غوره دی او خدای تعالی ورباندې یوکتاب نازل کړی اوهغه یې په ټول مخلوق امین ګرځولی، هغه په ټولو جهانوکې ترټولو الله تعالی ته خوښ بنده دی، د الله دي رسول ټولو خلکوته دایمان دعوت ورکړ، ترنورو وړاندې مهاجرینو په هغه باندې ایمان راوړو،بیاموږ انصارو دالله تعالی دنبي ددعوت په منلو کې ترټولوړومبی یو،اوموږ انصار دالله ددین مرسته کوونکي او درسول الله صلی الله علیه وسلم ملګري یو، موږ دخلکو سره ترهغه پورې جهادوقتال کوو څو چې هغوی ایمان نه وي راوړی، څو

څوک چې په الله او دهغه په رسول باندې ایمان راوړي هغه خپل ځان اومال خوندي کړ،او چاچې کفروکړدهغه سره مورِ دخدای تعالی په لارکې جهادوقتال کوو او دهغه قتل مورِ ته اسان دی داهغه څه دي ما غوښتل چې ویې وایم، او زه دخدای تعالی نه دځان لپاره او دټولو مؤمنانواو مؤمناتو لپاره دمغفرت دعاء کوم والسلام

ورپسې«زبرقان بن بدر» پورته شو هغه دخپلو مفاخرو اومناقبو په اړه یوه قصیده وویله،رسول الله صلی الله علیه وسلم حضرت حسان بن ثابت رضی الله عنه ته یې دځواب ورکولو حکم وکړ:

حسان رضی الله عنه پورته شو «فی البدیهه»یې دهغه په ځواب کې قصیده وویله،اقرع بن حابس وویل:په خدای سوګندستاسو خطیب زمورِ دخطیب نه او ستاسو شاعرزمورِ دشاعرنه لوی دی ، ټول په اسلام راوړو مشرف شول،رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته انعامونه ورکړل او هم یې ټول بندیان هغوی ته و سپارل(زرقاني۳ټوک۴۲- ۴۵ مخ)

دبنی المصطلق په لور دولیدبن عقبه بن ابي معیط استول:

رسول الله صلی الله علیه وسلم ولیدبن عقبه دصدقاتو ټولولو لپاره دبنی المصطلق لورته واستاوه، کله چې هغوی خبرشول نوپه ډیره خوشالۍ یې خپلې وسلې واچولې اوپه پوځي شان وشوکت کې دولید هرکلي لپاره ووتل، کله چې ولید دلري نه داحالت ولیدنوفکریې وکړ کیدای شي بنې المصطلق خلک دپخوانیوعداوتونو او دده له کورنۍ سره دزړې دښمنۍ په وجه مقابلې ته یې راوتي وي،نوپه دې وجه ولید له لارې څخه بیرته ستون شو او راغی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یې حالت بیان کړ،چې ګواکې هغوی داسلام نه مرتد شوي دي، او دزکات ورکولوڅخه یې انکار کړی دی

ددې په اوریدو رسول الله صلی الله علیه وسلم متعجب شواو په همدې تردد کې و چې داخبر بنې المصطلق ته ورسید،هغوی سملاسي راغلل او رسول الله صلی الله علیه وسلم یې له اصل حقیقت نه خبرکړ په دې سره لاندې ایت نازل شو:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِن جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوا أَن تُصِيبُوا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوا عَلَىٰ مَا فَعَلْتُمْ نَادِمِينَ (الحجرات، ایت:٦)

ژ: ای ایمان والو! که تاسي ته کوم فاسق خبر راوړي، نو د هغه تحقیق وکړئ، مباداچې په ناخبرۍ کې کوم قوم ته څه ضرروررسوئ اوبیا پخپلو کړوباندې پښیمان شئ

دلته دایادونه ضروري ده چې په دې ایت کې د«فسق» نه لغوي معنی مراددده،یعنې داطاعت نه خروج کول که هرڅومره دمعمولي درجې خروج وي، دلته اصطلاحي اوشرعي فسق مراد ندی،دکبیره ګناه قصداً ارتکاب ته دشریعت په اصطلاح کې فسق ویل کېږي، یعنې ولیدچې کوم څه تاسوته وویل،منشایې

دهغه غلط فهمي وه، په دې‌وجه‌ايت کې دفسق نه لغوي فسق مراددی، اوخبرچون خلاف دواقعې و،ه دې وجه يې ورته فاسق وويل، او په دې معنی کولو سره دصحابي فاسق کيدل شرعاً فاسق کيدو ته مستلزم نه کېږي (سيرة المصطفى مولانا كاندهلوي ۲ټوک ۸۲٦مخ)

په حديث کې راغلي چې دايمان اويا شعبې دي، اعلى درجه شعبه« شهادة ان لااله الا الله »ده او ادنى درجه شعبه دلارې نه ازغى اونور څه لري کول پاته نورې شعبې د دي دواړو په منځ کي دي،اوپه هره شعبه باندې دايمان اطلاق کېږي،همداسې په قران وحديث کې دفسق،او دمعصيت او دظلم اطلاق دکفرنه واخله ترصغيره ګناه پورې شوی څنګه چې دايمان مراتب مختلف دي په ورته توګه دکفر او معصيت مراتب هم مختلف دي دحضرت ادم عليه السلام په لغزش باندې هم دمعصيت لفظ راغلی دی «وعصى آدمُ ربَّهُ فغوى» اوپه کفرباندې هم دمعصيت اطلاق شوی دی لکه« ومن يعص الله ورسوله الخ»

ليکن ښکاره ده چې د دواړو ترمنځ دزمکې او اسمان فرق دی، لفظ اګر که يودی خو په معنی کې مختلف دی،نوپه ياد ايت کې چې دفاسق کوم لفظ راغلی دی په لغوی معنی باندې محمول کېږي،نه پرشرعي فسق، زکه صحابه ټول عادلان اوثقه وو،رضی الله عنهم ورضوا عنه، معاذ الله که شرعي فسق وای نوالله تعالى به له هغوی نه راضي کيده ځکه د الله تعالى فرمان دی: ان الله لا يرضى عن القوم الفاسقين.

دېته په کتو امام بخاري رحمه الله هم باب اينبی دی:

بابُ كفران العشيرِ، وكُفرٍ دون كفرٍ،وباب ظلمٍ دون ظلمٍ

نوربيا...

جګړه که جهاد؟

توپير، مفاهيم، ډولونه او اسباب

■ مولوي عبدالله

د بشريت تاريخ ته که څلنده نظر وشي، له کومه چې انسان دنيا ته راغلی، هيڅ يوه زمانه داسې نه ده تېره شوې چې په هغې کې د خلکو، ولسونو او احزابو ترمنځ جګړې او جنګونه نه وي شوي، بلکې داسې هم شوي چې د يوه امت او قبيلې ترمنځ جنګ راغلی وي، خو دا نه معلوميږي چې کوم يو په حقه او کوم په ناحقه دی او که دواړه په باطله دي.

دا د ژوند لپاره يو واقعيت دی چې مورِ يې بايد ومنو يا د ژوندیو لپاره تګلاره ده چې دې ته په ډېرو ايتونو کې اشاره شوې لکه :

{وَقُلْنَا اهْبِطُوا بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ وَلَكُمْ فِي الْأَرْضِ مُسْتَقَرٌّ وَمَتَاعٌ إِلَى حِينٍ} [البقرة: ٣٦] مورِ امر وکړ: اوس تاسې (د جنت څخه ځمکې) ته کوز شئ، تاسې به ديو بل دښمنان ياست او تر يوې مودې پورې مو په ځمکه کې هستوګنه او هملته ژوند تېرول دي.

يعنې په ځمکه کې د حق او باطل، ښو او بدو ترمنځ له لومړي سره دښمني په خپله کې اغېزل شوې.

۲- الله تعالى فرمايي: {وَلَوْلَا دَفْعُ اللَّهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لَفَسَدَتِ الْأَرْضُ} [البقرة: ٢٥١]

که چېرته د الله تعالى ښو بندګانو په جهاد د شريرو حلکو شرارت نه دفع کولای نو اوس به ژوند فاسد و [صفوة التفاسير]

۳- په بل ځای الله تعالى فرمايي : {وَلَوْ شَاءَ رَبُّكَ لَجَعَلَ النَّاسَ أُمَّةً وَاحِدَةً وَلَا يَزَالُونَ مُخْتَلِفِينَ} [هود: ١١٨]

که ستاسې رب غوښتلای نو ټول انسانان يې يوه ډله (ديوه دين پيروان) ګرځولای شول. مګر اوس هغوی په بېلابېلو لارو روان وي.

د همدې جګړې او او دخلکو ترمنځ اختلافاتو له کبله چې هميشه د دوی ترمنځ موجود دی او هغه د دين، معتقداتو، ملتونو، مذاهبو او رايو له وجې دی، مورِ اړ شو چې دلته لومړی د جګړې او جهاد په پېژندنه، مفاهيم او اړوندو اصطلاحاتو، رنا اچوو او ورسره هغه لاملونه چې جګړې ته لاره هواروي او د هرېو ډولونه تاسې ته راوړو:

د حرب (جګړې) او جهاد معنا او ترمنځ يې توپير:

د جګړې (حرب) لغوي معنی:

په لغت کې د عربو علماو په نزد (حرب) کلمه مونثه ده چې د څو معناو لپاره راغلې، مشهورې يې پنځه دي:

۱- الشدّةُ والشُّجاعة : سختي او زړورتيا، رجل حَرْبٌ: معنا سخت، جګړمار او زړور دی.

۲- العداوة (دښمني): لكه أنا حرب لمن حاربني: زه د هغه چا دښمن يم چې ماسره دښمني کوي.

۳-نقيض السلم: د نا امنۍ په معنا

۴- احداد السيوف : د تورو تېره کولو په معنا سره لکه: حرّب السنان: نيزې تېره کول.

۵- نهب الاموال: د مالونو لوټلو په معنا سره هم راځي.

د اټولې د قتال او حرب پورې تړلې معناوې دي، په دښمنۍ سره امن او سوکالي ختميږي، د جګړې لپاره تياری بيا د تورو تېره کولو سره کيږي، په شخړه کې سختي کول او په جګړه کې د خلکو مالونو هم لوټل کيږي.

د جګړې (حرب) اصطلاحي معنا:

جګړه (حرب) معنا دوه کسان په خپل مابین کې سره وژل، یا د دوو قومونو داسې اختلاف راشي چې په وسلو سره وځپي، ددوو ډلو ترمنځ د مصالحتونو په حمایت یا دنفوذ پراخولو ، د خپلو مطالبو او مصالحو په اړه د اختلاف راتلو له وجې ځواک او زور کارولو ته (حرب) وایي.

د جهاد لغوي معنا:

د جهاد لفظ چې له جَهِدَ څخه اخیستل شوی په مختلفو معناو سره راځي، هغه په لاندې ډول دي:

۱- الجُهْدُ: دجیم په پیښ سره : توان او طاقت په معنا راځي ، لکه د الله تعالی دا وینا چې :

{وَالَّذِينَ لَا يَجِدُونَ إِلَّا جُهْدَهُمْ} [التوبة: ۷۹] یعنې د خپلې وسې سره سم لږ مال لري او د جهاد په لاره کې یې صدقه کوي، بس ددوی همدومره توان وي.

۲- الجَهْدُ: (په زور سره): مشقت او تکلیف ته ویل کیږي.

۳- جَهَد الرجل: دلته د ډېر کوشش او خواري کولو په معنا راځي.

۴- اجتهاد او تجاهد: په ټوله معنا خپل ځان سپارل او ترآخري حده کوشش کول.

۵- جَاهَد في سبيل الله مجاهدة وجهاداً : د الله په لاره کې جهاد کول یاد خپل نفس سره مجاهده کول.

دا ټولې معناوې د الله تعالی په لاره کې د جهاد کولو لپاره اړینې دي، دغه رنګې مجاهد هم د الله تعالی په لار کې خپل طاقت او توان مصرفوي، که هرڅومره سختي او ستونزې وي، باید ویې ګالي، ددښمنانو مخه باید ډب کړي او د اعلاء کلمة الله نیت په زړه کې ولري.

راغب اصفهاني رحمه الله لیکي چې : جهاد په درې ډوله دی: له ښکاره دښمن سره جهاد، له شیطان سره جهاد او له نفس سره جهاد او دا درې واړه په لاندې آیتونو کې راځي:

{إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَهَاجَرُوا وَجَاهَدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالَّذِينَ آوَوْا وَنَصَرُوا أُولَئِكَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ} [الأنفال: ۷۲] کومو خلکو چې ایمان راوړ، دغه راز هجرت یې وکړ او د الله تعالی په لاره کې په خپل سر او مال وجنګېدل. او کومو خلکو چې مهاجرینو ته ځای ورکړ او له هغوی سره یې مرسته وکړه، همغوی په حقیقت کې یو دبل دوستان دي.

{وَمَنْ جَاهَدَ فَإِنَّمَا يُجَاهِدُ لِنَفْسِهِ} [العنكبوت: ٦] هرڅوک چې جهاد یې وکړ، دخپل ځان د ښېګڼې لپاره به یې کوي.

{وَجَاهِدُوا فِي اللَّهِ حَقَّ جِهَادِهِ} [الحج: ۷۸] د الله تعالی په لاره کې هغسې جهاد وکړئ څنګه چې د جهاد کولو حق دی.

د جهاد اصطلاحي معنا:

شریعت د جهاد توری له عامې لغوي معنا څخه یوې ځانګړې معنا ته نقل کړی هغه: حق دین بلنه ده، پدې لاره کې چې څه خنډونه مخې ته راځي ، د هغې دلرې کولو لپاره جګړې ته جهاد ویل کیږي.

امام ابن عابدین رحمه الله د جهاد تعریف پدې ډول کوي: هو بذل الوسع في القتال في سبيل الله مباشرة ، أو معاونة بمال، أو رأي، أو تكثير سواد، أو غير ذلك. د الله تعالی په لاره کې خپله ټول توان مصرفول؛ په مال یا په خپلې رایې سره معاونت کول، او یا هم (په ډله کې) ګډون او نفوذ پراخول.

نو د (جهاد) کلمه په قرآن کریم کې د الله تعالی د حق دین دفاع لپاره د خپلې وسې او توان مصرفولو پورې هر ډول جهاد ته شامله ده، که دغه توان د مال په خرچولو او یا ځان قربانولو سره وي، یا که د شیطان او نفس سره د مجاهدې په معنا وي چې دواړه د انسان لپاره په مال او ځان سره د دښمن په صفت له جهاد څخه راګرځوونکي دي؛ انسان ترهغو نه شي کولای چې له خپل ښکاره دښمن سره وجنګیږي، ترڅو یې پټ دښمن (شیطان او نفس) وژلې نه وي.

له همدې وجې قرآن کريم او پاکو حديثونو کې په پراخ ډول سره د نفس تربيې لپاره د جهاد کلمه ډېره کارولې، په قرآني آيتونو کې د (جهاد) کلمه ۳۲ ځلو څخه ډېره راغلې، داسې مهال چې د (حرب) توری څلور پېرې راغلی او مراد تري جګړه يا د وسلو استعمال دی.

ولې جهاد؛ نه جګړه:

هرکله چې اسلامي جهاد د جګړو ، منازعو او شخړو له قبيلې څخه نه دی او د (حرب) توری چې په هغو جګړو يې اطلاق کيږي چې دخلکو ، قومونو، ډلو ټپلو د شخصي او خپل منځي اغراضو لپاره راځي، د کوم فکر او نظريې لپاره نه کيږي، بلکې نور اهداف پکې وي؛ له همدې وجې چې څومره جګړې دي او د خلکو ترمنځ د شخړو او لانجو سره پېژندل کيږي، قرآن کريم يې يو مخ مخالف تعبير راوړی، يواځينی توری چې د الله تعالی رضا او هر ډول جهاد ته شامله ده هغه (جهاد) ده. که څه هم په ځينو ځايونو د (قتال: جګړه) توری ډېری ځايونو کې راوړل شوی خو هغې پسې پيوسته (في سبيل الله) راوړل شوی، چې مطلب يې جهاد دی.

د جهاد مفهوم:

دلته اړينه ده چې دوه هغو متناقضو مفاهيمو يا نظريو ته چې له جهاد څخه په غلط مفهوم اخيستل شوي او شائع شوي، اشاره وشي کوم چې زمونږ منځته غربي مستشرقينو راوړي:

لومړی ډله وايي چې اسلام د تورې او نوپک دين دی او په خلکو د زور له لارې راوړل شوی، او اسلامي فتوحات په قهر او تشدد سره شوي، نه په قناعت او فکر سره او جهاد د هغې لپاره يوه وسيله ده.

بله ډله وايي چې: اسلام د سولې او الفت دين دی، او جهاد پکې يواځې هلته روا دی چې کور ته حمله راوړل شي، ترڅو پورې سولې او خبرو اترو له لارې مسئله حل کيږي، جهاد هلته نشته.

دغو دواړه مفاهيم که مورِ وګورو ډېری خوانانو ته د ميډيا رسيدلي او همدا فکر ورکړل شوی، دا دواړه که څه هم په ظاهره متناقض دي، خو په باطن کې يو دي، چې د هغې مقصد يواځې د جهاد محوه کول دي. غرب غواړي چې د مسلمانانو له ذهنونو څخه د مقدس جهاد مفهوم په غلطو شائعو سره له اذهانو وباسي او د اسلامي نظام جوړولو هيله مړه کاندي.

نو جهاد لپاره يو عام مفهوم او بل خاص مفهوم دی، عام مفهوم دادی چې اسلامي ټولنه جوړول، ټول مدني او اجتماعي چارې په اسلامي چوکاټ کې منظمول؛ بل يې خاص مفهوم دی چې په جهاد سره د اسلام د دښمنانو په وړاندې جګړه کول او د مسلمانانو له خپلو خانونو او د دين څخه دفاع کول، کوم وخت چې دښمن په کور ننوتی وي او جنګ يې راوړي وي. ځنګه چې الله تعالی فرمايي:

{وَقَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوا إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ} [البقرة: ۱۹۰] او تاسې د الله تعالی په لاره کې له هغو کسانو سره وجنګيږئ چې تاسې سره جنګيږي، خو تېری مه کوئ چې تېري کوونکي الله تعالی نه خوښوي.

{وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلَّهِ} [الأنفال: ۳۹] «له کافرانو سره ترهغې وجنګيږئ چې فتنه پاتې نه شي او ټول دين د الله تعالی لپاره شي».

دا هغه اهداف دي چې الله تعالی دهمدغو اهدافو په اساس آدم عليه السلام پيدا کړی او هغه يې په ځمکه کې خليفه ګرځولی. له همدې وجې الله تعالی جهاد مشروع ګرځولی او په مسلمانانو يې دا لازمه ګرځولې چې دوی جهاد وکړي، فتنه، فساد ، ظلم، بغاوت، محوه کړي، د قومونو او ولسونو خپل منځي شخړې ختمې کړي؛ عدل او نيکي راولي.

جهاد او الهي دين لپاره زور او ځواک يو حتمي امر دی، ځکه چې مستبد او ديکتاتوري باغي ولسونه يواځې د زور په ژبه پوهيږي او مادي قوت ته سر ټيټوي، نو جهاد د ټولو مفاسدو او شرارتونو محوه کولو لپاره ترټولو غوره وسيله ده.

نور بيا...

کولالمپور کانفرانس، هیلې او اندېښنې د اسلامي نړۍ متحده که تقسیم شوه؟

حسن مومند

څو ورځې دمخه دمالیزیا په پلازمېنې کولالمپور کې داسلامي هېوادونو تر سره شوي کانفرانس ددې ترڅنګ چې لوېدیځ اوپه ځانګړي ډول امریکاته داندېښنې وړ و ترڅنګ یې سعودي عربستان او ځینې نورعرب هېوادونه هم اندېښمن کړيدي ځکه چې د ډېرو په ګومان دې کانفرانس داسلامي کانفرانس حیثیت ترپوښتنې لاندې راوست .

پدې کانفرانس کې دترکې ولمشر طیب اردګان ، دایران ولسمشر حسن روحاني ،دقطر امیرشیخ تمیم بن احمد آل ثاني او د۱۸ نورو اسلامي هېوادونو نمایندګانو او داسلامي نړۍ ۴۵۰ پوهانو، شنونکو اومذهبي مشرانوګډون وکړ .

دې کانفرانس کې هغو هېوادونو ګډون وکړ چې ځانونه دازادې خارجه پالیسۍ غوښتونکي بولي او دامریکا دظلم پر وړاندې منظم جدوجهد غواړي.

که وکتل شي په کانفرانس کې داسلامي نړۍ د۵۷ هېوادونو له جملې نه ایله کابو دریمې برخې ګډون کړی و خو په رسنیو کې یواځې اندونیزیا ، سعودي عربستان ، دعربو متحده ایالاتو ، مصر ،افغانستان اوپاکستان په نه ګډون تبصرې رامخې ته شوې .

رویټرز خبري اژانس د سعودي عربستان ځینو مسئولینو ته دا خبره منسوبه کړې چې پدې کانفرانس کې سعودي عربستان ته دګډون بلنه ورکړل شوی وه خو ریاض پدې شرط دګډون امادګي ښودلی وه چې دا غونډه داسلامي کانفرانس ترمشرۍ لاندې ترسره شي ؛ دریاض ددې شرط په ردولو سره سعودي عربستان پدې کانفرانس کې د نه ګډون پربکړه وکړه .

> دغه ګډون د پربکړې ترڅنګ سعودي عربستان دیاد د کانفرانس په اړه د خپلو اندېښنو اظهار هم کړی او په اسلامي نړۍ کې یې ددې فکر دخپرولو هڅې کړې چې کیني ددې کانفرانس له لارې داسلامي نړۍ دویشلو هڅې روانې دي.

خود کانفرانفرانس دختمېدو پرمهال دکورېه هېواد مشر مهاتیر محمد دافکر رد کړ او وېې ویل چې دې کانفرانس کې دګډون لپاره ایران اوسعودي عربستان دواړو ته بلنه ورکړل شوی وه ؛ دا کانفرانس دکوم بل کانفرانس یا

تنتظیم مقابل یابدیل ندی ؛ دایواخې داسلامي نړۍ دهېوادونو تر منځ دخپلمنځي تړاو او مرستې یوه نوې هڅه ده .

مهاتیر محمد دا وېره هم ښکاره کړه چې چې د۲۰۱۷م جون میاشت راهیسې چې قطر دکومو بندیزونو سره مخامخ دی او ورسره دیپلوماتیکې اړیکې پرې دي شاید په کانفرانس کې ګډون کونکو یوشمېر هېوادونو باندې هم همداسې بندیزونه ولګول شي او ورسره دیپلوماتیکې اړیکې پرې کړای شي.

مالیزیا دا خبره په ډېر تاکید سره کړې چې دا کانفرانس دکوم بل کانفرانس په مقابل کې ندی جوړشوی .

شنونکي وایي چې دخطر ځای مالیزیا نده مالیزیا خو دعربو اوخصوصا دسعودیانودوهم کورګنل کې؛اوس هم ۳۰زره سعودي ځوانان دمالیزیا په پوهنتونونو کې په زدکړو بوخت دي ؛اصل خبره په ترکي کې ده ؛سعودي عربستان اونورعرب هېوادونه دځان لپاره ترکیه دخطرځای ګڼي ؛غرب عربان وېروي چې ګینې ترکي له ۳ طرفونو نه عربي نړۍ ترخپلې محاصرې لاندې راوستې ده ؛ د افریقا الجزایر ؛ منځنۍ جمهوري افریقا ، چاډ، نایجیریا اوسوډان سره د ترکي دیپلوماتیک روابط ډېر ښه دي او داهېوادونه یې ځان ته ډېر رانېږدې کړیدی .

سوریې اوعراق باندې مشتمله دمنځني ختیځ په الهلال الخصیب نومي ټرانګې کې دترکي دفوځونو شتون او پکې یوشمېر فوځي عملیات دلته دترکي دنفوذ نښه ګڼل کیږي.

اوپدې وروستیو کې چې ترکي دلیبیا سره دتړون له مخې دې هېوادته دفوځونو دلیږلو پرېکړه وکړه نو دې کار عربان لاپسې ورخطا کړل اوخانونه یې رښتیا دترکې په محاصره کې وګڼل .

عربان فکر کوي چې ترکیه دعثماني خلافت بیا ژوندي کول غواړي چې دا کاردوئ دعربو دنیشنلستي دنابودولو په معنی تعبیروي.

> بل لورته اسلام دښمن لویدیځ هېوادونه هم د خپلو رسنیو له لارې داسې تبلیغات کوي چې ترکیه دعثماني خلافت د بیا احیا لپاره کامونه پورته کوي او له دې لارې ترکیه بیا دعربانوسیمې ترخپلې قبضې لاندې راوستل غواړي.

همداسې خبرو داسلامي نړۍ دمهمو هېوادونو ترمنځ اختلافات زیات کړیدي اوهمدې خبرې دکولالمپور داکانفرانس هم متنازع وګرځولو.

شنونکي پدې اند دي چې دکولالمپور پدې کانفرانس کې د۲۰ اسلامي هېوادونو مشرانو یا استازو ګډون نړۍ ته له ځان سره داپیغام لاره چې داسلامي کانفرانس وجود اوس تر سوال لاندې راغلی دی او داسلامي نړۍ دستونزو دحل په هکله اسلامي نړۍ پر دوه برخو دوېشل کېدو پر لور روانه شویده.

په کانفرانس کې داندونیزیا ، سعودي عربستان ، دعربو متحده ایالاتو ، مصر ،افغانستان اوپاکستان په نه ګډون هم په نړیوالو رسنیو کې ډېرې تبصرې رامنځته شوې .

دترکي ولسمشر طیب اردګان دیادو هېوادونو په نه ګډون خپل خفګان ښکاره کړ او ویې ویل چې دکانفرانس نه لږ وړاندې

دسعودي عربستان ولي عهد محمد بن سلمان دپاکستان لومړی وزیر عمران خان خپل هېواد ته په یو ناڅاپي ډول را وغوښتلو او ورته یې پدې کانفرانس کې د نه ګډون غوښتنه وکړه او ترڅنګ یې ورته داګوت څنډه هم وکړه چې که عمران خان یې خبره ونه منله نو ورته ورکړل شوي پیسې به ټولې ورڅنې وغواړي او سعودي عربستان ته دکار لپاره راغلي ۴ ملیونه پاکستانیان به هم له دې هېواده وباسي .

سره له دې چې سعودي عربستان دطیب اردګان دا خبره ردکړیده خو دا چې پاکستان پدې کانفرانس کې دګډون ټینګ هوډ ښکاره کړی و خوبیا نه لومړي وزیر او نه هم دباندنیو چارو وزیر پدې کانفرانس کې ګډون وکړ نو دا ددې خبرې روښانه دلیل دی چې پدې هکله پاکستان یقیناً دیوچاتر فشار لاندې و .

غونډې ته په ویناکې دترکې ولسمشر طیب اردګان دملګرو ملتونو دامنیت شورۍ په اړه وویل چې دامنیت شورۍ ټولې نړۍ دپنځو هېوادونو غلامۍ ته سوق کړی چې همدا کار په نړۍ کې دټولو ستونزو اصل لامل دی .

دترکې ولسمشر طیب اردګان او دمالیزیا لومړي وزیر مهاتیرمحمد وویل چې پر نړیوالې سوداګرۍ دامریکا او نور لویدیځ دقبضې ختمولو لپاره اړینه ده چې په سرو زرو سوداګري پیل کړای شي ؛ دکانفرانس ټولو ګډونوالو دا نظر تائید کړاو اراده یې ښکاره کړه چې داسلامي نړۍ دستونزو دحل لپاره به داسې نورې پربکړې هم وکړي .

پدې کانفرانس کې دقطرداميرشیخ تمیم بن احمد آل ثاني وینا هم ډېره مهمه وه هغه په خپلې ویناکې په عامو مسایلو اوپه ځانګړي ډول دبشر دحقوقو په اړه د نړیوالو ادارو د دوه مخیتوب دیادونې ترڅنګ په اشارو کنایو کې په سعودي عربستان هم رد وکړ:ویې ویل چې ځنې هېوادونه پرځای ددې چې دخبرو له لارې دستونزو دحل فکر وکړي دتکبرلارخپلوي او نور هېوادونه ګوابني چې پدې سره ستونزې نه حل کیږي بلکې لاپسې زیاتیږي .

اوس دا کانفرانس داسلامي نړۍ لپاره ګټور ګرځي او که رښتیا هم پدې سره اسلامي نړۍ په دوه برخو ویشل کیږي ؟ دا به وروسته معلومه شي خو زما په فکر پدې کانفرانس کې دنړۍ ستر و زیر ځواکونو ته دا پېغام شته چې داسلامي نړۍ په اړه ددوئ روانه پالیسي سخته ناکامه او ددې نفرت وړ ده چې ولسونه خو ولسونه دي نور یې په اړه دولتونه هم چپ پاتې کېدای نه شي .

دلویدیځ په مقابل کې په اقتصادي لحاظ د اسلامي نړۍ په خپلو پښو ودرول هم ددې کانفرانس یو لوی هدف و چې تر ډېره حده دې هدف ته په رسېدو کې داکانفرانس کامیاب هم ښکاري .

امریکا او نور لویدیځ له تېرو څو لسیزو راهیسې په اسلامي نړۍ کې دا خبره ډېره خپره کړې وه چې اصل پرمختګ دنظامي ډګر پرمختګ دی نه داقتصادي ډګر ددولتي مشرانو اوعامو خلکو اذهان یې داسې برابرول چې اقتصادي پرمختګ دنظامي پرمختګ تابع دی حال داچې خبره ببخې برعکس ده ؛ نظامي پیاوړتیا داقتصادي پیاوړتیا تابع ده ؛ دیو هېواد اقتصاد چې خراب وي هغه هېواد نه اتومي پروګرام پرمخ بیولی شي ؛ نه توغندي اوبنه جنګي طیارې جوړولی شي ، نه فضاته

مصنوعي قمراو راکټ پورته کولی شي ، نه دبل چانه پرمختللې جنګي طیارې ، جنګي عصري وسایل او وسلې اخستلی شي او نه هم دچاپر ضد داوږدې زمانې لپاره جنګ روان ساتلای شي ؛ دامریکا اقتصادچې پیاوړی دی ۱۸ کاله یې په افغانستان کې دا دخورا ډیروزیاتو مصارفو ډک جنګ روان وساتلو اولاهم روان دی خو دروسانو اقتصاد چې دامریکا اقتصاد ته نه رسیدلو نو ددې په نیمه موده کې یې نور په افغانستان کې دجنګ روان ساتلو توان له لاسه ورکړ.

چې دکوم هیواد اقتصاد ښه نه وي نو په مناسب شمیر کې خپل فوځ هم نه شي ساتلای.

نظامي پیاوړتیا یوائې په هغه وخت کې د اقتصادي پیاوړتیا سبب ګرځي چې په یو هیواد برید وشي او د فتح شوي هیواد ټول مالي منابع قبضه کړای شي .

دایران او عراق ترمنځ دجنګ رامنځته کولو له لارې امریکا اونور لویدیځ ددې فکر په لا زیات خپرولو کې کامیاب شو نو اسلامي نړۍ او په ځانګړې ډول دمنځنۍ ختیځ هیوادونو دخپل اقتصاد ښه کولو ته هغسې توجو ونکړه ځرنګه چې پکار وه بلکې دلویدیځ نه وسلې ، جنګي وسایل اوطیارې اخستل یې لویه کامیابي وګڼله ؛ د خپل اقتصاد یوه لویه برخه یې په همدې مصرف کړه او دلویدیځ او امریکا کارخانو ته یې ښه مارکیټ پیدا کړ.

په اسلامي نړۍ کې داسې هیواد هم شته چې په نظامي ډګرکې یې دپام وړ پرمختګ کړی ؛ اتومي ځواک هم دی خو چې اقتصاد یې په خپلو پښوندی ولاړ نو د امریکا او نور لویدیځ له لورې ورته ډېر مشکلات ایجادیږي اودآی ایم ایف او نړیوال بانک په خبر ادارو نه چې قرضونه اخلي نوهم یې لوړ سودونه اداکوي اوهم د دغو ادارو داسې شرطونومنلو ته اړ کیږي چې پکې یې دملک اوملت لپاره ډېر تاوانونه هم وي.

لنډه داچې دنظامي پرمختګ ترڅنګ اقتصادي پیاوړتیا او استقلال داسلامي نړۍ ډېره ستره اړتیا ده نوچې پدې کانفرانس کې ورباندې خبره شویده دا ډېر ښه پرمختګ دی او که پدې اړه عملي قدم هم پورته شي نو داخو به دمسلمانانو لپاره ډېره ستره لاسته راوړنه وي .

ډېری مسلمان پوهان پدې نظر دي چې دکولالمپور اوسنی کانفرانس به داسلامي نړۍ لپاره دامپد یو نوی سباوون ثابت شي ځکه چې اسلامي کانفرانس داسلامي نړۍ لپاره هغه څه ونکړل چې تري تمه کېدله ؛ داکانفرانس یوائې ترخبرو محدود شوی نو ځکه یې وجود اوس دمسلمانانو لپاره بې معنی ګرځېدلی دی .

که داسرائیلو او هند پر وړاندې اسلامي کانفرانس کلک دریځ نیولی وای نو په فلسطین اوکشمیرکې به هغه وحشت اوقبضې نه وای لکه اوس چې دي.

د دوو ژورنالستانو لنډه پېژندنه او پرتله

محسن پکتين

داچې زمور خوانان له خپل کلتور سره په نامساعد چاپېريال او حالت کې د غرب/لوېديځ پر لاس رالوی شي، غرب زدکړي ور کړي، خپل نصاب له غربي مېتودونو سره پرې ولولي او...په دې دول زمور د خوانانو دماغ مينځنه کېږي، له خپل اصل او هرڅه پردی کېږي او د خان او خپلې ټولنې په اړه يې راتلونکی پلان او موقف له هماغو پرديو روزونکو سره ترلی او له هغو څخه سرچېنه اخلي.

لوېديځ چې له يوې خوا زمور اسلامي فرهنګ، اساسات او د هغو پربنسټ ولاړ بشپړ اسلامي تمدن غلا او په خپل مېتود او چوکاټ کې يې واچول او ورسره د اسلامي فکر او فرهنګ د بدنامۍ، پېکه کولو او بدرنګې لپاره خپلې ټولې چټلتياوي او نېمګړتياوي پرمور راتپې، له بلې خوا يې همدې غرب خپلو خوانانو ته «په لوېديځ کې اسلام شته او مسلمان نه، خو په اسلامي نړۍ کې مسلمان شته او اسلام نه» ذهنيت او د دېموکراسۍ فکر ور کړل ترڅو پر سپېڅلې اسلامي ټولنه د خټېڅو چټلتياو ورتپلو وروسته همدغه چټلتياوي د اسلامي فرهنګ او مسلماني ټولنې د ضعف د نقطو په توګه وښيي او خوانان او نوی نسل غرب ته جلب او د دېموکراسۍ فکر پر ومني، او کنه چېرته اسلام او چېرته ترهګري، سخت درېځي او افراطيت، د بشري حقونو نېمګړتيا، د ښځو پر وړاندې تاو تريخوالی او داسې دېر نور...

په دېموکراسۍ کې د نظر د اختلاف قرباني جمال خاشقجي يې ښه بېلګه ده؛ هغه د اسلام او جهاد (د هغه په خبره افراطيت) د مخنيوي يواځېنۍ لاره دېموکراسي ګڼله، نږدې درې لسيزې يې پر همداسي ګڼلو قلم پرې وپلوره، لاس پښې يې ورته و وهل، په خپل هېواد سعودي کې روان مذهبي، فکري او فرهنګي انحطاط کې يې کلېدي رول ولاړه او په ټوله کې د اوسني وليعهد په کم ساړې بېلارۍ کې د سر سرۍ تمام شو، خو همدې بې دينۍ و خور، د دېموکراسۍ د افراطيت ښکار شو، ترې د بشر«نوې مېرمن چې د قونسلګرۍ مخکې ورته انتظار وه» حق يې همدې دېموکراسۍ تلف کړ او خپل دېموکرات همخيال وليعهد د دېموکراسۍ په تطبيق کې د تش نظر د اختلاف له اړمه په بلا بوړنونکې بې رحمۍ و واژه.

له دې زيات به نور نو څه وي؟! هو! هغه چې خاشقجي پرې اسلام او اسلامي ټولنه تورنوله، سره له دې چې دا په اسلام کې نه د هغه له مغز مېنځني مخکې او نه هم ترې راوروسته تر قيامته پورې شته، پر همدې ټراو لاندې د اسلامپال او دېموکرات دوو ژورنالستانو لنډه پېژندنه او پرتله را اخلو.

جمال أحمد حمزه خاشقجي: رېښه يې د ترکيې کيساري سيمې ته رسېږي پر۱۹۵۸زېږديز کال د مدېنې په ښار کې زېږېدلی، د ژورنالېزم زدکړې يې د امرېکا متحدو ايالتونو په إنډيانا پوهنتون کې کړې وې، ژورنالېستي فعاليت يې په ورځپاڼو او اونېزو کې له ليکنو راپېل کړ، په نوېيمو (له۱۹۹۱تر۱۹۹۹زېږديز)کلونو کې د افغانستان، جزائر، کوېټ، سوډان او منځني ختيځ پېښو ته په پوښښ ورکولو زيات وېپژندل شو، د نوېيمو کلونو په وروستيو کې ځلورکاله د عرب نيوز ورځپاڼې مرستيال او بيا په۲۰۰۴زېږديز کال خه کم دوه مياشتې د الوطن مدير پاڼې شو.

پر همدې کال په برطانيه او بيا د امرېکا متحدو ايالتونو کې د سعودي سفير ترکي فيصل مطبوعاتي سلاکار شو چې ورسره يې خپلې سېمه ايزو تلوېزيونو، د m.b.c او b.b.c خبرې چېنلونو او د قطر الجزيرة تلويزويون کې سياسي فعاليت کاوه، د منځنۍ ختيځ له سياست سره يې ژوره علاقه لرله او له نږدې۳۰کاله راسې يې سياسي فعاليتونه،

ژورنالیزم او لیکوالې پر مخ وړل چې په دې وروستیو کې له سعودي څخه اُمریکا ته و تښتېد او په واشنګټن پوسټ کې پر لیکنو او ژورنالیستي بوخت شو.

نوموړی په متحدو ایالتونو کې د زدکړو پر مهال د اخوان المسلمین ټینګ ملاتړی و چې بیا د۱۹۷۰زېږدیز په وروستیو کې له شیخ اسامه بن لادن رحمه الله سره پر یو مهال د اخوان ملګری شو، د شیخ اسامه نړیدې ملګری و او دواړو له افغان مجاهدینو سره ډېرې مېنه لرله چې په۱۹۸۰زېږدیز کال یې افغانستان ته ځو سفرونه هم درلودلي و.

خو له۱۹۹۰زېږدیز کال څخه یې بېرته فکري پستي پیل شوه، د افغانستان جهاد یې یوه فاجعه وبلله، مجاهدین او اسلام پال یې مذهبي افراطیان یادول او د سیمې پر وېجاړولو یې تورنول، چې د هغه په خبره باید مخه یې ونیول شي، هغه کرار کرار دومره فکري انحطاط وکړ چې په خبره یې په عربي هېوادونو کې د مذهبي اُفراطیت(جهاد او اسلامپالنې)، فساد او سیاسي اختناق د مخنیوي یواځینۍ نسخه یې دېموکراسي وګڼله، د۲۰۰۱زېږدیز کال سپتمبر۱۱ مې پېښې د غندلو ترڅنګ یې هغه پر سعودي او اسلام بریدونو یاد کړ او د سعودي حکومت چې لا له وراندې یې په افغانستان کې د مجاهدینو پر ملاتړ تورناوه په دې پېښه کې هم ښکېل وبالله، لنډه دا چې د اسلام، جهاد او افغانستان په اړه د خاشقجي ګرځنده موقف د هغه د مغز مېنځنۍ ښکارندوی او د هغه د روزونکو (امریکا) د فکر او دریځ انعکاس و.

سعودي نژاد ژورنالیست جمال خاشقجي په وروستیو کې د دې هېواد له اوسنۍ ولیعهد سره د نظر اختلاف له اُمله اُمریکا ته پناه یوړه او د واشنګټن پوسټ لیکوال شو، د ولیعهد پر کړنو او د هغه پر مشرۍ د سعودي حکومت او چارو باندې یې په خپلو لیکنو او څرګندونو کې توندې نېوکې کولې چې د یاد ولیعهد په اشاره د۲۰۱۸زېږدیز کال اکتوبر میاشتې پر۲مه د ترکیې هېواد پلازمېنه استانبول کې د سعودي قونسلګرۍ دننه د شاوخوا۶۰کالو په عمر په مرموز ډول و وژل شو.

محمودأحمد وحید مژده: ربښه یې د هېواد دپنجشېر ولایت پاراخ سیمې ته رسېږي په ۱۳۳۲لمریز کال چې له۱۹۵۴زېږدیز سره برابر وه د بغلان ولایت کې و زېږېد، د نوموړي کورنۍ د قلم او سواد خاوندان و، پلار یې عبدالحکیم مژده د شاهي نظام پر وخت یو منلی لیکوال او د اتحادملي ورځپاڼې د مسئول مدیر او د امتیاز څښتن دنده پر غاړه لرله، وحید مژده چې لومړنۍ زدکړې یې له بغلان څخه پیل کړې وې او د منځیو هغو لپاره کابل ته راغی، د کابل پوهنتون کې د کانکور له ازموینې وروسته همدلته یې پر۱۳۵۶لمریز کال چې له۱۹۷۷ زېږدیز سره برابر دی د اقتصاد پوهنځي څخه لیسانس ترلاسه کړ.

پر۱۳۵۷لمریز کال په هېواد کې د کمونېستي کودتا څخه یې ایران او پاکستان هېواد ته هجرت وکړ، د نورو مجاهدینو په څېر مژده هم پوځي، سیاسي او فرهنګي برخو کې فعالیت وکړ چې ډېر پام او ترکیز یې پر فرهنګي او سیاسي برخو ورټول و، د مجاهدینو د ډلو له را منځته کېدو وروسته د حکمتیار د حزب په برخه ورسېد، د جهادي تنظیمونو اوه اړخیز یووالي په فرهنګي برخه کې یې هم فعاله ونده لرله، وروسته یې څه موده د شهید دکتور عبدالله یوسف العزام رحمه الله په (مکتب الخدمات) کې لیکتیز او فرهنګي فعالیت وکړ.

د خپلمنځي جګړو پر مهال لومړی کور کېناست او بیا یې د ربانې رژیم په وروستیو کې د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت سیاسي او فرهنګي دندې ترسره کړې چې له هغه وروسته پېنځه کاله له طالبانو سره په همدې وزارت کې د سیاسي کارپوه او سلاکار دنده همدارنګه د وزارت اړوند مطبوعاتي خدمتونه یې پر مخ وړل، د کرزي په رژیم کې یې هم شاوخوا یو کال د هغه سیاسي سلاکار او ځینې متبوعاتي فعالیتونه لرلي.

وحید مژده له تېر۱۸کاله راسې د یو ازاد شنونکي، سیاسي فعال او څېړونکي په توګه شخصي ژوند درلود، خو داچې د یو سیاسي فعال او تحلیلګر په توګه یې د رسنیو له لارې د اشغال، دېموکراسي او هم ګودااګبتوب پردې څېرلې، د هغوی کړنې یې محکومولې، د هېواد او ملت د ښېرازۍ په پار یې پرلپسې د سولې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کولې

او پکې د هېڅ او هېڅا پروايې نکوله بيا بيا د کابل ګوداګي رژيم لوړپوړو ګوداګيو له طالبانو او پردیو استخباراتو سره د اړيکو پر تور ګوابنه چې بالآخر يې د۱۳۹۸لمريز کال لړم مياشتې پر۲۹مه د چهارشنبې په ورځ د کابل۷مه ناحيه کې د روسيې سفارت ته ځېرمه له نامالومه!! موترسائکل سپرو ځخه پر استفاده هغه مهال چې۶۶کلن وحيد مژده د ماښام له لمانځه وروسته له مسجد ځخه کور ته روان و په مرموز ډول پر شهادت ورساوه.

پرتله: د وحيد مژده او خاشقجي توپير خو د اسمان او ځمکې هومره او ببخې ځرګند دی چې پرتله يې هم کومه خواري او ډېر ژور فکر نه غواړي، د مژده زدکړې د اقتصاد پوهنځي وې خو له اوږدې مودې راسې يې د سر ترقربانۍ مذهب، جهاد، هېواد، ملت، تاريخ او په اړه يې هغه ته ور له غاړې ديني، ملي او تاريخي رسالت ته بشپړ تعهد يې د خپل وخت د ژورنالستانو او سياسونو سرلاری ترې جوړ کړ چې پکې د ځلور لسيزې په دوام کې د تاريخ له بېلګيې سختو شرائطو او تنګو ظروفو ځخه له خپل اصالت، فکر، فرهنګ او تعهد سره راتېر شو نا أتکله کراوونو او نا اندولې ستونزو ته د غړه په ځېر پر دنګه غاړه ولاړ او که سر يې ورته ټيټ کړ خو په دې دود چې پرې لاره ورکړي او هغه پرې تېر شي.

د هغه د سياسي او ژورنالیستي ژوند ټولې شېبې لکه چې ځوک يې عيني شاهد پاتې شوی او يايي د پېښو، جګړو او ناورېنونو ځخه پر اتکل مالومولی شي يو شان نه وې، په هېواد کې وخت پر وخت او ځيني مهال پر يوه وخت ډېرې واکمنۍ او واکمنان راتلل او تېرېدل، وحيد مژده ورسره سم ځان عياراوه او له ځانه يې پر خپل تخنيک د نورو مخ اړاوه چې د (افغانستان وپنج ساله سلطه طالبان) کتاب أحمدشاه مسعود ته ډالۍ کول او د کرزي رژيم په لومړيو کې رسمي دنده ترسره کول يې نه بېلګه ده، خو له خپل فکر، پرهنګ او تعهد ځخه د ژوند تر پايه نه اوښتی او نه هم لږ تر لږه پر شا شوی وه ترڅو خپل رسالت يې په بې ساري نه توګه ترسره کړ او پر همدې لاره يې له ژوند سره هم مخه نه وکړه شهيد شو.

وحيدمژده ډېرځه و، د ثور کودتا او پخواني جهاد له پيله يوه هسته وه، کرار کرار يې وزن، ارزښت او ځلا زياتېده، له هغه راسې تر اوسه يې د هېواد او ولس د ازادۍ، خپلواکۍ، سولې او ټېکاو او په ټوله کې دلته د يو رښتوني اسلامي نظام راتلو چې د نور هرځه سرچېنه ده د يواځني ارمان لپاره مبارزه وکړه او پکې له هېڅ امکان او ممکن ځخه يې مخ وانه ړاوه.

د جهاد، سياسي هلوځلو او ژورنالستي مبارزې يې يوې ډهنې نقشې چمتو کولو سره دې پايلې ته رسېږو چې هغه د پخواني جهاد له تر ټولو ژمنو مجاهدېنو او مبارزېنو ځخه و، له تنظيمي جګړو مخکې يې د مجاهدېنو په۱۷ارځېز اتحاد کې د خپلې ډلې او نورو ترمنځ له توپير پرته فرهنګي خدمت وکړ، د تنظيمي جګړو په مهال د حزب د جګړه مارو خلاف کرار پر کور کېناست، وروسته د حزب له غړېتوب سربېره د ربانې رژيم کې خدمت ته ور وړاندې شو، ورپسې له هرډول تردد او شک پرته له طالبانو سره۵۵کاله پاتې او تربل هر وخت يې مبارزه بريالۍ وه، د طالبانو سقوط هغه ته يوه ستره ننګونه وه، خو بياهم ناأميد نشو پر يوه ډالۍ او کمه موده د کرزي په رژيم کې درېدو سره يې ځان او خپل ژوند د ياد يواځني ارمان په تمه وژغورل، د ازاد او خپلواک سياست او ژورنالیستۍ نسخه يې تياره کړه، له بديلې لارې يې خپلې مبارزې ته دوام ورکړ او دا هرځه هر وخت ورته د سر په بيه تمامېدای شوه چې اخېر يې هم دابيه پرېکړه او مبارزه يې پرې پای ته ورسېده پر آفرين.

وحيد مژده چې د خپل ارمان ځرګ يې په طالبانو کې لګولی وه که ځه هم ازاد او خپلواک ژورنالیست او سياسي ځېره وه، خو بې خاره او سپېڼې وېنا، په رښتوني بڼه د حقائقو انځورَوَنې، موقف او داعيې، ژمنتيا او خپل ژورنالیستي رسالت له طالبانو سره نښلاوه، د موقف او داعيې د واکمنۍ او ځواکمنۍ ارخ يې بشپړ طالبان ول او هغوی هم ورته د يو ژمن سياسي فعال او ژورنالیست په توګه درناوی درلود، د دې ټولو ياني چې وحيد مژده له خاشقجي ځخه پر لوړ توپير وړاندې بيايي عمده لامل په کوردننه زدکړې، له پردې فکر او فرهنګ ځخه ليرې والی او پر ځان يې أغېز نه منل او اسلام او افغانيت ته ټېنګه ژمنتيا او غاړه ورکړه وه.

دا چې يو شی پر خپل ضد او عکس ښه پېژندل کېږي، نو د وحید مژده له پېژندنې وروسته د خاشقجي لازیاتې پېژندنې ته اړتیا نه لېدله کېږي. خو دومره اړینه ده چې و وایو نوموړي د خپل مذهب، هېواد، ملت او د هغوی د تاریخ پر وړاندې پر خپل ټول ژوند د وحید مژده عین عکس او سرچپه موقف درلودلی او د یو ستر غدار په توګه یې پرې کار کړی دی.

غرب زده خاشقجي له وحید مژده څخه۴کاله کشر و چې بیا یې د ژوند د پای له لوري څه باندې یو کال نور هم عمر له مژده څخه کم او لنډ شو، دوی دواړه ژورنالستان او څلور کلیمه ایز نومونه لري چې په دوهمه (أحمد) کلیمه کې هم سره شریك دي او هم دواړه د خپلو حکومتونو له لوري په مرموز ډول د عمر په شپږمه لسیزه کې و وژل شول، خو خاشقجي په لوېدیځ کې زدکړې کړې وې، د امریکا متحدو ایالتونو د ژورنالیستي پوهنځي څخه را فارغ ژورنالیست، په خدای ورکړي له مژده څخه لنډ عمر کې هم ډېر زیات واوښت را واوښت او ادل بدل شو، نه یواځې هغه بلکې لا د سعودي حکومت او چارواکو اوسني حالت ته د بدلون او تغیر مهم نقش نګار شو چې اوس یاد حکومت او چارواکي د هغه د نقش نګاري پر چتکه ژوندۍ بڼه تشریح بوخت دي او زمونږ لفظي تشریح ته اړتیا نه لري.

خو دا چې بیاهم ولې د خاشقجي وژنې یوه ستره بین المللي هنګامه راپورته او د ترکیې، أمریکا او نړیوالې ټولنې په کچه یې غوغاګډه کړه، هر یوه لویه ضائعه بلله او پر غم یې اخته و، تر لومړي تلین او له هغه را وروسته یې پرې ویر وکړ او...هغه چې د وحید مژده پر وژنې و نشوه؟! یاني هغه غوغا چې د مژده پر وژنه باید شوې وای ولې سرچپه پر خاشقجي وشوه او د مژده وژنه پر هغه چوپتیا کې پته شوه چې خاشقجي بې ور و؟! لاملونه یې په دوو عمده نقطو کې را لنډولای شو:

یو دا چې په لنډیز سره وحید مژده د افغانستان په څېر یو محکوم هېواد کې، د محکوم ملت له منځه، د حاکمو کړیو د ورکړل شوي پلان له مخې د محکوم رژیم له لوري په محکوم حالت کې و وژل شو چې نه یوه تصادفي او لومړنۍ پېښه وه، نه یې له رامنځته کېدو وروسته په اړه د غږ پورته کولو څوك و او نه هم چې چاغږ پورته کړ هغه واورېدل شو، او دا څکه چې رژیم محکوم او بیا یې مژده په خپله وژلی وي، نو ولې خپله غږ پورته کړي او څنګه د بل غږ واوري؟؟! او په کومو غوږو؟! چې حواس یې ټول د پردیو په واك کې دي.

دوهم دا چې مژده چې هرڅه و د خپل هېواد او د فیل په غوږ کې وېده ملت د مذهبي او ملي ارزښتونو لپاره و، نه د پردیو او ملګرو لعنتونو او نه هم د دېموکراسۍ لپاره، له همدې أمله له په کوردننه سېکولرانو او کمونستانو نېولې د بهر تر ملحدانو او نړیوالو بادارانو یې د ټولو له زغمه وتلی او دوی یې د یوې همدغسې ورځې په تمه و، نو د وژنې هنګامه به یې د خپل ملت له منځه (ملي هنګامه) را پورته کېدلای، خو ملت چې خپله محکوم او خپلې دې څه وکړي او څوك یې غږ واوري؟! د مژده ګوتشمېره فکري سیاسي او ژورنالیستي همسنګرانو چې غږ پورته کړهم چا وانه ورېد او دا څکه چې د مژده وژنه د یو ژمن افغان مسلمان ژورنالیست د شهادت په توګه وه او د هېواد په تاریخ کې یې لوړ ځای په خپل نوم کړ.

خو خاشقجي لکه چې پورته مو وپېژاند په ټوله مانا د مژده عکس و، هغه چې هرڅه و او حتی بایللی سر یې هم د همدغو (أمریکا، ملګرو لعنتونو او په ټوله کې دېموکراسۍ) لپاره و کوم چې یې د وژنې په نړیواله هنګامه کې لېدل کېږي، پرې غوغایې اورېدله کېږي او خاشقجي ورته د سعودي په څېر اسلامي او بدایه هېواد په تسخیر کې بارز نقش لرلی، وخت پر وخت یې د اسلام، جهاد او مسلماني نړۍ په تړاو د هغوی موقف تائید او تعقیب کړی، د امریکا په تاریخ کې د هغې تر ټولو ستر مسلمان دښمن شیخ اسامه بن لادن رحمه الله څخه ور ببل شوی، دېرش کاله یې ورته کار کړی او قلم یې پرې پلورلی، نو وژنه یې د یو دېموکرات ژورنالیست په توګه أمریکا او د هغې په چوپړ کې ملګري لعنتونه پر دېموکراسۍ ګوزار ګني او پرې أمریکا له یو نازولي دېموکرات څخه بې برخي شوې، نو څکه پرې د یوې تشې هنګامې او غوغا حوړولو ارزښت یې ورکړی، نور خو دېموکراسي د همداسي کانو او معاملو نوم دی نور نو څه دي؟! که یې واقعي قاتلان محاکمه کېدلی نو له پیله به یې وژلی نه.

ډرون ویشتلی شیخ الحدیث

شهید مولوي عبد الباقي رحمه الله

أبو عابد

په اسلامي امت د تاریخ په بیلابیلو مراحلو کې خورا سخت او بوږنوونکي حالات راغلي دي. د سختو حالاتو له جملې یوه هم په اوومه هجري پیړۍ کې په اسلامي نړۍ د چنګیز یرغل و، وحشي چنګیزیانو تر ټولو لومړی د اسلامي نړۍ په علمي پلازمینه او د ثقافت او علومو په زانګو ماوراء النهر باندې حمله وکړه. مدارس یې له منځه یووړل، خانقاه یې وسوځولې، له مساجدو یې د آسونو طبیلې جوړې کړې او د کاشغر، فرغانې، مروه، سمرقند او بخارا په علمي ښارونو کې یې زرګونه علماء کرام، مشائخ، فقهاء، مفسرین او د دیني علومو طالبانو له تیغ تېر او په سختو وحشتونو یې شهیدان کړل.

په افغانستان د غربي تاړا کګرو اوسني یرغل ته که پام وکړو او د دغو وحشیانو لخوا ترسره کیدونکې جنایات په دقیق ډول وارزوو، ویلی شو چې دغه یرغلګر هم تر چنګیزیانو کم نه دي. دوی هم د علم، فقاهت، تمدن او اسلامي فرهنګ ډېرزړي دښمنان دي، چې یوازې په تېر کال کې یې تر سلو ډېر مساجد نړولي او لسګونه مدارس یې په بمونو تخریب کړې دي، له دې علاوه یې ګڼ شمیر د دیني علومو مدرسین، د قرآن کریم مفسرین، محدثین او د مدرسې طالبان او حفاظ هم په شهادت رسولي دي.

د تېر کال د شهیدو شویو مشائخو له جملې یو هم شیخ الحدیث مولوي عبدالباقي صاحب و، هغه عالم، مدرس او د احادیثو استاد چې د امریکایي ډرون الوتکې په ناترسه برید کې یې د شهادت جام نوش کړ او د دورة الحدیث طالبان یې نیمه خوا پاته شول.

شهید شیخ الحدیث مولوي عبدالباقي صاحب د د مرحوم ملا محمد کریم زوی او د پکتیکا

ولايـت د متاخـان ولسـوالی د شـنک د کـلي اوسيدونکی و. نوموړی په يوه علمي خانـدان کـې زيږيدلی و، پلار يې هم د سيمې يـو پيژنـدل شـوی عالم و چې د شنک په ملا صاحب يې شهرت درلود. مولوي عبدالباقي صاحب ابتدائي درسونه له خپـل پلار څخه لوستي او تـر شـپږم تـولګي پـورې يـې عصري زده کړې هم کړې وې. د ثـور لـه کودتـاه وروسـته يـې کـورنی پاکسـتان تـه هجرت وکـړ. نوموړي خپله د زده کړو سلسله پـه ډيـره اسـمعيل خـان، کوهـاټ او نـورو سـيمو کـې پـه بيلابيلـو مدارسو کې ترسره کړه او د يـوه ممتـاز فاضـل پـه حيث يې د حديثو اجازه ترلاسه او د فراغت دسـتار وتاړه.

د کمونيزم پر خلاف د جهاد له بريـا وروسـته نوموړی افغانستان ته راغی، په ګردیـز کـې يـې د شهيد مولوي نصرالله منصور صاحب تر سرپرستی لانـدې پـه نـور المـدارس الفاروقيـه مدرسـه کـې تـدريس پيـل کـړ او دوه کالـه يـې دوام ورکـړ. ورپسې يې د پکتيکا ولايت د متاخان ولسوالی په لغړو سيمه کې په مشـهوره مدرسـه کـې تـدريس وکړ او ګڼ شمير شاګردان يې وروزل.

کله چې د شر او فساد په وړانـدې د طالبـانو اسلامي خوځښت پيل شو، شهيد مولوي عبدالباقي صاحب ورسره ملګری شو او د اسلامي امـارت پـه چوکاټ يې ګـڼ مسؤليتونه پـه پـوره اخـلاص او فداکاری، ترسره کړل. له دې جملې پـه پيـل کـې د غـرني ولايـت د مسـتوفي پـه حيـث وټاکـل شـو. ورپسې په کابل کې د معـادنو او صـنائعو وزارت اړوند د نساجي افغان عمومي رئيس وټاکل شو او وروسته د اسلامي امارت د ترانسـپورت وزارت د مرستيال په حيث وګمارل شو. خو د رسمي وظائفو او مسؤليت سره سره شهيد شـيخ صـاحب تـدريس هم نه و پرې ايښی، د نوموړي په زړه کې لـه علـم او تدريس سره داسې مينه او شـوق و چـې لـه هـر څومره بوختياوو سره سره يې هم تـدريس تـه خپـل وخت ورکاوه او همیشه يې د ديني علومو تـدريس جاري ساته. د نوموړي د همدې تدريسي- تسلسـل برکت و چې له رسمي اداري وظائفو سره سره د يوه مـنلي مـدرس او شـيخ پـه حيـث هـم وځليـد چـې وروسته يې د تفسير او احاديثو د علومو پـه برخـه کې ستر خدمتونه انجام کړل.

په افغانستان لـه امريکـايي يرغـل وروسـته نوموړي په خپلـه سـيمه متاخـان او زرمـت کـې د ديني علومو تدريس ته مخه کړه او پـه دې مرحلـه کې يې ګڼ شمير طالبان وروزل. وروسته نوموړي د زرمت د کلالګو په سيمه کې په ضـياء المـدارس مدرسـه کـې لـومړی د وړې دورې او وروسـته د لويې دورې د شيخ الحديث پـه حيـث خـدمت پيـل کړ.

د نبوي مبارکو احادیثو د تدریس تر څنګ نومورې د ټولنې د اصلاح، دیني فکر د خپرولو او د عامو خلکو د ستونزو د حل په برخه کې هم د پام وړ فعالیت درلود او په خپله سیمه کې د یوه مصلح، خیرخواه او خواخوږي عالم په حیث یې وظیفه اجراء کوله.

تر دې چې د ۲۰۱۹ میلادي کال د جولای میاشتې په وروستۍ نیټه په داسې حال کې چې په خپل کلي کې د قران کریم له ختم څخه خپل کور ته د ستنیدو په حال کې و او له یوه تن بل هیوادوال سره په موټر کې سپور و، په موټر د امریکایي بې پیلوټه الوتکې لخوا حمله وشوه، چې په نتیجه کې یې شیخ صاحب د شهادت لوړ مقام ته ورسید.

د عیني شاهدانو له قوله شیخ صاحب د ډیر مظلومیت په حالت کې شهید شو، د ډرون له حملې سره موټر اور واخیست چې ورسره د شیخ صاحب مبارک بدن هم وسوځید... واقعا چې ډیر د تأسف ځای دی. هغه سپیڅلی انسان چې د ژوند ټول مصروفیت یې د قرآن او احادیثو تدریس او د ټولنې خیر او اصلاح و په داسې ناترسی وربانديې برید کیږي او په دومره ظلم په شهادت رسیږي.

د شیخ صاحب ټول کار او مصروفیت د دیني علومو تدریس و، هغه کومې نظامي شخص نه و چې دښمن ته یې د ویشتلو بهانه په لاس ورشي، بلکې یوازې د قرآن مفسر او د احادیثو استاد وو. دا چې بیا هم نومورې د امریکایي ډرون لخوا په نښه شو، معنی یې دا ده چې امریکایي یرغلګر او ګوداګیان یې یوازې وسله په لاس مجاهدینو ته ترهګر نه وایي، بلکې د دوی دښمني له ټول اسلام او اسلامي علومو سره ده، نو ځکه خو هغه خلک هم په شهادت رسوي چې ټوله مشغولا یې له کتاب او علم سره وي.

د شهید شیخ صاحب د خصوصیاتو په اړه په لنډو ویلی شو، چې نومورې د تقوی، تواضع او اخلاص یو مجسم مثال و. له پریانه علم سره سره الله تعالی زیاته تواضع هم ورکړې وه، د تقوی او دیانت یې دا حال و چې د یوه شاګرد په وینا یې کله به چې یو درسي ساعت خلاص شو، د بل کتاب د شاګردانو تر راتګ پورې به نومورې په خپل ځای انتظار نه کاوه، بلکې په همدې لنډه وقفه کې به له ځایه پورته شو او الله تعالی ته به په نفلي عبادت ودریږد، په ډیر تواضع او خشوع به یې نفي عبادت وکړ تر څو به شاګردان را پوره شول او بیا به یې درس پیل کړ. الله تعالی دې د جناب شیخ صاحب شهادت او ټول علمي خدمتونه په خپل دربار کې قبول او د ده برکت دې الله تعالی د ده په شاګردانو کیږدي.

آمین یا رب العلمین.

د شهید مولوي محمدالله فاروقي

تقبله الله ژوند ته کتنه

ترتیب: خطیب

افغان خاوره او افغان ملت یو ځانګړی حیثیت لري، دلته چې څوک پریږغل راشي د جهاد له اُمله پرې دا خاوره تنور او دولس بچیان مو پرې تندر شي، دلته له څلور لسیزې زیات وخت راسي بیابیا له تلوالي او ډله ایزو یرغلګرو سره جګړه شوې، پرزېدلي او همدلته اپره شوي دي، ورسره دې خاوري دیوې بټۍ حیثیت غوره کړی او ملت پکې داتلولي تجربې پخې کړې، هو! دلته ځینې یرغلګرو هم په مغزو کې دا خیال له ځانه سره راوړی و چې رابشي جګړه اپزه تجربه به ترلاسه کړي، خو دې بخت ازمایني ترې سرونه وخوړل ماغزه یې همدلته توی او دغه خام خیال تر خاورو لاندې شو.

زمونږ د ملت مجاهدو پرګنو که له یوې خوا د هغه اصیل بچیان د خپل اولاد او نسل په توګه پرې اېښي له بلې خوا یې جهادي فکر او هر اړخیزې تجربې هم پر میراث ور پاتې دي، له نېکه څخه پلار ته، له هغه څخه زوی ته او له زوی څخه لمسي ته له هرېوه د هغه ځانګړې او تجربې له معاصرو او شخصي زیاتونو سره پر تناسلي او توارثي دول رارسېدلې چې پر مټ یې موږ د هر تیري ځواب پر نره کړی او کوو به یې ان شاءالله، لاندې دیو شهکار مجاهد پر ژوند څو کرښې کاږم چې پلار یې هم د پخواني جهاد مخکښ قوماندان و، هو شهید مولوي محمدالله فاروقي تقبله الله د خپل پلار د اتلولیو نووښتګر قوماندان.

زوکړه: شهید مولوي محمدالله فاروقي تقبله الله د ملا بهاءالدین زوی، پر قوم ګداخېل او پر ۱۳۵۰هـ لمریز کال د لوګر مرکز ولسوالۍ د قلعه غفار کلي په یوه دېنداره، علمي او جهادي کورنۍ کې نړۍ ته سترګې پرانېستې، له شوروي یرغل څخه د هجرت په لړ کې یې کورنۍ پر ۱۳۶۰هـ لمریز کال د هغه په لس کلنۍ د ګاوندي هېواد خیبر پختونخواه ایالت مانسهرې ضلعې ته هجرت وکړ او د افغان کډوالو په پنډغالي (خاکي کېمپ) کې مېشت شول.

زدکړې او تدریسي بهیر یې: له نړدې پینځه کلنۍ یې د کلي له ملا امام څخه زدکړې پیل کړې او سپاره او قرآنکریم یې ولوستل، وروسته د خاکي کېمپ د مهاجرینو نعمانیه نومې مدرسې ته د لومړنیو زدکړو لپاره داخل شو، ورپسې یې د پېښور چراټ سېمې جامعه محمدیه مدرسه، د ټل سرحدي سیمې درسمند کې، د جلال آباد درونټې مدرسه او په هېواد دننه او بهر نورو مدرسو کې منځنۍ زدکړې سرته ورسولې، خو د جهادي بوختیا و له اُمله پکې له اوږد ځنډ سره مخ شو.

پر ۱۳۸۰هـ لمریز کال امریکایي یرغل څخه شهید فاروقي تقبله الله د زدکړو دیو نوي چانس په توګه ګټه پورته کړه چې پر همدغه کال یې بیرته هجرت وکړ او پر راتلونکي ۱۳۸۱هـ لمریز کال یې د ټل په عربیه دارالعلوم کې له مرحوم شیخ الحدیث معزالحق صاحب

رحمه الله څخه وړه دوره وکړه، ورپسې يې پر ۱۳۸۲هـ لمريز کال د پختونخوا په مشهوره ديني درسګاه دارالعلوم حقانيه اکوړه خټک کې شيخ القرآن والحديث حضرت مفتي محمد فريد زروبوي رحمه الله او نورو استادانو څخه لويه دوره وکړه او همالته يې د ۱۴۲۵ سپوږمیز کال په رجب المرجب کې چې له ۱۳۸۳هـ لمريز او ۲۰۰۴ زېږديز سره برابر وه د فراغت سند ترلاسه او د ملايي پکړی يې وترله.

له فراغت سره سم شهيد فاروقي تقبله الله دوه کاله (۸۵- ۱۳۸۴هـ لمريز) د پېښور هزار خواني په دارالعلوم الاسلاميه کې تدريس وکړ، خو دا چې پر دوهم کال د مجاهدينو يوه ډلګی ورله غاړې شوه، غوښتل يې په سيمه کې پاتې او د درسونو ترڅنګ جهادي فعاليتونه هم وکړای شي، همغه وچې پر ۱۳۸۷هـ لمريز کال يې د لوګر مرکزي ولسوالي په کجی سيمه کې د شهيد مولوي محمدولي حقاني تقبله الله په مرسته ديوې مدرسې بنسټ کېښود او دغه کال يې همدلته درس وکړ.

د اَمنيتي ګوابښونو له اَمله يې درسونو دوام ونشو کړای، نو د همدې ولسوالي دوغ آباد په نوم يوه بله سيمه کې يې د شهيد مولوي محمدولي حقاني په مشری د خالد بن وليد په نوم مدرسې بنسټ کېښود او همالته يې درسي چاري پيل کړې، خو د ۱۳۸۹هـ لمريز تعليمي کال له بشپړېدو لږ وړاندې د لوګر مرکز اړوند کلنګار سيمه کې له اشغالګر دښمن سره په يوه مخامخ نښته کې شديد ځخمي شو چې تداوي يې تر دوه کاله وخت ونېوه.

د جهاد پيل يې: شهيد مولوي محمدالله فاروقي تقبله الله په افغانستان کې د اسلامي امارت له رامنځته کېدو سره سم هېواد ته راستون شو او په ۱۳۷۶ هـ لمريز کال يې د ننګرهار په درونته کې زدکړې کولې چې د مشرتابه له لوړې درسو طالبانو ته د شمال جنګي کړنو ته د تللو اَمر وشو. شهيد فاروقي تقبله الله چې په مدرسه کې د لوګر طالبانو خپل صدر نومولی وه د هېواد شمال ته لاړ او د دغه وخت د کابيسا ولايت جهادي مسئول شهيد مولوي محمدخوشحال ملنګ تقبله الله پر مشری يې په ګڼ شمېر عملياتو کې برخه واخېسته، د شمالي ولايتونو د زياتر فتوحاتو ګډونوال و، د اسلامي امارت په وروستيو کې د دغه وخت د مجاهدينو لوی درستيز ملافاضل آخند سره و او تر اشغال پورې ټوله موده يې د جګړې په ګرمو سنګرونو کې تېره کړه، خو له اَمله يې د دغه په درسونو کې هم اوږد ځنډ رامنځته شو.

د اسلامي امارت له سقوط وروسته د نورو طالبانو په څېر فاروقي تقبله الله هم زدکړو ته مخه کړه، خو موده نه وه تېره چې د صليبي اشغال په وړاندې يو ځل بيا نوی جهادي بهير اعلان او بيا پيل شو، دا چې امکانات او د جګړې چانس د پخوا په پرتله ډېر کم او د نوې جګړې څرنګوالی لا هم پوره څرګند نه و، نو له خال خال غلچکي بريدونو او تکتيکي چاودنو څخه ياد بهير راپيل شو او ترڅنګ يې د تېټ پوړ مجاهدينو پر راغونډولو، سمبالښت، د جګړې د کميت او کيفيت ارزونه او ورته نوبو تيارېو کار کېده چې له ښه مرغه پر لږ وخت په ټولو برخو کې پرمختګونه رامنځته، امکانات نسبي پراخ او جګړه ايز فعاليتونه معياري او ګړندي شول.

شهيد فاروقي تقبله الله د شهيد مولوي ميراَحمدګل هاشمي تقبله الله پر مشری د ياد بهير له لومړنيو شېبو د دغه برخوال و، د وړې او لويې دورې او بيا څه موده تدريس ترڅنګ يې له کلنيو، اختريزو او ځيني نورو غير مترقبه رخصتيو څخه پر ګټه اخېستنه جهادي

فعالیتونه تر سره کول چې بیا د هغه لوړي جهادي سویې او نووښتګرو فعالیتونو ته پر کتو پر ۱۳۸۵هـ لمریز کال د شهید میر صاحب هاشمي تقبله الله تر مشري لاندې یوه بېله ډلګۍ ور له غاړي کړله شوه چې د ژوند تر وروستۍ سایې مشر پاتي او له هغه وروسته یې شاته پرېښوده.

دا چې شهید فاروقي تقبله الله د پخواني امارت له وخته یو غښتلی، تجربه کار او باتور مجاهد و جهادي فعالیتونه یې بریالي، مشري یې مثالي، کارنامې یې بېخي زیاتي او په دې ځای کې له ټولو بشپړه یادونه ناشونې ده، هغه د خارجي دښمن په موندلو او تر بریدلاندي نېولو ډېر حریص و.

د لوګر ولایت اړوند لومړی أمریکایې ټانګ د مرکزي ولسوالۍ اړوند بابوس سیمي په بابوسو لګډ کې فاروقي تقبله الله والوزاوه او له ۴ سپرو سره یې بشپړ ټوټې ټوټې کړ، دغه رنګ کلنګار د کلاحوض خان سیمه کې د هغه په مشرۍ د امریکاچک ایالت پر اشغالګرو یو کمین و وهل شو چې د شپې مهال ۱۲ بجې ورسره مخ شول، د یو ساعت جګړې په دوام کې د اشغالګر دښمن ۴ ټانګونه له سپرو سره له منځه یوړل شول چې سباورځ ولسي وګړو د دوه وژل شویو اشغالګرو سرونه د غنمو پټیو کې موندلي وه، په دې کمین کې د برکي برک ولسوالۍ شهید مولوي اسماعیل مظلوم تقبله الله هم برخوال و چې هغه مهال د فاروقي تقبله الله ملګری و.

همدا رنګه پر ۲۰۰۸ زېږدیز کال یې د u. n تبشېري/عېسویت ته د بلني موسسې هغه درې لوړپوړې ښځېنه غړې چې د افغان مېرمنو د بېلارۍ لپاره یې کار کاوه لومړی له پکتیا څخه تعقیب او بیا یې د غرمې ۱۱ بجې د لوګر مرکز اړوند کلنګار کلارحمت په سیمه کې د هغو پر لنډ کروزر موټر برید وکړ او درې واړه یې و وژلې، دا برید دومره رسا وه چې د امریکا د هغه مهال ولسمشر بوش او د برېتانیا لومړي وزیر ته یې زورور ټکان او صدمه ورسېده او ورسره ګوډاګۍ اداره هم د اشغالګرو تر فشار لاندي راغله ترڅو د لویې لاري پر سر مزدور عسکر و ګوماري.

شهید فاروقي تقبله الله د ډلګۍ مشري او جګړه ایزو فعالیتونو ترڅنګ د اسلامي امارت په تشکیلاتو کې یو کال د لوګر مرکزي ولسوالۍ په استازیتوب د ولایتي کمېسیون د غړي او یو کال هم د همدې ولسوالۍ د ملکي مسئول په توګه دنده تر سره کړې وه، له هغه پرته یې وروستي ۷ کلونه پرلپسې پر ۱۳۹۱هـ لمریز کال د ازرې ولسوالۍ د نظامي کمېسیون رئیس، پر ۱۳۹۲هـ لمریز د خوښي ولسوالۍ د نظامي مسئول، پر ۱۳۹۳هـ لمریز د محمدآغې ولسوالۍ د نظامي کمېسیون رئیس، پر ۱۳۹۴ او ۹۵هـ لمریز دوه کلونو د برکي برک ولسوالۍ نظامي مسئول، پر ۱۳۹۶هـ لمریز یو ځل بیا د خوښي ولسوالۍ نظامي مسئول، پر ۱۳۹۷هـ لمریز د څرخ ولسوالۍ نظامي مسئول او روان ۱۳۹۸هـ لمریز کال یې یو ځل بیا د ازرې ولسوالۍ د نظامي مسئول دنده تر سره کړې چې ټوله موده یې له بشپړ شوق، اخلاص او متانت سره سرته رسولې او له آمله یې د یادو ولسوالیو مجاهدېنو په ګډون ګرد ولایت او چاچې هغه پېژاند د ټولو په زړونو کې ځای درلود.

شخصیت یې: د شهید فاروقي تقبله الله په اړه د ملګرو تأثرات او له هغه څخه لرلې خاطرې زیاتي دي، پر هغه باندي الله تعالی ډېر څه پېرزو کړي وه، هغه یو د دنګو اخلاقو، لوړ جهادي فکر، متین هوډ، غوڅ دریځ او مبتکر رول څښتن شخص وه، له میړاني سرشاره، په جګړه ایزو چارو پوه قوماندان، زړور او شهکار مجاهد

وه، ستونزو او شرائطو ته د سرټیټی. تمه ترې کله هم نه کېده، هغه د ایثار او فداکاری نمونه وه او په هرڅومره نامساعدو شرائطو کې له ملګرو نه بېلېده، د ستونزو په وړاندې مقاومت او نارمل اوسېدل یې یوه بله ځانګړنه وه، هغه ته لکه چې الله تعالی د سنګر د فتحي ویاړ ور بښلی وه هغسي د منبر سړی هم وه.

یو ملګری یې وایي: پر ۲۰۰۸ زېږدیز کال یو ځل د لوګر مرکزي ولسوالۍ کمال خېلو کلي کې و، چې د شپې ۹ بجې د دښمن چورلکي ډېري ګرځېدې او فکر کېده پر موږ چاپه وي، موږ درې ملګري و د تللو پرېکړه مو وکړه او په موټر کې مو د محمدآغې ولسوالۍ پر لور حرکت وکړ، د واغجان تنګۍ منځ کې د پوستې مخ ته أمریکایان ولاړ و، څومره چې ور نږدې کېدلو لېزر یې راباندي اچاوه، ماور ته ویل څنګه کوو؟ فاروقي تقبله الله ویل پر ورځو، که یې و درولو برید پر کوو، ملګری وایي له ماسره کلاشینکوف او له هغه سره کرینکوف و، مرمۍ مو ور وستې، خو چې ور نږدې شوو پر ته له دې چې ومو دروي ترې تېر شوو.

شهید فاروقي تقبله الله د مشرانو بېخي زیات درناوی او اطاعت کاوه، د لائحو پابند او د اسلامي امارت اهدافو ته یو ژمن مشر وه، هغه د ځان ستاینه نه خوښوله، پر جهادي لاسته راوړنو یې نه ویاړل بلکې هغه یې یواځې د الله تعالی نصرت باله، له ولسي خلکو سره تعامل او برخورد یې خورا صمیمانه او پر مېنه، همدردۍ، درنښت او شفقت ولاړ و، له ملګرو سره چلند یې هیڅ آمرانه بڼه نه درلوده بلکې د ملګرو له منځه یو فرد به ښکارېده، یو ملګری یې وایي چې کله به د شپې مهال له فاروقي تقبله الله سره و نو موږ به ډېر مطمئن ځکه و چې پیره به ټوله شپه هغه خپله کوله، نورو ته یې د پیرې اجازه نه ور کوله.

شهادت یې: دا چې که څه هم شهید مولوي محمدالله فاروقي تقبله الله بهرني او کورني دښمن د ځان لپاره یوه ستره سرخوږي ګڼله او جدي یې تر څار او پاملرني لاندي ساته، خو هغه به د خپلو مسئولیتونو او مصلحتونو پر بناء د دښمن د نفوذ ساحه کې د شپې مهال پاتي کېده، د شهادت په ورځ هم د ماښام له لمانځه وروسته له څلور نورو ملګرو (مولوي أمان الله خادم، قاري محمدغازي حمزه، طالب العلم حکمت الله یاسر او محصل حکمت الله طه) سره په یو موټر کې د مرکز اړوند له پلرني کلي کلاغفار څخه د کلنګار په لور روان و چې د الوزیو په سیمه کې د اشغالګرو د بې پیلوټه الوتکي تر برید لاندي راغلل او د روان ۱۳۹۸هـ لمریز اسد/زمري میاشتي پر ۲۶مه چې د ۱۴۴۰هـ سپوږمیز ذوالحجې/لوی أختر له ۱۶مې سره برابره وه د شهادت دنګ مقام ته ورسېدل، انالله و اناالیه راجعون.

شهید فاروقي تقبله الله تر شا دوه وروڼه، د پېنځو زامنو په ګډون څو اولادونه، یوه تور سرې او د ۵۰ تنه مجهزو مجاهدینو ډلګۍ پرېښوده، روح یې ښاد او یاد یې تل پاتي اوسه.

له ملا عبدالباقي آخند (حاجي بابا) او مولوي خلیل أحمد ثابت صاحب څخه په منتې.

سید سعید

جنګي جنایتونه (دسمبر)

د ۲۰۱۹ز، کال د ډسمبر دمیاشتې په لومړۍ نیټه د خوست ولایت دمرکز او علي شهرو ولسوالۍ ترمنځ په غځېدلې لاره باندې یرغلګرو دملکي وګړو دسپرلۍ پر موټر ډرون حمله کړې، چې له امله یې د یوه کور شپږ تنه غړي شهیدان شوي دي. پینځه داسي مهال رامنځته شوې چې دیادې شوې کورنۍ غړي په ښار کې دماشوم له زیږدلو وروسته دخپل کور پر لور روان وو، د عیني شاهدانو په وینا په دې پیښه کې درې ښځې، دوه سړي او یو نوی زیږدلی ماشوم له منځه تللي دي.

د ډسمبر په لومړۍ نیټه د پکتیکا ولایت د سرحوضه ولسوالۍ د مارزکو په کلي کې ګډو ځواکونو دچاپې په مهال درې تنه ولسي- وګړي شهیدان کړي دي.

د ډسمبر په لومړۍ نیټه د کاپیسا ولایت د تګاب ولسوالۍ د بدراب درې په افضل خېلو کلي کې حکومتي الوتکو یو مسجد بمبار کړی او څلور تنه ملکي وګړي یې پکې شهیدان کړي دي.

د ډسمبر په ۲مه د فاریاب ولایت د لولاش ولسوالۍ په لاشي سیمه کې دحکومتي قواوو دتوپچي په ډزو کې دمسجد یوه برخه ویجاړه شوې او پکې درس ویونکي اووه تنه ماشومان ژوبل شوي دي.

د ډسمبر په ۵مه د ارزګان ولایت دمرکز ترینکوټ د پای ناوې په خنجک سیمه کې یرغلګرو او حکومتي قواوو دملکي خلکو پرکورنو چاپه وهلې، ګڼ شمېر ولسي وګړي یې شکنجه کړي، درې تنه یې بندیان کړي او بیا یې پر سیمه بمبارکړی چې له امله یې دوولس تنه ملکي هیوادوال شهیدان او دوه تنه ټپیان شوي دي.

د ډسمبر په ۵مه د فاریاب ولایت دبلچراغ ولسوالۍ په مرکزي سیمه کې د داخلي عسکرو د

هاوان په ډزو کې درې تنه ملکي وګړي شهیدان شوي دي.

د ډسمبر په ۵مه دهلمند ولایت دمرکز لښکرګاه د څلورمي حوزې په باباجي سیمه کې یرغلګرو دولسي خلکو د سپرلۍ پر موټر ډرون برید کړی چې له امله یې درې تنه ملکي وګړي شهیدان شوي دي.

د ډسمبر په ۱۰مه د لوګر ولایت د برکي برک ولسوالۍ په باغک کلي کې دحکومتي ځواکونو دهاوان په ډزو کې څلور تنه ماشومان شهیدان شوي دي.

د ډسمبر په ۱۴مه د کندهار ولایت د خاکریز ولسوالۍ په لام سیمه کې ګډو ځواکونو دچاپې په مهال شپږ تنه ولسي وګړي شهیدان او ټپیان کړي، یو شمېر خلک یې وهلي او تهدید کړي او دولسي خلکو نقلیه وسایط یې سوځولي دي.

د ډسمبر په ۱۴مه دغور ولایت د دولتیار ولسوالۍ د اولاد خواجه دسمک په سیمه کې دیرغلګرو او حکومتي ځواکونو په بمبارکې دوه نارینه، یوه میرمن او پنځه تنه ماشومان شهیدان شوي، دوه مسجدونه او پنځه دیرش کورونه زیانمن شوي او پر دې سربیره خلکو ته ډیر مالي تاوان هم رسیدلی دی.

د ډسمبر په ۱۵مه د پکتیا ولایت د سیدکرم ولسوالۍ په جهانګیر خیلو سیمه کې داشغالګرو په ډرون حمله کې درې تنه ولسي وګړي شهیدان شوي دي.

د ډسمبر په ۱۵مه د لغمان ولایت د قرغیو ولسوالۍ په فرمانخیلو کلي کې ګډو ځواکونو دملکي خلکو پرکورونو چاپه وهلې، د شوونځي یو ز ه کوونکی یې شهید کړی، یوه ښځه یې ژوبله کړې او څلور تنه ولسي وګړي یې بندیان کړي دي. خلکو ددې پېښې په غبرګون کې دکابل-جلال اباد لار دترافیکو پر مخ ټرلې وه او دپېښې دعاملینو دمحاکمه کولو غوښتنه یې کوله.

د ډسمبر په ۱۵مه د فراه ولایت د مرکز فراه ښار په کوچني دهیک سیمه کې دحکومتي عسکرو دهاوان په پیرونو کې دوې میرمنې او یو سړی شهیدان او څلور تنه ټپیان شوي دي.

د ډسمبر په ۱۶مه اشغالګرو او داخلي عسکرو دکندهار ولایت دشاولیکوټ ولسوالۍ د چنار د سپین کیچې په سیمه کې دچاپې په مهال اته تنه ولسي وګړي شهیدان کړي او څلور نفره یې بندیان کړي دي.

د ډسمبر په ۱۶مه دفراه ولایت د بالابلوک ولسوالۍ په شیوان سیمه کې حکومتي عسکرو د یو باربري موټر چلونکی شهید کړی دی.

د ډسمبر په ۱۶مه د غور ولایت د دولتیار ولسوالۍ د سمک په سیمه کې دګډو ځواکونو په بمبارکې څلویښت کورونه ویجاړ او زیانمن شوي او دښځو او ماشومانو په ګډون یو نا معلوم

شمبر ولسي وګړي پکې شهيدان او زخميان شوي دي.

د ډسمبر په ۱۷مه د ننګرهار ولايت د حصارک ولسوالۍ په جوکان سيمه کې داخلي عسکرو يو ملکي وګړی شهيد کړی دی.

د ډسمبر په ۱۷مه د ننګرهار ولايت د خوږيانو ولسوالۍ په نکړخېلو سيمه کې يرغلګرو او حکومتي عسکرو د چاپې په مهال د لونګ او نعمت په نوم دوه تنه ولسي وګړي شهيدان کړي، يو کلينيک او ګڼ شمېر دوکانونه يې ويجاړ کړي او خلکو ته يې پراخ مالي تاوانونه رسولي دي.

د ډسمبر په ۱۸مه د خوست ولايت د اسماعيل خيلو ولسوالۍ په ډاډ والو سيمه کې دکمپاين داخلي عسکرو يو ديني عالم (مولوي عبدالحکيم) شهيد کړی دی.

د ډسمبر په ۱۹مه د کنړ ولايت د شلطن ولسوالۍ د مانو کلي کې د ۰۴ عسکرو دامير عثمان په نوم يو ملکي وګړی، مور او ميرمن يې شهيدان کړي، ماشومان يې ژوبل کړي او کور يې لوټلی دی.

د ډسمبر په ۱۹مه د ننګرهار ولايت د خوږيانو ولسوالۍ دتور غر په بېټنيو کلي کې ګډو ځواکونو دچاپې په مهال اووه تنه ملکي وګړي شهيدان کړي او دماشومانو په ګډون يې څو تنه ژوبل کړي دي، بريد داسي مهال شوی چې په نښه شوي خلک په خپل پټي کې په کار بوخت وو.

د ډسمبر په ۲۳مه يرغلګرو او داخلي عسکرو دارزګان ولايت دمرکز ترينکوټ مربوط شاه منصور سيمه کې دولسي وګړو پر کورونو بمبار کړی، چې له امله يې يو شمېر کورونه وران شوي او د ځلورو کوچنيانو په ګډون لس تنه ملکي هيوادوال شهيدان شوي دي.

د ډسمبر په ۲۴مه ګډو ځواکونو د کاپيسا ولايت د نجراب ولسوالۍ په غ، پچه خان او افغانيه دره کې دچاپې په مهال ۸ تنه ملکي وګړي چې ميرمنې او کوچنيان هم پکې دي شهيدان کړي او ۴تنه يې زخميان کړي دي.

د ډسمبر په ۲۸ رسنيو خبر ورکړ چې د کندز ولايت دمرکز په بزکندهاري سيمه کې د ګډو ځواکونو په څو ورځينو عملياتو کې ديارلس تنه ملکي وګړي شهيدان او تپيان شوي، ځيني کورونه ويجاړ او زيانمن شوي او خلکو ته ډير مالي زيانونه رسيدلي دي.

ډډسمبر په ۲۹مه د کندوز ولايت مرکز د بزکندهاري په تپه علي سيمه کې ديرغلګرو په بمبار کې ځوارلس تنه ولسي هيوادوال شهيدان شوي او يو نامعلوم شمېر نور تپيان شوي دي.

مأخذونه: [بي بي سي راډيو، ازادی، افغان اسلامي اژانس، پژواک، خبريال ويبپانه، لراوبر، نن تکی اسيا او بينوا]

د مورچل وږمۍ

غزل

#عرفان الله عرفاني

اوس مې هم يو لاس کې توره بل کې ډال دی
دا مې فن دا مې هنر دا مې کمال دی

له فطرته مې نفرت له غلامۍ دی
ما په سرو وينو کټلی استقلال دی

پرما پاتې ځواب ځکه دچا نشته
ما حل کړی دهر چا پېچلی سوال دی

لا مې غشي دغليم په ټټ خښ دي
ما مات کړی د هرعصر هر دجال دی

ډېر سرمسته مې له زوره غورځولي
ورشه ويي کړه پوښتنه څه يې حال دی

له جهاد اوله جنګونوستړي نه يو
له پخوانه مو کلک عزم لوړ مورال دی

پر اُفقو پورته شوې بيا سپېدې دي
د تورتم زړه کې بل کړی مو مشال دی

(عرفاني) چا چې زمونږه سيالي کړې
اوس په حال د تنزل او د زوال دی

نبِيُّ السَّيف

" عُقابي جانان "

رب رالېږلی دی رحمت د سپينې تورې سره
شان يې له هر چا دی اوچت د سپينې تورې سره

بدر، احد يې د اخلاقو او سيرت برخه ده
مسلمان کړی يې امت د سپينې تورې سره

يا مسلمان شئ يا ذميان او يا قتال ته تيار
تبليغ دی فرَض او سنت د سپينې تورې سره

تورو، نيزو اعداد يې کړی نبوي مسجد کې
مونځ هم لري ډېر فضيلت د سپينې تورې سره

نبِيُّ السَّيف او مَلاحِم د پاک رسول القاب دي
الله ﷻ يې کړی دی بِعثت د سپينې تورې سره

اصحابان هم واړه غازيان وو او د دين زمريان
شوی يې ښکلی تربيت د سپينې تورې سره

د شريعت د نفاذ ښکلي او شرعي لاره ده
بايد قائم کړو امارت د سپينې تورې سره

زه " عُقابي جانان " چې کله د رسول صفت کړم
بيانوم به يې سيرت د سپينې تورې سره



غزل

عاکف امارتي

د سیاسي خبرو پربکړه لـۀ دفتره کوو
که څوک جګړه غواړي جګړه هم ښه په نره کوو

چاته د سولې جوړجاړي خولې وروړلې نـۀ شو
د فتحې غږ په هسکه غاړه لـۀ سنګره کوو

مونږ آزادي ته د ګلاب په شان زلمي ورکړي
د هغه وینو إحترام آن تر محشره کوو

زمونږ په دریځ د هیڅا زور او زر اثر نکوي
هر حرکت د اسلامي دین له نظره کوو

(اِن جَنَحُوا) او (قَاتِلُو) احکام مو دواړه زده دي
خو د إسلام نعره لـۀ هر یوه ډګره کوو

غربیان به وزي او نظام د شریعت به راځي
مونږ هم اول هم په آخر کې داخیره کوو

(إمارتي عاکفه) ان شاء الله فتحه راځي
په هېواد والو باندې زیری له قطره کوو

تجارت

هاشم سادات

داسې قانون داسې نظام باندې دې اور ولګي
تور پکې سپین شي او په سپینو باندې تور ولګي

ستا په سینه کې چې احساس د بل د اوښکو نشته
زړه دې خوږمن شه دغه بم دې ستا په کور ولګي

ته په شرابو کې غرق پروت یې دا یقین مې نشي۔
چې ستا په غوږو د مظلوم ولس دا شور ولګي

عزم مې کړی تر منزله رسوم به کاروان
پروا مې نشته که تورونه په ما نور ولګي

تاپسې ډیرو خویندو میندو بد دعا کړې ده
زر ده چې ستا د ظلم جام به اوس نسکور ولګي

هاشمه ! چې شه د دې خلکو تجارت بندیږي
د امن غږ به دلته بد په ډالر خور ولګي

۲۰۱۹ زکال

د دسمبر د میاشتې جهادي خبرونه

۱. پنجشیر
۲. کاپیسا

تېر ۲۰۱۹ میلادي کال کې د اسلامي امارت د نورو ادارو په څېر د دعوت او ارشاد کمیسیون فعالیت هم بارز او له لاسته راوړنو ډک وو، د دښمن اړوند د ګڼو برخو زرګونو افرادو خپلي وسلې په ځمکه کېښودې او له اولس سره له دښمنۍ یې لاس واخیست ، اسلامي امارت یې تود هرکلی ورکړ او ټولو ته یې د آرام او هوسا ژوند د برابرو وعده ورکړه، تسلیم شویو کسانو له ځانونو سره مختلفي وسلې هم مجاهدینو ته تسلیم کړي دي.

د همدې کال په اوږدو کې ټول ټال ۹۷۳۷ تنه کارمندان تسلیم شوي دي او په سلګونو مېله سپکې او درنې وسلې او پوځي مهمات مجاهدینو ته تسلیم کړي دي.

کندهار

ارغنداب کې یو مزدور عسکر ووژل شو

د کندهار ولایت دارغنداب ولسوالۍ اړوند د دامانې په سیمه کې داسحاقزي دپوستې یوتن مزدور عسکر دلیزر په مټ وویشتل شو اوخای په خای ووژل شو، وروسته په یاده پوسته دراکټونو برید ترسره شو چې مزدور دښمن ته پکې تلفات واوښتل. ۲۰۱۹/۱۲/۱

ښارکې یو مزدور افسر ووژل شو

د کندهار ولایت د مرکز کندهارښار اړوندد ځوارلسمې حوزې اړونـد دشـراکت مېوې مخې تـه دمـزدورې اداري دپولیسو یوتن ګوډاګی افسر دغلچکي برید په ترخ کې یوتن خای په خای ووژل شو. ۲۰۱۹/۱۲/۱

خاکریزکې یوه شوبله اوموټر ویجاړ مزدور دښمن ته مرګ ژوبله واوښته

دکندهار ولایت دخاکریز ولسوالۍ اړوند د سیاسنګ درې په سیمه کې دمزدور دښمن دموټریزکاروان یوه شوبله د ماین په وسیله ویجاړه اوپکې سپاره ګوډاګیان ټول ووژل شول، همداراز په یاد کاروان برېدترسره شو چې په پایله کې یې یو کماز موټر ویجاړ اوپکې ناستوګوډاګیانوته مرګ ژوبله واوښته. ۲۰۱۹/۱۲/۲

ارغنداب کې په پوسته برید ۷ ګوډاګي عسکر ووژل شول

دکندهار ولایت د ارغنداب ولسوالۍ اړوند د هدېرې په سیمه کې مزدورو عسکرو په پوسته برېدترسره شو، دبرید په پایله کې ۷ تنه ګوډاګي عسکر خای په خای ووژل شول. ۲۰۱۹/۱۲/۲

میوندکې ۲ مزدور عسکر دلیزر په مټ ووژل شول

دکندهار ولایت دمیوند ولسوالۍ اړوند د کلاښامیر د لوی کاریز په سیمه کې د پوستې ۲ تنه ګوډاګي عسکر دلیزري وسلو په مټ وویشتل شول اوخای په خای ووژل شول. ۲۰۱۹/۱۲/۲

شاولیکوټ کې شوبله ویجاړه ۲ مزدور عسکر قتل مهمات یې ونیول شول

دکندهار ولایت د شاولیکوټ ولسوالۍ اړوند د بادغسرې په سیمه کې دمزدورو عسکرو په شوبله چاودنه ترسره شوه، دچاودنې له امله شوبله ویجاړه اوپکې سپاره ۲ تنه ګوډاګي عسکر خای په خای ووژل شول، ددښمن یوه دهشکه، یو کلاشینکوف اویو دورځې دوربین دمجاهدینولاس ته ورغلل. ۲۰۱۹/۱۲/۲

میوندکې ۲ مزدور عسکر ووژل شول

دکندهار ولایت د میوند ولسوالۍ اړوند د بیبانک په سیمه کې دمزدور دښمن په پلې ګزمه دویشتونکي ماین چاودنه ترسره شوه چې په پایله کې

یې ۲ تنه ګوډاګي عسکر خای په خای ووژل شول. ۲۰۱۹/۱۲/۲

کندهارښارکې یو مشهور ظالم قومندان (عثمان) ووژل شو

د کندهار ولایت دمرکز کندهارښار اړوند د نهمې حوزې د سیمانو پله ته ځیرمه دغلچکي برید په ترخ کې یوتن مشهور ظالم قومندان (عثمان) چې په ارغستان کې دیوې پوستې قومندانۍ ورله غاړې وه ووژل شول. ۲۰۱۹/۱۲/۲

بولدک کې دمزدور دښمن په پوسته برید شوی

د کنـدهار ولایـت د بولـدک ولسـوالۍ اړونـد د سُـرکې لیرې په سیمه کې دمزدور دښمن په پوسته بریدترسره شو چې په مهال یې دښمن ته تلفات واوښتل. ۲۰۱۹/۱۲/۳

کندهارښار کې یو مزدور افسر دماین په چاودنه کې ژوبل شو

د کنـدهار ولایـت دمرکـز کندهارښـار ا ړونـد د محلـه جـات پـه سـیمه کـې دمـزدورې اردو یـوتن ګـوډاګی افسر(میراجان) د تکتیکي ماین په چاودنه کې ژوبـل شـو. ۲۰۱۹/۱۲/۳

ژړی کې ۴ ګوډاګي عسکر ووژل شول

دکنـــدهار ولایـــت د ژړی ولســـوالۍ اړونـــد د کتـــې نانې په پوسته برید ترسره شو، دبرید په پایله کې ۴ تنه مزدور عسکر خای په خای قتل شول. ۲۰۱۹/۱۲/۳

ارغنداب پوسته فتح ۳ مزدور عسکر پکې ووژل شول

دالفتح عملیاتو په لړکې کندهار ولایت دارغنداب ولسوالۍ اړوند د سیاسنګ درې په سیمه کې دمزدور دښمن په پوسته بریدترسره شو، دبرید په پایله کې پوسته فتحه،۳ تنه مزدور عسکر خای په خای قتل پاتې یې په تېښته ولاړل. ۲۰۱۹/۱۲/۳

خاکریز کې رینجر ویجاړ دقومندان په شمول ۵ عسکر پکې ووژل شول

دکنـدهار ولایـت دخـاکریز ولسـوالی اړونـد د شـوري غونډې په سیمه کې دمزدورو عسکرو په رینجر موټر چاودنه ترسره شوه، دچاودني له امله رینجر ویجاړ اوپکې د مزدور قومندان خاکسار په شمول ۵ تنه ګوډاګي عسکر ووژل شول. ۲۰۱۹/۱۲/۳

کندهارښارکې رینجر ویجاړ قومندان ژوبل ۳ ساتونکي بې ووژل شول

